


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو شعر

# عروضي نظام

OWNED BY 0300 9792115

نقيب الله سالک
ککي بنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



# كتاب پېژندنه


د كتاب نوم ------------------------- د پښتوشعر عروضي نظام

ليكوال ------------------------------ نقيب الله سالك

اشاعت ------------------------------ اګست ، ۲۰۱۴

شمېر ------------------------------ پنځۀ سوه (۵۰۰)

كمپوزر ------------------------------ نقيب الله سالك

نظر ثاني ------------------------------ فرهاد محمدغالب ترين

ټايټل ------------------------------ زاهد امين زاهد

بيعه ------------------------------ دوه سوه (۲۰۰) روپۍ

چاپخانه ------------------------- دانش خپرندويه ټولنه،پېښور


OWNED BY 0300 9792115

د موندلو دركونه :

حمزه بك ډپو چوك بازار بنو،

صمدليه كتب خانه،غله منډي چوك بنو،

يونيورستي بك ايجنسي خېبر بازار پېښور،

پښتو اكېډمي بك شاپ پېښور يونيوستي

ابواحمد حافظ رحمت الله كتبخانه وكمپوزنګ سنټرملتان ككي بنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوق د ليکوال پۀ حق کښې محفوظ دي

# ليکوال

نوم ---------------------------------------- نقيب الله

قلمي نوم ---------------------------------------- سالک

د استوګنې ځاي ------------------------------ ککي بنو

تعليم ---------------- ايم - ايس - سي ( اقتصاديات ) ،

بي - ايډ

پيشه ---------------------------------------- ملازمت

OWNED BY 0300 9792115

موبائل ---------------------------------- 03009792115

ايميل ---------------- salekhashimi@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تړون

د ارواښاد میاشرف
او د
ښاغلي درویش دراني

په نومونو
چا چې د پښتو شعري خزانې نه د
خپلو عروضو اثاثه
را برڅېره کړه -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مننه

د محترم سلیم قرار صیب د ګټورو ادبي مشورو ډېر شکر ګذار یم -

د ښاغلي فرهاد محمد غالب ترین صیب ډېره ډېره مننه کوم چاچې د خپلومنصبي فریضو او کورني ضرورتونوسره په دې نیولي وخت کښې زما دې کتاب "د پښتو شعر عروضي نظام" نظر ثاني کولو ته پوره پوره وخت ور بخښلو او زهٔ یې په خپلو قدر منو مشورو باندې ولمانځلم او د نظرثاني نه علاوه یې په دې کتاب خپل تاثرات قلمبند هم کړل او زما د کتاب ښائست یې یو په دوه کړو- د ګران رشید جوهر صیب د ادبي خدماتو او د قدر شناسي هم ډېره مننه کوم چا چې د مسودې د لیلو په وخت په ملا ټپولې یم او په دې کړلېچنې لارې کښې یې د لارې هوارولو په لړ کښې راسره نهٔ هېرېدونکې هڅې کړې دې-

OWNED BY 0300 9792115

کوموملګرو چې زما کتاب ته موجوده صورت ورکولو کښې په یوې یا په بلې طریقې زما مرستې کړې دي هغه مې په خپلې حافظې کښې خوندي کړې دي خو دلته یې د نومونو ذکر کافي ګنم: دمسازشاهین ، ډاکټر وهاب روان ، راست عمل ظهیر، روح نیاز سیفي ، اصف ککي، فرید پیرخیلي، ابو احمد حافظ رحمت الله ککي ، فراز پیرزاده ، ظفر پیرخېلي ،سیف الله شاه سیفل ، پروفېسر جاوېد احساس ، پروفېسر عمرقیاز قائل،پروفېسر ډاکټر حافظ شمس الدین ، اقبال حسرت، عبدالسلام بېتاب عادلوي،عبدالسلام تابش،روئدارعلي شاه روئدار، شاهد خان شاهد ، ارشد منډان ، رشید جوهر ، عبدالرحمان شاه ساګر ، دلکشور محصور ، غازي سیا ل ، منیب راحل ، زاهد امین زاهد ، سلیم قرار ، عمر دراز مروت، پروفېسر (رېټائرډ) حمید الله جان ، ډاکټر حارث حمید،انجنیئر محمد نعمان خان ، انجنیئر جنېد خان او محب الله خان -

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرس

مشکل سرخط (فرهاد محمد غالب ترين) ---------------------- ۱۲
خپلې خبرې ------------------------------------------ ۲۰
اول باب : علم عروض او پښتو ته راتګ -------------- ۲۵
د عروضو پېژندنه (تعريف) او تاريخ ---------------------------- ۲۵
پښتو ته د عروضو راتګ ---------------------------------------- ۳۰
دويم باب : د علم عروض اصطلاحات -------------- ۴۵
سپلاب (څپه) ---------------------------------------------------- ۴۵
خج (فشار) ------------------------------------------------------ ۵۲
رکن (غونډ) ----------------------------------------------------- ۵۷
مصرعه ---------------------------------------------------------- ۶۱
وزن ------------------------------------------------------------ ۶۴
بحر ------------------------------------------------------------ ۶۹
دريم باب : تقطيع او د تقطيع قاعدې ---------------- ۷۲
تقطيع ---------------------------------------------------------- ۷۲
د تقطيع قاعدې ------------------------------------------------ ۷۳
څلورم باب : د پښتو شاعرۍ دوديز بحرونه ------------ ۸۵

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library




اوړد رکني بحرونه ---------------------------------------- ۸۵

لومړے اوړد رکني بحر ---------------------------------- ۸۶

لومړے ښاخ ---------------------------------------------- ۸۶

دویم ښاخ ----------------------------------------------- ۸۸

دریم ښاخ ----------------------------------------------- ۹۰

څلورم ښاخ ---------------------------------------------- ۹۲

دویم اوړد رکني بحر ------------------------------------ ۹۵

لومړے ښاخ ---------------------------------------------- ۹۵

دویم ښاخ ----------------------------------------------- ۹۷

دریم ښاخ ----------------------------------------------- ۹۹

څلورم ښاخ ---------------------------------------------- ۱۰۲

دریم اوړد رکني بحر ------------------------------------ ۱۰۶

لومړے ښاخ ---------------------------------------------- ۱۰۷

دویم ښاخ ----------------------------------------------- ۱۰۹

دریم ښاخ ----------------------------------------------- ۱۱۱

څلورم ښاخ ---------------------------------------------- ۱۱۳

څلورم اوړد رکني بحر ----------------------------------- ۱۱۵

لومړے ښاخ ---------------------------------------------- ۱۱۵


OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



دو يم  ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۱۷
در يم  ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۲۰
څلورم ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۲۴
پنځم اوږد ركني بحر ---------------------------------------- ۱۲۷
لومړے ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۲۸
دو يم  ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۳۰
در يم ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۳۲
څلورم ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۳۴
پنځم ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۳۶
لنډ  ركني بحرونه ---------------------------------------- ۱۳۹
لومړے لنډ ركني بحر ---------------------------------------- ۱۳۹
لومړے ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۴۰
دويم ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۴۲
دريم ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۴۳
دو يم لنډ ركني بحر ---------------------------------------- ۱۴۴
لومړے ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۴۵
دو يم  ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۴۶
در يم  ښاخ ---------------------------------------------------- ۱۴۸

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم لنډ رکني بحر ---------------------------------- ۱۴۹
لومړے ښاخ ------------------------------------------ ۱۵۰
دويم ښاخ ------------------------------------------- ۱۵۲
دريم ښاخ ------------------------------------------- ۱۵۴
اخذ ليک (کتابيات) ------------------------------------ ۱۵۶

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مشکل سرخط

هره علمي ليکنه ګرانه وي، خشکه وي؛ څنګه چې يې ليکل وخت غواړي، کړاو غواړي او د ډېر محنت او شواخون نه پس ليکلې کېږي ، دغه شان يې لوستل هم ګران وي - سوچ او فکر پرې کول غواړي - چرته چې پرې بنده پوهه نۀ شي ، پېراګراف دوباره لوستل غواړي - د دې پۀ مقابل کښې د داستان ، قيصې يا ناول ليکل که هر څو ګران دي خو لوستل يې ډېر اسان دي ، ليکل يې هم ډېر سرخوږے نۀ غواړي او لوستل خو يې لۀ هر څۀ نه اسان دي - هم دغه وجه ده چې علمي ليکونه کول هم کم دي او د علمي ليکنو لوستل هم د لږو او شاذو خلقو کار دے او بيا پۀ تېره پۀ پښتو کښې خو که يو اړخ ته علمي ليکنې کمې دي، بلکه د نثر ليکنه پکښې لا هم کمه ده نو بل اړخ ته يې لوستونکي هم ډېر زيات کم دي - پۀ پښتو ادب کښې زياته برخه د منظومو اثارو ده او د پښتو منظومات واقعي چې پۀ هر لحاظ د معيار او مقدار لۀ رويه غني حيثيت لري -

محترم نقيب الله سالکؔ صاحب پۀ هغه عالمانو فاضلانو او پوهانو کښې دے چې د علمِ عروض غونډې پۀ يو مشکل او تر څۀ حده پورې "متروک" سرخط يې ډېر غوره ، مدلل او پۀ زړۀ پورې ليک کړے دے او بيا پۀ پښتو شاعرۍ کښې يې د عروضو مختصر تاريخ بيان کړے دے - مختصر ورته ځکه وايم چې پۀ پښتو شاعرۍ کښې عروضي شاعري ډېره کمه ده نو تذکره به يې ضرور

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمه وي - "میاشرف " ورځ لیکوال دے چې پۀ پښتو کښې یې پۀ عروضو کتاب دے - چې یو غوره کوشش وو ، خو د میاشرف نه پس بل چا پۀ دغه لار تګ و نۀ کړو' وجه یې څرګنده ده چې یو خو دغه لار "پلِ صراط" وو او بل پښتنانۀ لۀ هر اړخه پۀ مشکلاتو کښې ګېر وو- او علمي کارونه امن، خوشحالي او سوکالي غواړي چې پښتون قام ترې لۀ بده مرغه پۀ هره زمانه کښې محروم دے -

زمونږ محترم لیکوال د نورو ژبو د عروضو د حوالې ورکولو سره سره اهم کار دا کړے دے چې مثالونه یې د پښتو ادب نه ورکړي دي او د عربي عروضو نظام سره یې د پښتود تطبیق د پاره ځان ډېر زیات کړو دے ځکه چې د هرې ژبې څۀ خوبۍ او خامۍ وي - رښتیا خبره خو دا ده چې پۀ حقیقت کښې د یوې ژبې نه بلې ژبې ته ترجمه هم پۀ اصلي معنو کښې نۀ شي کېدې ځکه چې د هرې ژبې پۀ شا د دغه ژبې د ویونکو یو تهذیب او کلتور دے او د تهذیب او کلتور سره تعلق لرونکي اصطلاحات وي نو د یو تهذیبي او کلتوري اصطلاحي نظام ترجمه چېرې هم ممکنه نۀ ده - نو عرض مې دا دے چې د عروض علم د عربۍ ژبې دننه زیږون موند دےاو د عربۍ ژبې پۀ مناسبت سره یې ارتقاء کړې ده نو هغه د پښتو سره پۀ تطبیق کولو کښې ډېر مشکلات لري ځکه چې د دواړو ژبو تر منځه ډېر توپیر دےخو نقیب الله سالکؔ هم پۀ دغه مشکل قابو موند دےچې دا د لیکوال پۀ دغه علم د قدرت یو ځلنده مثال دے اود

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو د ادب او ژبې د مطالعې يې څرګند دليل دے۔

مصنف د عربی عروضو نه علاوه د ځينې نورو ژبو د عروضو هم ذکر کړے دے۔نو رښتيا خبره دا ده چې ټولو مشرقي ژبو کښې د شاعرۍ د پاره ځۀ قواعد او ضوابط موجود وو او هغوي د خپلې شاعرۍ منضبط کولو دپاره ځينې اصول ټاکلي وو۔ جابرعلي سيد د انګرېزي عروض خامۍ او خوبۍ پۀ تفصيل سره بيان کړې دي هغه وايي چې د انګرېزي عروضو(metre) د وزن بنياد پۀ دوه څيزونو دے ؛ يود لفظونو اجزاء او د دوي خفي يا بلند (اوچتېدل) يعني (quality syllables) ، دا د وزن مقدم شرط دے او دويم د دوي شمېره (quantity)۔ جابرعلي سيد يې بيا تفصيل بيان کړے دےاو د انګرېزي عروض يو خصوصيت يې دا هم بيان کړے دے چې د زياتو الفاظو پۀ وزن کښې د راوستو دپاره هغه پۀ يو کره توګه نۀ شي ادا کو او اخېري حروف يې پۀ تادي (جلدۍ) ادا کول او مخکښې تلل لازمي وي beasts , fields وغېره د دغه قبيلې الفاظ دي ۔ او دا يې هم ليکلي دي چې پۀ انګرېزي عروض کښې د تقطيع عمل هم ډېر اوږدوا لري ۔ مونږه خو ارکان پۀ عمودي کرښو کښې تقسيموو او دغه کافي ګڼو ليکن پۀ انګرېزۍ کښې د کرښو (لکيرو) نه علاوه د هر جز دپاسه د هغې د نوعيت څرګندولو دپاره علامت – ، ^ هم لګول وي چې شمېره يې د لسو او اتو نه کمه نۀ وي۔

د هندي عروضي نظام پۀ باره کښې ډېر کم معلومات دي۔

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجه يې دا ده چې دغه لور ته زمونږ عالمانو هيڅ توجه نۀ ده کړې -او هندي علوم د البيروني نه علاوه چا د پام ور نۀ دي ګڼلي- البته عظمت الله خان پۀ دغه لړ کښې کار کړے دے - د هغه وېنا مطابق هندي عروض چې "پنګل" نامه لري، پۀ هغې کښې هم د انګرېزي پۀ شان خفي جز يعني "ماترا" پۀ يو حرف مبني وي، پۀ "دوهه" کښې ټول اتۀ ځلوېښت ماترا وي پۀ هره مصرعه کښې ځلېريشت ځلېريشت (۲۴،۲۴) او پۀ "سرسي" بحر کښې اوويشت (۲۷) ماترا وي چې کافي طوالت لري- د بحرالفصاحت مصنف نجم الغني د دريو ژبوعربي، فارسي او هندي د مشترکه بحرونو يادونه کړې ده- چوپايي بحر د سريع مشابه دے، تربهنګه د متدارک سره او بهجنګک پريات د متقارب هم وزن بحر دے

زۀ پۀ اخيره کښې پۀ عروض باندې ځينې عمومي خبرې د جابرعلي سيد د دائره معارف اسلاميه څخه را نقل کوم چې ځينې وضاحتونه دي او زما پۀ خيال ضروري هم دي-

ا - د الحريري او ابنِ خلکان دا قياس د هغوي ذاتي مفروضه ده چې ګني خليل د عروضي اوزانو پۀ تشکيل کښې د ټټك د اواز نه اثر واخيستو- د اوازونو چې څۀ اندروني صوتي او عروضي نظام نۀ وي ، د هغې نه د خليل د مستفيد کېدو امر ډېر لرے وا لري وجه يې دا ده چې عروضي نظام د متحرکو او ساکنو حروفو يو سخت ګيره سلسله ده چې د زياتو رعاياتِ زماني د وصف

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرلود خپل ساخت سختوالي لۀ وجې سرغړونه نۀ شي کولې، بلکه نور هم سختېږي او پېچيده کېږي- حقيقت خو دا دے چې د وضع کونکي پۀ وړاندې د ف ع ل ماده وه چې وړاندې د صرفي اوزانو انحصاروو، خليل پکښې دغه تصرف وکړو چې د صرفي اوزانو مفيد حرکات او سکنات يې ازاد او عمومي کړل دغه شان صوتي اوزان خالصاً معنوي اوزان شول هرکله چې عروضي اوزان خالصاً د اهنګ نمونې (rhythmic patterns) وګرځېدې -

۲ - د حمزه اصفهاني دا دعویٰ صرف د حسد وجه معلومېږي چې خليل علم النغم پۀ علم العروض بدل کۀ او پۀ ظاهره يې د يوۀ نوي علم بنياد کېښودۀ، دا سراسر بې دليله خبره ده، پۀ دې وجه چې علم النغم کښې ايقاع بنيادي جوهر وي چې هغه د شعري اوزانو د ساخت نه زيات مبسوط او مختلف النوع وي - خليل که څۀ هم پۀ علم النغم کښې ماهر هم وو نو هم يې د مذهبي وجوهاتو پۀ بناء پۀ خپل وضع کړي شوي علم کښې لۀ دغه شرع کښې ممنوع علم نه استفاده نۀ شوه کولې -

۳ - د بحرونو د استخراج پۀ لړ کښې د متدارک مؤجد ابوالحسن اخفش الاوسط (م – ۲۲۱ هج) ذکر نۀ شي کو د اخفش پۀ نزد د خليل مجوزه فواصل معتبر بالذات اصول نۀ دي ځکه چې فاصله صغریٰ چې پکښې درې متحرک او يو ساکن راځي پۀ اصل کښې د يو سبب ثقيل او د يو سبب خفيف نه مختلف نۀ دي؛ مثلاً لفظ "ضربت" چې د خليل پۀ نزد

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاصله صغرىٰ دے پۀ اصل کښې د سبب ثقيل "ضر" او سبب خفيف "بت" مجموعه ده - د نجم الغني پۀ وېنا د اخفش مذهب ايراني عروضيانو غوره کړۀ او فاصله يې غېر ضروري اصول وګرځوله -

۴ - د بحر معنىٰ د سمندر ده، څنګه چې سمندر ته څو دريابونه ور غورزېږي او ورسره يو ځاى کېږي دغه شان پۀ بحر کښې هم څو وزنونه شامل وي -

۵ - د علل اصطلاح لۀ يوې لويې مودې نه د زحاف پۀ اصطلاح کښې ضم شوې ده -

۶ - دا خبره منلې شوې او څرګنده ده چې پۀ عربي ، انګرېزي او يوناني عروض کښې بنيادي فرق د نبره ( ictus ) دے د شمېر څو مثالونه داسې تر لاسه کېږي او هغه هم (جبريه) چرته چې ځينې عروضي اصول يا ارکان د انګرېزي الفاظ سره اهنګ يو کوي ،د مثال پۀ توګه که چېرې مونږ د عربي لفظ "لک" (سبب ثقيل) د انګرېزىَ د "city" يا "pity" ( ټروکاي رکن ) برابر وګڼو چې پۀ څرګنده صحيح ښکاري خو بيا هم زمونږه سماعت به دا ګواهي ورکوي چې د " city " يا "pity " لهجه د "لک" نه پورته واقع کېږي دغه شان د انګرېزي لفظ "piteous" لهجه د عربي لفظ "ضربت" نه زياته اوچته ده -

۷ - د يوناني ژبې پۀ عروضي نظام يوروپي عروضي نظام اډانۀ دے پکښې د نبره وجود مشتبه دے خو دا اشتباه يو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عروضي ماهرينو ته شوې ده ګڼي پۀ عامه توګه يوناني عروض لهجه دار (accentual) منلي شوي دي چې short يې unaccented او long يې accented منلي شي ليکن پۀ دغه اصولو کښې لچک هم شته اګرچه د انګرېزئ شاعر کولرج (Coleridge) يې پۀ اصولي توګه short، unaccented او long يې accented مني -

۸ - د عربي شعر د بحورو او اهنګ سراغ د صحرايي اوښې د تګ سره تطبيق کول ، چې څينې مستشرقينو لکه هارټ مان چې کوم کوشش کړے دے ، هغه د قياس نۀ لرې خبره ده او د عروضي حرکاتو سره نۀ خوري -

څينې نورې هم ډېرې خبرې شته ، خو د محترم سالک صاحب پۀ عروض شوے دا کتاب د ډېرو سوالونو پۀ خپله جواب دے- دوي چرته خو ډېر تفصيل بيان کړے دےاو چرته يې د ډېر اختصار نه کار ا دے - خو دا موضوع ډېره پېچيده ،ګرانه او سرخوږې موضوع ده او د سالک صاحب نه چې څۀ توقع کېدې شوه پۀ ډېره احسنه طريقه او پۀ عام فهم انداز کښې يې د دغه موضوع احاطه کړې ده - پۀ عربي او فارسي او تر څۀ حده پورې پۀ اردو کښې پۀ دې موضوع ډېر کار شوے دے او پۀ دغه ژبو کښې پۀ دغه موضوع ډېر څۀ تر لاسه کېدے شي خو زما پۀ خپل خيال پۀ پښتو کښې د مياشرف نه پس د درويش دراني صاحب او د نقيب الله سالک صاحب کتابونه زمونږ خو پوره کو نۀ شي، خو تر څۀ حده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږه لاربښودنه کو شي او په خاصه توګه د سالک صاحب د عروضو علم د کافي مطالعې نه پس د هغوي نه په دې لړ کښې د ډېر څۀ امید لر شو-

الله دې وکړي چې د سالک صاحب دا کوشش د پښتو ژبې،پښتون قام او د واړه پښتونخوا په ښۀ ورشي ،او الله دې وکړي چې سالک صاحب زمونږ د ژبې د علمي موضوعاتو د کمي په لور پام وکړے شي او دا ژبه په علمي موضوعاتو غني کولو کښې خپلې هڅې جاري وساتي - الله دې د دوي عمر ، علم او د علم خدمت جذبه تانده او ژوندۍ وساتي - امین - والسلام

OWNED BY 0300 9792115

فرهاد محمد غالب ترین خوېشکي

صدر مرکزي پښتو ادبي جرګه ، ضلع نوښار

۱۲مارچ ۲۰۱۴ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

د نن نه څو کاله مخکښې مې د فېس بک پۀ وال باندې يو غزل ورکړے وو- پۀ هغې غزل باندې د ملګرو تبصرې راشروع شوې- علي زمان وزير هم زما د فېس بک ملګرے وو- د دۀ تعلق د ډومېل سيمې سره وو او استوګنه يې پۀ کراچي کښې کوله- دے د پي ائ اې ملازم وو او د شاعرۍ ذوق يې هم ځوان وو- علي زمان وزير چې خپله تبصره زما پۀ غزل راپوست کړه نو پۀ هغې کښې يې داسې ليکلي وو ؛

"لکه انار د ننه خون خون يم
پۀ مسکاخلۀ مې ژاړل ډېرکم دي

وروره ! تاسو د دې شعر دو يمې مصرعې ته فکر وکړئ مانه يې پۀ بحر کښې څۀ ستونځه ښکاري نو ځکه يې رواني هم اغيزمنه شوېده"-

ما د څۀ فکر نه پس پۀ دې مصرعه کښې داسې بدلون وکرو :

هم که پۀ خلۀ مې ژاړل ډېرکم دي

او دا مصرعه مې پۀ فېس بک کښې دويم ځل پوست کړه - علي زمان وزير بيا پۀ خپله تبصره کښې وليکل چې اوس يې رواني سمه شوه - نو ما ترېنه تپوس وکړو چې "دا څۀ راز دے ؟ پۀ دواړو صورتونو کښې د سېلابونو شمېر هم يو شان دے"- نو دۀ پۀ جواب

OWNED BY 0300-9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېږي ولیکل چې هسې د تجربې پهٔ بنیاد را ته ستونځه ښکاره شوه نور تاسو ښهٔ پوهېږئ -

د دې خبرې نه پس زما پهٔ زړهٔ کښې د تجسس او تلاش ، د څېړنې او شننې ا زغي مات شول- چې څهٔ منطقي عوامل ا و ساینسي دلایل دلته هم کار فرما دي چې د یوهٔ شمېر سېلابونو پهٔ دوو مصرعو کښې ، صرف د ټکو پهٔ بدلون سره بحر اغیزمن کېږي- تلاش او شننې مې شروع کړې - ملګرو ، شاعرانو ، استاذانو ، ژبپوهانو او کتبخانو سره مې اړیکې تینګې کړې او د علم عروض باقاعده مطالعه مې هم شروع کړه - پهٔ دې دوران کښې به مې د مطالعې نه قاعدې راایستلې او پهٔ شعرونو بهٔ مې عملي کولې - پهٔ دغې کار کښې به سوالونه هم پیدا کېدل هغه سوالونه به مې د ادب ( اردو، پښتواو د عربی ) استاذانو ته لېږل - او دوي به دخپلې پوهې او د تجربې پهٔ بنیاد جوابونه رالېږل-

اردو ، عربي او انګرېزي ژبې د ادب کلهم ضرورتونه پوره کوي - خو ماته پهٔ لیکلې شوي صورت کښې د پښتو عروضو ایله څو کتابونه پهٔ لاس راغلل- د پښتو د عروضو پهٔ لړ کښې اروابناد میاشرف ، ښاغلي دروېش دراني او مجاور احمد زیار داسې انکشافات کړي دي چې د پښتو ژبه یې د دنیا نورو ترقیافته ژبو سره سیاله کړه او د دوي دا کارنامې به همېشه دپاره ژوندۍ وي -او زما پهٔ خیال کښې دوي لومړي پوهان دي چا چې د پښتو شعري خزانې نه د خپلو عروضو اثاثه را برڅېره کړه - لهٔ دې وجهې که مونږ دا دواړه

OWNED BY 0300-9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبپوهان د پښتو " د عروضو اِمامان" وبولو نو څۀ مبالغه به نۀ وي- د دوي تصنيفات د پښتو د عروضو هرا ړخيزه او تفصيلي ضرورتونه پوره کوي - نن د د غو تصنيفاتو پۀ برکت د پښتو شعرهغه کمي پوره شوه کوم ته چې شاعرانو او پوهانووخت ګوتې نيولې وې يعني د "يوۀ باقاعده عروضي نظام نشت والي ته "-

خو دا هم يو حقيقت دے چې څۀ خو د عروضو علم انتهايي مشکل دے او څۀ مونږ شاعران هم تن اساني خوښوو- هم لۀ دې وجهې دغې علم ته لکه څومره چې پکار ده هغومره توجه نۀ ده ورکړې شوې- چې چا سره هم د عروضو پۀ باب زما خبرې شوې دي نو چا به ورته مشکل کار ووے ، چابه ورته غير ضروري پۀ دې وجه ووے چې زمونږ ضرورتونه د موسيقۍ د طرزونو نه پوره کېږي ، چا به دا ووے چې د پښتو شاعرۍ عروضي نۀ ده- پۀ دغو ورځو شپو کښې ماته د خپلې منزل لاره هواره شوې وه ، خوشحالۀ راسره د عروضو مواد زياتېدل او څۀ مې دا احساس هم ملګرے وو چې دا مواد د وخت تېرېدلو سره را نه ضايع نۀ شي اوخوندي يې وساتم - چونکه پۀ پښتو ادب کښې د نثر برخه (پۀ خاصه توګه د عروضو برخه) ډېره کمه ده نو د موادو د خوندي ساتلو د پاره مې دې اړخ ته پام شو چې دا هر څۀ پۀ ترتيب سره سم او داسې صورت کښې وليکم چې نوي کهول ته د عروضو علم يو پردے او بيګانه ونۀ ښکاري بلکه دا علم دوي ته د يوۀ خپل او د ضروري علم پۀ توګه

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېش کړے شي، په داسې حال کښې چې په پښتو ادب کښې د نثر په میدان کښې کار هم کم شوېدے او بیا په علمي موضوعاتو باندې د لیکلو خو ډېر ضرورت هم دے۔

یوه ورځ مې د اداره تخلیقات په یوهٔ تقریب کښې جاوېد احساس صیب سره دا خبره کوله چې بنو د نثر په تخلیق کښې ډېر کمزورے دے زهٔ غواړم چې په عروضو څهٔ لیک وړاندې کړم نو جاوېد احساس صېب راته ووے چې ډېره ښه او اړینه خبره ده خو د اسانولو کوشش یې هم وکړه۔

دا څو محرکات وو چې د دې کتاب په لیکلو مې پېل وکړو۔ په دې کتاب کښې مې د عروضو انتهایي ضروري توکونو(تاریخ ، راتګ ، اصطلاحات ، تقطیع او بحرونه) د راښولو کوشش کړېدے، ورسره مې د تقطیع هغه قاعدې هم راښولې کړې کومې چې د پښتو ویونو (ټکو) او ځانګړې لهجې سره اړخ لګولې شو۔ د دې کار په موده کښې مې د لنډولو (اختصار) او د اسانولو لارې هم په پام کښې ساتلې وې۔

یاده دې وي چې د عربۍ عروضو د رکنونو خپل نومونه دي او د بحرونو خپل ، خو چونکه په پښتو ژبه کښې د دې علم عمر ډېر کم دے نو ځکه د پښتو په رکنونو یا بحرونو هغه قسم نومونه نهٔ دي کېښولي شوي۔ د اسانۍ د پاره درویش دراني صېب چې په شروع کښې په رکنونو او بحرونو کوم نومونه ایښي دي نو ما هم هغه نومونه

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارولي دي او پکار ده چې د درویش دراني صیب نومونه دې همېشه دپاره پهٔ پښتو عروضو کښې ژوندي وساتل شي-

اوس دا کاوش ستاسو پهٔ مخکښې دے- نور د ستاسو لوستونکو کار دے چې ستاسو د ضرورت پهٔ معیار څومره پوره پرېووځي - الله تعالیٰ دې زما دا کوشش د پښتو ادب پهٔ ګټه وروليِ- امین-

پهٔ درنښت

نقیب الله سالک

OWNED BY 0300 9792115

ککي بنو

۵ جنوري ۲۰۱۴ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اول باب : علمِ عروض او پښتو ته راتګ

### د عروضو پېژندنه (تعریف) او تاریخ

عروض هغه علم دے چې د دۀ پۀ مرسته د نظم او د نثر پۀ مینځ کښې توپیر کېږي۔

د علم عروض باني عبدالرحمٰن خلیل بن احمد بصري دے څوک چې پۀ سلمه (۱۰۰) صدی هجری کښې پۀ بصره کښې زېږېدلے وو او پۀ یوسل او اویا (۱۷۰) صدی هجری یا اووۀ سوه یو نوي (۷۹۱) صدی عیسوی کښې وفات شو۔ دے چونکه پۀ مکه مکرمه کښې وفات شوے وو نو ځکه پۀ خلیل بن احمد مکي هم یادېدلو۔ دے د شروع نه پۀ شاعری او موسیقی زیات مئین وو۔

OWNED BY 0300 9792115

د علم عروض د شروع پۀ حقله څو روایتونه دي :

یو ځل خلیل پۀ مکه مکرمه کښې پۀ دهوبي ګهاټ تېرېدلو چې د جامو د ټکولو اواز يې واورېدلو۔ خلیل د اورېدو سره سم اوویئل چې ''والله یظهر من هٰذ ا شئ'' معنا دا چې قسم دے لۀ دې نه به څۀ راوځي۔ پۀ دې ځاي کښې دۀ ته د علم عروض بنیاد پۀ لاس ورغلو۔

خلیل پۀ بازار کښی تېرېدلو چې دۀ د ځټک مسلسل اوازونه واورېدل۔ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسیقی د مینې لهٔ کبله د دهٔ د خلې نه ووتل

چې " والله یظهر من هٰذا شيء" معنا دا چې

قسم دے لهٔ دې نه به څهٔ راوځي -

د دې علم دپاره د "عروض" نوم

خوښولو اسباب :

خلیل ته د مکی مکرمی پهٔ

ژوند کښې د دې علم الهام شوے وو او د مکې

مکرمې یو نوم "عروض" هم وو نو ځکه یې

دې علم ته عروض اووے۔

د عروض نه مکے د معروض نه و

دے چې تلې ته وایي -اوس د دې علم پهٔ

مرسته د شعر کره او کوټه پېژندنه کېږي نو ځکه

یې ورته عروض اووے۔

پهٔ عربی و ییپانګه (لغت)

کښې د عروض معنا داسې ده "هغه پلنه لاره چې

د دوو غرونو تر مینځ وي" پهٔ داسې لاره خلق د

یوهٔ کلي نه بل کلي ته ځي معنا یې دا شوه چې

دوه کلي بېلوي- نو عروض هم داسې علم دے

چې د موزون او غېر موزون کلام پېژندګلو

راکوي -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داسی نور-----

علامه صفدي وايي چې خليل يوناني ژبه هم زده وه - پۀ دغه وخت کښې پۀ يوناني ژبه کښې د عروضو شروع شوې وه - يوناني ژبه کښې هم بحرونه مقرر وو- دبحرغونډونو(رکنونو)ته يې "ايلي" او "ارجل" يعني لاس ا و پښې ويئل او دا د اسپې (ځناورو) اندامونه دي- خليل د خپلو عروضو پۀ توکونو د ځناورو نومونه کېښودل او پۀ رکنونو کښې بدلونونو ته يې د ځناورو د رنځونو نومونه ورکړل - خواجه نصيرالدين طوسي هم د دې خبرې کړېدے - د حرکات او سکنات لۀ مخې ټکي پۀ درو برخو کښې وويشل شول- سبب (رسی)، وتد ( مېخ) او فاصله (مټه يا ستنې) - پخوا به عرب پۀ خېمو کښې اوسېدل او رسی،مېخ ا و مټه يا ستنې د خېمې د اودرولو توکي دي نو ځکه يې د ټکو ځېلونو (قسمونو) ته دا نومونه ورکړل -

سبب د دوو حرکتونو يا دوه حرفيزه ټکي دي ، وتد د درو حرکتونو يا درې حرفيزه ټکي دي او فاصله د څلورو يا پنځو حرکتونو ټکي دي - پۀ شروع کښې د عربی پنځلس بحرونه را مخته شول بيا وروستو دغه شمېر پنځۀ دېرش (۳۵) ته ورسېدواو کېدے شي چې نن يې څۀ بل شمېر وي -

پۀ يو سل او اويا (۱۷۰) صدی هجری کښې يوه ورځ د زوي د تجارت د پاره خليل د څۀ تلې پۀ لټون کښې پۀ بازار کښې

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرزېدلو چې سر يې د ستنې سره وجنګېدلو او وفات شو -

د خليل نه پس نظامي عروضي ( وفات ۱۰۹۲ عيسوی )

چې د ثمرقند اوسېدو وو ، دې علم ته زياته ترقي ورکړه - د عروضو د ا يجاد نه مخکښې د عربو شاعری د وزن پۀ بنسټ وه خو وزن ته د يوۀ باقاعده علم مقام حاصل شوے نۀ وو - د قاسم بن سلام بغدادي د وېنا پۀ رڼا کښې د عربی ژبې ورومبی شاعر د نوح ؑ زوي د سام پۀ ا ولاد کښې يعرب بن قحطان وو (د نوح ؑ څلور زامن وو - سام ، حام ، يافث او کنعان - د سام پۀ ا ولاد کښې عرب دي ، دحام پۀ اولاد کښې عجم او د يافث پۀ ا ولاد کښې ياجوج و ماجوج راځي، او کنعان پۀ طوفان کښې مړ شو )او پۀ فارسی کښې ورومبۍ شاعر بهرام ګور وو -

OWNED BY 0300 9792115

د هندوانو پخوا کتاب "رګ وېد" ټول پۀ وزن کښې دے خوېکښې اوولس (۱۷)وزنونه کارولي شوي دي- البته مثنوي "سحر البيان" ټول پۀ يوۀ بحر کښې وو - د دې نه دا خبره څرګندېږي چې د عروضو د ايجاد پۀ وخت پۀ هندی کښې د خپلې ژبې وزنونه ا و بحرونه موجود وو-

د وروستنی شننې او څېړنې نه دا خبره هم څرګنده شوې ده چې د کلام الله د ډېر ايتونه او د نبي کريم ﷺ ځينې حديثونه هم پۀ پۀ وزن کښې دي لکه "بسم الله الرحمٰن الرحيم" پۀ سريع بحر کښې دے ، "لن تنالو البر حتٰى تنفقوا" پۀ رمل کښې ، سورة الکهف پۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



طويل کښې ، سورة الدهر پۀ منسرح کښې ، سورة سبا پۀ رمل کښې ، سورة مؤمن پۀ مضارع کښې ، سورة الانفال پۀ بسيط کښې او سورة توبه پۀ وافر بحر کښې دے- چونکه عربو د فصاحت ا و بلاغت کمال لرلو نو الله تعالیٰ هم فصيح او بليغ کلام نازل کړلو چې پۀ دوي باندې حجت شي ا و د نۀ پوهېدلو بهانه يې نۀ شي پاتې- د عقېدې لۀ رويه قران پاک د الله تعالیٰ کلام دے-نو د غو ذکر شوو ايتونو ته، نۀ خو د عقيدې لۀ رويه شعر ويل کېږي ا و نۀ د شعر د تعريف لۀ رويه -

د خليل عروض د عربۍ ژبې د نزاکت پۀ چاپېريال کښې رازېږېدلي وو- د فارسۍ شاعرانو ، د عربۍ کلهم عروض خپل کړل - د اردو شاعرانو د فارسۍ د شاعرانو پۀ ګام باندې ګام کېښودو- ياده دې وي چې پۀ دغه وخت کښې پۀ هندۍ کښې دا علم موجود وو چې نوم يې "پنګل" وو خو دا دومره مشکل وو چې د اردو د پاره د کارونې جوګه نۀ وو- د عربۍ ځينې بحرونه خو د اردو شاعرانو خپل کړل خو ځينې بحرونه د اردو د پاره پښه او ځپلۍ نۀ شول ولې چې د دواړو ژبو پۀ مزاج کښې ډېر توپير وو- نو ځکه د اردو پۀ عروضو کښې فقط دومره ترقي وشوه څومره يې چې د عربۍ نه بحرونه را واخيستل - نو ځکه دا و شو چې څۀ خو د عروضو علم ګران دے خو څۀ د اردو شاعرانو توجه هم نۀ ده ورکړې-

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتو ته د عروضو راتګ

## د روښا نیانو هڅې

په پښتو کښې په دېواني (لیکلي) صورت کښې چې مونږ ته کومه اثاثه رسېدلې ده هغه د روښانیانو د زمانې نه راشروع شوې ده - روښانیان د کلاسیکي شاعرۍ بنیاد دے دوي پښتو ادب ته ډېر دېوانونه ور وبخښل- د پښتو په غېږ کښې د عروضو د ځایولو هڅې هم د روښانیانو نه راپېل کېږي - په هغه وخت کښې د عربۍ او فارسۍ ژبو د علمي اثاثو سره د پښتو ادب هم اشنا شو نو د پښتو ادب هم ترېنه ګټه پورته کول پېل کړل - په دې لړ کښې د پښتو شاعرانو او پوهانو د نورو ادبي اثاثو سره سره د عربۍ په عروضو هم نظر پړبوت - د پښتو ژبه له عربۍ ژبې نه په ډېر څه کښې لرې وه ؛ لکه دا چې د عربۍ ټکي د ساکن حرف نه نهٔ شروع کېږي خو د پښښتو ټکي د ساکن توري نه هم شروع کېږي ، یا لکه دا چې د عربۍ په یوهٔ ټکي کښې دوه ساکن حرفونه په یوهٔ ځاي نهٔ شي را تللې خو په پښتو کښې داسې ټکي ډېر دي ، یا لکه دا چې د پښتو په ډېرو ټکو کښې منطقي او عادي خج د ټکي په اخیري حرف یا د اخیر حرف نه مخکښې راځي خو په عربۍ کښې داسې نهٔ ده - نو د عربۍ عروض په پښتو کښې ځاي نهٔ شول خو بیا هم پښتانهٔ شاعران په شاعرۍ کښې د عروضو د اهمیت او ضرورت نه خبر شول او فکر به یې کولو چې څنګه نورې ژبې عروض لري پکار ده چې پښتو یې هم ولري - دوي

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



به هم دغه د عربی عروض اړول را اړول چې ښکه ترې کار واخلي - پۀ دغو شاعرانو کښې يو دولت لوانړے هم وو څوک چې د پلار لۀ طرفه حسن خېل لوانړے او د مور لۀ طرفه وردګ وو- د دۀ وطن جلال اباد يا رشيد اباد وو- د پيداوښت درسته نېټه يې نۀ ده معلومه خو د کلام نه يې دا معلومېږي چې تر يو زر او پنځوس (۱۰۵۰) هجرۍ پورې ژوندے وو - دولت لوانړے د پير روښان عقيدت مند ا و د ميرزا خان ا نصاري شاګرد ا و مريد وو - د دۀ پۀ ديوان کښې څو داسې غزل هم شته چې پۀ عربی عروضو باندې برابر وو - دا پۀ پښتو کښې وړومبې عروضي تجربه وه - د دۀ نۀ علاوه مرزا خان انصاري او ارزاني هم د عربی عروضو د راخپلولو هڅې کړې دي لکه د ارزاني دا بېلګه (نمونه) :

OWNED BY 0300 9792115

د يوۀ وحدت لۀ اصله
د کثرت شول دېر فروع

يا لکه د ميرزا خان انصاري دا بېلګه :

پۀ وحدت لۀ هره جوده بېګانه يم
پۀ کثرت کښې د ميرزا پۀ خلۀ ويېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوشال خان خټک

(۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هجري)

بیا پهٔ کلاسیکي شاعرانو کښې خوشال خان خټک وو چا چې پهٔ پښتو شاعرۍ کښې د ځانګړي عروضي نظام ضرورت ته پام شوے وو- د خوشال خان پهٔ کلیات کښې چې د کومو عروضي اصطلاحاتو ذکر شوېدے دے هغه د پښتو د یوهٔ نامعلومه عروضي نظام اصطلاحات دي -

پهٔ عروضو د ټینګکار پهٔ ترڅ کښې خوشال خان میرزا خان ستا دے ،لکه چې وایي :

لهٔ چا نه پهٔ پښتو کښې ما میزان لید نهٔ دے
میرزا پهٔ دا زبان کښې ویئل کړي دي تللي

خوشال خان بیا وایي :

پښتو ژبه ده مشکله د دې بحر موندهٔ نهٔ شي
هم ما لره یو خو بحره پهٔ ډېر مښود راغلي

پهٔ دې شعر کښې د دهٔ مراد هم دغه څپیز- خجیز نظام دے او ورسره ورسره د بحرونو د جوړښت لپاره څلور قسمه رکنونو( د لومړي خجن سېلاب رکن، د دویم خجن سېلاب رکن ، د دریم خجن سېلاب رکن او د څلورم خجن سېلاب رکن) ته یې اشاره کړېده - خوشال خان پهٔ اګاهانه توګه پهٔ خپلو بېلا بېلو شعري ځېلونو (قسمونو) کښې کله پهٔ لومړي خجن سېلاب ، کله پهٔ دویم خجن

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



سېلاب ، کله پۀ دریم خجن سېلاب او کله پۀ څلورم خجن سېلاب کښېږي مصرعې لیکلې دي - د باندیني شعر اوله مصرعه یې پۀ د ریم خجن سېلاب سره او دویمه مصرعه یې پۀ دویم خجن سېلاب سره لیکلې ده -

خوشال خان د عروضو نه بغېر شاعري هډو شاعري نۀ بولي لکه چې وایي :

چې چا دے شعر کړے بې میزانه،بې عروضه
دا هیڅ شاعری نۀ ده یو څو سپي دي ټمبدلي

## کاظم خان شېدا

(؟۱۱۳۵ - ؟۱۱۹۳ هجري)

OWNED BY 0300 9792115

د عربي عروضو سره د پښتو سمون نۀ خوړلو ته ځینې شاعران د پښتو نااهلي او بې نظمي وایي - دا خبره د پښتو یو لوي استاد او نازک خیاله شاعر کاظم خان شېدا کړې ده - دے وایي :

د پښتو ژبه تمامه
ده بې نظمه بې نظامه
لۀ اوزانه مختلفه
لۀ میزانه منحرفه
پۀ میزان باندېس چې راشي
هر کلام تهِ و بالا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حواله چې پۀ تقطیع شي
کهې طعن کهې تشنیع شي
ا را سته پۀ قانون نۀ شۀ
کا لموزون شۀ موزون نۀ شۀ
(دېوانِ کاظم خان شېدا)

کاظم خان شېدا که پښتو ژبه "بې نظمه ا و بې نظامه" بولي هم ځو بیا یې لکه د نورو ځینې شاعرانو داسې هم نۀ دي کړي چې پۀ عربی عروضو کښې یې د پښتو شعر پۀ زور د ځایولو هڅه کړې وي - کاظم خان شېدا خپله شاعري د پښتو مزاج سره سمه د پښتو پۀ نامعلومه عروضي چوکاټ کښې د ننه کړې ده - د دۀ پۀ شعر کښې د "کالموزون" نه دا څرګندېږي چې د پښتو شاعري اګر که موزونه نۀ ده خو "د موزون پۀ شانې" ده د دې نه مونږ ته دا نتیجه هم پۀ لاس راځي چې هغه د پښتو د یوۀ نامعلومه عروضي نظام ادراک هم لرلو -

OWNED BY 0300 9792115

د دۀ شاعرا نه مقام د دۀ د وخت نه واخله تر ننه پورې هر چا دے - دۀ د ژوند زیاته برخه د هندوستان پۀ رامپور کښې تېره کړې وه - ځکه یې د ژوند ډېر حالات معلوم نۀ دي - کاظم خان شېدا د مېجر راورټي د تحقیق پۀ رڼا کښې د خوشال خان کړو کېږي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میا شرف

(۱۱۶۰ -۱۱۸۶ لېږدیز)

پښتو ژبه د عروضو سره اشناکولو په لړ کښې د میاشرف کارنامه هم د ستاینې وړ ده - هغه د احمد شاه بابا په زمانه کښې (۱۱۶۰ -۱۱۸۶ لېږدیز)ژوند کولو کومه چې د پښتنو یوه ازاده ا و خپلواکه زمانه وه - میاشرف لیکوال او شاعر وو- ده د ازاد نظم په صورت کښې په عربي عروضو په پښتو ژبه کښې یو وړه " کتاب د پښتو عروض" ولیکلو - په دې وجه د پښتو ژبې علمي پنګه په زیاتولو کښې دا یو مهم ګام وو- دغه عروض به پرمخ تللي وے خو لئه بده مرغه د پښتنو سیاسي او معاشرتي حالات سازګار پاتې نئه شول - میاشرف څهٔ کار په پښتو عروضو باندې کړے وو - ډېره شاعرئ یې د پښتو په وزنونو برابره کړې ده لکه دا شعر یې په دویم خج کښې پېل کړے دے :

بیلتون نصیب زما دے ،قدرت د کردګار دے
بندي په بند د هند یم ،مولد مې ننګرهار دے

د عروضو رساله یې استاد رښتین د " میاشرف عروض" په نامه ۱۳۳۸ لمریز کال د پښتو ټولنې لئه خوا چاپ او خپره کړې ده - وایي چې تر میاشرف وروستو د عیسي هوتک خېل مکمل دیوان عروضي بڼه لري کوم چې دوه زره بیتونه لري -

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سمندر خان سمندر

(۱۹۰۱ -۱۹۸۹ عیسوي)

پهٔ هندوستان د قبضې نه پس انګرېزانو دلته مکتبونه پرانستل - د انګرېز نیت چې هر څهٔ وو- خو د دغو مکتبونو نه بیدار مغز پښتانهٔ پوهان هم راووتل چا چې د خپلواکۍ او د ژبې د ودې دپاره بیا سمې هڅې شروع کړې - د دغې پېر (دور) پهٔ اخیري وخت کښې سمندر خان سمندر د پښتو شاعرۍ عروضي کولو د پاره ملا وتړله - پهٔ دغه وخت کښې د پښتو علم و ادب سرچینه د عربۍ یا فارسۍ پهٔ ځای انګرېزۍ ژبه وګرځېدله - انګرېزي ژبې خپل عروضي نظام لرلو او پښتنو ګټه ترې اخستې شوه خو سمندر خان د انګرېزۍ ادب نه نابلد وو، دهٔ هم هغه د عربۍ عروضو زړه لاره ونیوله -

سمندر خان به پوهانو ته ویئل چې یا خو د پښتو شعر ته خپل څهٔ نظام جوړ کړئ او یا د ما ملګري شئ چې عربۍ عروضو ته خپله شاعرۍ وسپارو خو چا د دهٔ پهٔ خبره غوږ ونهٔ ګرولو- بس خپله شاعرۍ به یې پهٔ عربۍ عروضو کښې کوله - د سمندر خان دغه شعري مجموعه "د خوږه شپېلۍ" پهٔ نوم چاپ شوه - د بېلګې پهٔ توګه د دهٔ څو شعرونه:

تماشا شوم چې مې کړه ستا تماشا
زما اوس کاندي کل دنیا تماشا

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما اشنا پهٔ تندر سور را
سمندر جاوېدان شوم اور را
منم چې ژوند خو خوږ دے خو بې لهٔ یاره تلخ شي
پهٔ سر دې اې سمندره د زهرو کوټ دے تېر یې کا

سمندر خان پهٔ خوږه شپېلۍ کښې پهٔ یو شمېر بحرونو کښې نظمونه ویئلي دي - سمند ر خان پهٔ خوږه شپېلۍ کښې لیکي چې پهٔ پښتو کښې د هیڅ یوهٔ تېر شوي او ژوندي شاعر د کلام تول د قانون پهٔ تله برابر نهٔ دے خو د سمندر خان دا نظر صحیح نهٔ ښکاري ولې چې د دهٔ نه مخکښې پهٔ تول برابر نظمونه ویئلي شوي دي لکه د عبدالعلي اخونزاده کاکړ (۱۲۹۹ - ۱۳۶۵ هجري) نظمونه لهٔ هغوي نه دوه سوه کاله مخکښې ، دمیا شرف شاعر (۱۱۲۰-۱۱۸۶ هجري ) او لهٔ هغې نه مخکښې دولت لوانړے چې ژوند یې تر ۱۰۸۵ هجري پورې یقیني دے-دولت پخپله وایي چې :

OWNED BY 0300 9792115

دا وزن دےصحیح پرې وکړه نظر
فاعلا تن مفا علن فعلن

کېدے شي چې سمندر خان دا پور نظر پهٔ تحقیقي تاریخي بنیاد نهٔ وي پېش کړے نو که داسې وي بیا د دهٔ د نظر نهٔ د عروضو انتهایي او شدید ضرورت ته لېواله کېدل ښکاري -
تر اوسه پورې پهٔ لاندیني عربي بحرونو کښې لیکلي شوي نظمونه موندلي شوي دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



هجز ، لکه د عبدالعلی

کاکړ مصرعه :

عجب راځي لهٔ دې دهره پهٔ هر ساعت ستم پر ما

رمل ، لکه د میا شرف

مصرعه:

اې چې بلبل د عطا تل پهٔ چمن ستاکه چغار

مضارع ، لکه د عبدالعلی

کاکړ دا مصرعه:

یار درومي او زهٔ نهٔ مرم هر ګوره بې

وفا یم

OWNED BY 0300-9792115

خفیف ، لکه د دولت

لواني دا مصرعه:

دا جهان دے پهٔ مثل بهار

رجز ، لکه د عبدالقادر دا

مصرعه:

مهر زما د خپل صنم مه شه زما لهٔ

عمره کم

مدید ، لکه د رحمان بابارح دا

مصرعه :

سرزما سامان زما ، زار شه تر جانان زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



## علامه رشاد

لۀ دې سره سره چې څۀ ناڅۀ يې د عروضو پۀ چوکاټ کښې د پښتو شعر د څپيز او څجيز سېستم لړه يا ډېره منښته کړې ده خو بيا هم د تدريس ، ليکنې او څېړنې لۀ لارې پۀ خپل زاړۀ او "انتيک" سيستم باندې ټينګ او ترينګ پا شوے دے او د ژوند تر پايه يې د هغۀ سخته دفاع کړې ده - پۀ اوږد مهالي استادي بهير کښې يې لۀ دولت لوانې او مياشرف ، خواجه محمد بنګش ، عبدالعلي اخونزاده نه واخله تر بهايي جان او سمندر خان پورې هغه زړې عروضي نمونې به يې بيا بيا رامخته کولې - پۀ دې لړ کښې يې د نيم اولسي شاعر بهايي جان (۱۳۱۳ - ۱۳۵۱ ق) هماغه "جزئيات" را اخيستي دي چې پۀ عربي عروضو کښې دي او "کليات" يې چې د پښتو تول و تال لري دومره پامور نۀ دي بللي - رشاد فرهنګي ټولنې د دۀ اثار چاپ کړي دي -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درویش دراني

د سمندر خان سمندر خوره شپېلۍ چې کله درویش دراني وکتله نو دے اول ځل خبر شو چې د عروضو په نوم یو هم د شعر په دنیا کښې شته خو د دې سره سره یې نظر هم دا وو چې ځنګه نورې ژبې عروض لري نو پکار ده چې پښتو یې هم ولري او د عربۍ عروض خپلول نۀ دي پکار - درېش دراني د عروضو یوه خاکه جوړه کړه چې د حبیب الله رفیع سره یې هم خبرې وریاندې وشوې - حبیب الله رفیع د خاکې لیکلو راې ورکړه -

په کال ۱۹۸۹ عیسوي کښې یې د کراچي مجلې "پلوشه" ته دا خاکه د مضمون شکل کښې ولیکله خو په دې وخت کښې سمندر خان وفات شوے وو نو ځکه وریاندې څۀ بحث ونۀ شو- وروستو یې د عروضو هغه خاکه په یوۀ مکمل کتاب کښې بدله کړه - دا کتاب په کال ۲۰۰۷ عیسوي کښې د "پښتو عروض" په نوم چاپ شو -

OWNED BY 0300 9792115

لکه ځنګه چې مخکښې ویئلي شوي دي چې خلیل بن احمد د عربۍ عروضو ځینې نومونه د ځناورو د اندامونو په نومونو کېښودل او په رکنونو کښې بدلونونو ته یې د ځناورو د رنځونو نومونه ورکړل ، خو پښتو کښې داسې نومونه نۀ دي ایښوي شوي ، دا ځکه چې په پښتو ادب کښې د خپلو عروضو عمر ډېر کم دے - په دې لړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې درویش درانې داسې څېړنې وکړې چې یو خو یې د شعري پنګې نه خپل عروض رابرڅېره کړل ، رکنونه یې پهٔ ګوته کړل ، موندل شوو بحرونو ته یې قالبونه جوړکړل او بیا د نومونو ورکولو پهٔ لړ کښې یې عددي کلیات پهٔ کار راوستل- د دې نومونو غټه ګټه دا ده چې دا نومونه پهٔ اسانه د شاعر حافظې ته داسې ننوځي چې بیا هډو هېرېږي هم نه-

د درویش درانې د بیان طریقه ډېره سلیسه او اسانه ده- زما پهٔ نظر کښې ، د عروضو د ښودلو پهٔ ترڅ کښې ښاغلي درویش درانې چې د تدریس کومه طریقه پهٔ دې ذکر شوي کتاب کښې پهٔ کار اچولې ده هغه "د اسان نه د مشکل پهٔ لور" ده-

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مجاور احمد زيار

ډاکټر مجاور احمد زيار نهٔ صرف دا چې لکه د خوشال خان ، کاظم خان شېدا او درويش دراني ، د پښتو پهٔ ځانګړي عروضي نظام باندې ټينګار کړېدے بلکه ورسره يې دغه نظام را برخېره کړے هم دے- ډاکټر مجاور احمد زيار هم د خپلې پوهې ، تجربې او د څېړنې پهٔ بنسټ د دې اند (فکر) څښتن دے چې د عربي عروض (ميټرک سېستم) د پښتو شعر سره اړخ نهٔ شي لګو بلکه څپيز (سېلابي ) او خجيز دے- موخه (مقصد ) يې دا دے چې د پښتو شعر سېلابو تونيک دے-

OWNED BY 0300 9792115

پروفېسر دانيال مکنزي د لندن پهٔ پوهنتون کښې د پښتو پوهاند دےچا سره چې مجاور احمد زيار د پښتو شعر پهٔ حقله پهٔ وېلس کښې ډېر کته ور بحث هم کړے وو ، هغهٔ د پښتو شعر څپيز دے او پهٔ عملي توګه يې د ډېرو دېواني او اولسي شعرونو پهٔ سکښت يا تقطيع (scansion) کښې څپيز – خجيز نظام نه کار ا دےد مصرعې دننه يې ويې خج (د ټکي خج) هم پهٔ ګوته کړے دے او د څپې (سېلاب) اوږدوا او لنډوا يې پهٔ پښتو شعر کښې بې نقشه دے-

نجيب منلي خوک چې فرانس ميشتي پښتو ادبپوه ،ليکوال او څېړنکار دے ، د کال ۱۹۸۷ عيسوي پهٔ پنځلسم اکتوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې مجاور احمد زيار ته د پښتو شعر پۀ حقله يو اوږد ليک رالېږلی وو- د هغه اوږدۀ ليک نه د دۀ دريز هم ښکاره کېږي - دے وايي چې د شپاړسمې پېړۍ پۀ پاي کښې د پير روښان (۱۵۲۴- ۱۵۷۹ ز) سياسي او مذهبي پاڅون د پښتو ژبې د فعاليت يوه پېلامه (ابتدا)وه - پۀ دې وخت کښې د پښتنو سيمه د دوو پارسي ژبو تر مينځ ويشلې شوې وه - لوېديځ ته د پارس صفوي امپراتوري وه او ختيځ ته د هند د مغلو قدرت وو - پۀ دې چاپېريال کښې پښتنو شاعرانو او ليکوالانو پۀ پراخه پيمانه لۀ پارسي څخه هم د لغاتو پۀ برخه کښې ،هم د مفاهيمو پۀ برخه کښې پراخې اخيستنې وکړې -کله کله يې د پښتو ژبې ګرامري جوړښت هم د پارسي پۀ ډول برابر کړے دے- د دغو اخيستنو پۀ ترڅ کښې شاعرانو د پښتو شعر اصلي او د معمول بڼې پرېښودې او د پارسي او عربي عروضو د خپلولو هڅې يې کولې خو پۀ دې کار کښې څۀ ډېر برياليي نۀ شول -

OWNED BY 0300 9792115

د دوي پۀ فکر کښې د پښتو شعر بنسټيز واحد مصرعه ده ، او مصرعه غونډونه (رکنونه) لري ، بيا هر رکن څلور څپې (سېلابونه) لري ، پۀ دغو څلورو څپو کښې خامخا يوه څپه خجنه وي -

د دوي پۀ نظر کښې يوه مصرعه کمې نا کمه يوه خجيزه کړۍ لري او زياتې نا زياتې څلور خجيزې کړۍ - د څپو د شمېر لۀ مخې وړه مصرعه څلور څپې او اوږده مصرعه شپاړس څپې وي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې اوسنيو او ځينې پخوانيو شاعرانو تر دې اوږدې مصرعې هم جوړې کړې دي خو دا ډول شعرونه د ګوتو په شمار دي او خاصه توجه نۀ غواړي -

د پښتو شعر په حقله د مجاور احمد زيار ، دانيال مکنزي او نجيب منلي فکرونه په بنيادي غټو اصولو کښې يوشانوا لري اګرکه په ځينې فروعي ځايونو کښې يې نظر جدا جدا دے-

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم باب : د علمِ عروض اصطلاحات

### سېلاب ( څپه )

انګرېزۍ کښې ورته (syllable) ، عربۍ کښې هجاءاو پۀ پښتو کښې څپه وايي -

تعریف : پۀ یوه ژبه کښې د یوۀ یا زیا تو غږېزو ټکو هغه ټولګه یا ټوټه ده چې

لۀ یوۀ خپلواک یا واوېل

(a,e,i,o,u) ،

یا لۀ یوۀ واوېل او یوۀ یا څو

بېواکو یا کنسونینتس (b,d,g,h,f,j,k,l…) ،

OWNED BY 0300 9792115

یا لۀ یوۀ واوېل او یوۀ

نیمواک یا سیمي واوېل (w,y) ، او

یا لۀ یوۀ واوېل ، یوۀ سیمی

واوېل او یوۀ یا څو کنسونینتونو

څخه جوړه شوې وي او پۀ یوۀ ځاي پۀ یوۀ وخت پۀ یوۀ وار سا ا یستلو یا د خلې خوځولو نه راوځي - یو خپلواک (واوېل) یواځې هم ځان ته څپه جوړو شي - د دغو خبرو مطلب دا شو چې خپلواک د نورو ډلو پۀ ملګرتیا لنډې او اوږدې څپې جوړوي - یو بېواک یا نیمواک د خپلواک د ملګرتیا نه بغېر ځان ته څپه نۀ شي جوړو او نۀ دواړه پۀ ګډه جوړو شي - هر غبرګغږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(diphthong) هم څپه شي - یاده دې وي چې د واوېل او سیمي واوېل مجموعې ته دفتهانګ یا غبرګغږ وايي لکه e,y -

اوس به د باندیني تعریف په رڼا کښې ، د پښتو په تناظر کښې سېلاب ته وګورو - په پښتو کښې دوه قسمه حرفونه دي ، یوه قسم ته د علت حرفونه وايي لکه و،ا،ي، ه ا و بل قسم ته صحیح حرفونه وايي لکه د علت حرفونو نه ما سوا حرفونه - په پښتو کښې څلور حرکتونه هم دي لکه زوَر ، زېر ، پېش او زور یا نیم زوَر - په صحیح حرفونو کښې پخپله هیڅ سا نۀ وي ، دا حرکتونه دي چې ځان ته د راکش کولو نه پس په صحیح حرفونو کښې سا اچوي -

سیلاب یا څپه داسې ټکي یا د ټکي برخې ته وايي چې د اواز په حرکت سره ادا کېږي یا به داسې ووايو چې د وېنا په مهال یو ځل خلۀ خوځول یو سېلاب یا څپه جوړوي - لکه "غر" ټکے دوه حرفونه لري او په لومړي حرف "غ" باندې د زوَر حرکت دے د یوۀ حرکت په وجه "غر" ټکے - یو سېلاب دے-

د علت حرفونو سره هم صحیح حرفونو ته حرکت حاصلېږي لکه پۀ "مور" کښې "و" د پېش کار ورکوي ، پۀ "ښاد" کښې "ا" د زوَر کار ورکوي ، پۀ "ډېر" کښې "ې" د زېر کار ورکوي ، پۀ "ده" کښې "ه" د زوَر کار ورکوي ، او پۀ "ورۀ" کښې "ۀ" د زورکې (نیم زوَر) کار ورکوي - پۀ یوۀ سېلاب کښې حرفونه یو یا زیات کېدے شي خو حرکت پکښې یو وي -

پۀ پښتو کښې د ډېرو ټکو ابتدا پۀ سکون سره هم کېږي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ساکن توري پهٔ وروستيني حرکت پورې تړل کېږي او ځان له سپلاب نهٔ شي جوړولې ولې چې ساکن د حرکت نه محروم وي او سپلاب د حرکت نه جوړېږي هم دغه شان که يو ساکن د ټکي پهٔ مينځ کښې راشي يا د ټکي پهٔ اخير کښې ، نو دا ساکن به خامخا د ګاونډ پهٔ حرکت پورې ښخېږي -

څو بېلګې :

يو سپلابيز ټکی لکه غرهٔ ،

وژن ، کښې ، مې ، به ، لهٔ ، ته ، ښکار او داسې نور

دوه سپلابيز ټکی لکه قصه ،

OWNED BY 0300 9792115

واوره ، کلکه ، پوزه ، غړي ، غوړي او داسې نور

درې سپلابيز ټکی لکه

واورينه ، اولسي ، پاکستان ، کرکيله ، بريالي او داسې نور

څلور سپلابيز ټکی لکه

بريالیتوب ، کتابونه ، دريابونه ، غړ پوهنه او داسې نور

پهٔ يوهٔ سپلاب کښې د حرفونو شمېر :

يو حرکت او يو حرف : چې يوهٔ حرکت سره يو حرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرے وي او هغه لۀ خپله ځايه راخوځوي

لکه "ځي" د يوۀ سېلاب ټکے دے چې پکښې

د "ځ" سره د "ي" حرکت را دےيا لکه چې ، مې ،

دا ، ما او داسې نور-

پۀ دې ډله کښې د يوۀ بل جوړښت ټکي هم راځي لکه بدن، سحر ، ژړل ، او داسې نور- دا ټکي دوه سېلابيز دي خو پۀ دغو درو واړوکښې لومړے سېلاب د يوۀ حرف دے-

يو حرکت او دوه حرفونه : دلته يو حرکت د يوۀ حرف لۀ خوځولو پس يو بل حرف هم د هغۀ سره وتړي نو دا هم يو سېلاب جوړوي يعني د يوۀ حرکت پۀ ملګرتيا کښې لۀ دوو حرفونو هم يو سېلاب جوړيږي لکه سَر ، لَس ، ا وښ ، شين او داسې نور -

OWNED BY 0300 9792115

يو حرکت او درې حرفونه : پۀ دې سېلاب کښې يو حرکت درې حرفونه د ځان سره خوځوي لکه ګرد ، شپون ، وران او داسې نور-

يو حرکت او څلور حرفونه :پۀ دې ډول سېلاب کښې يو حرکت د ځان سره څلور حرفونه راخوځوي لکه شرنګ ، ورروست ، خوند ، ژوند او داسې نور-

يو حرکت او پنځۀ حرفونه : پۀ داسې سېلاب کښې يو حرکت پنځۀ حرفونه سره وتړي لکه شخوند - دا د يوۀ سېلاب ټکے دے پۀ دې ټکي کښې پۀ دريم حرف باندې د زوَر حرکت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور پکښې ټول حرفونه ساکن دي -

حرکت د مقناطیس په توګه

:

کله چې یو حرکت خپل ځان ته ، له یو خوا او بل خوا ،
لکه د مقناطیس حرفونه راکش کړي نو دا یوه غنچه (cluster)
جوړه کړي - کله د مخ له طرفه او کله د شا له طرفه حرفونه په یوه
حرکت پورې ښخ شي نو دغسې غنچې په اتۀ ډوله دي - په دې لړ
کښې دحرکت د پاره "v" او د حرف د پاره "c" نخښه کاروو :

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱- ځو | cv | ۲- ورا | ccv |
| ۳- ځم | cvc | ۴- خپل | ccvc |
| ۵ - ګړد | cvcc | ۶ - شرنګ | ccvcc |
| ۷- شخوَل | cccvc | ۸- شخوند | cccvcc |

OWNED BY 0300-9792115

## د سېلاب قسمونه

(د خج یا فشار له مخې )

د وینا په وخت کښې ټول سېلابونه په یوه ډول نۀ ادا کېږي ،
په ځینې سېلابونو باندې زور یا فشار راځي او په ځینې باندې نۀ
راځي - د سېلابونو تر مینځ دغه فرق په ساده وینا کښې هم ارزښت
لري او په منظومه وینا کښې هم - په دې لړ کښې د سېلاب لاندینې
دوه قسمونه دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



خجن سپلاب : د وېنا په وخت چې
په کوم سپلاب باندې زور یا فشار راځي هغه ته خجن
یا درونډ سپلاب وایي -
سپک سپلاب : د وېنا په وخت چې
په کوم سپلاب باندې زور یا فشار نه راځي هغه ته
سپک سپلاب وایي -

لنډ او اوږد سپلاب

لنډ سپلاب : لنډ سپلاب هغه سپلاب دے چې هر ځاي او هر وخت د یوه سپلاب په توګه کارو شي - د اوږده سپلاب نه علاوه نوره ټول سپلابونه لنډ وي -

OWNED BY 0300 9792115

اوږد سپلاب :په یوه مصرعه کښې د خجنو سپلابونو په قطار کښې هغه اخیرنې خجن سپلاب ته وایي چې د دوو یا درو سپلابونو ځاي ونیسي ، او بحر ته هیڅ نقصان هم نه ورکوي-

د پښتو په زیاتره بحرونو کښې دا ګنجایش شته دے چې د مصرعې اخیرني یو یا دوه سپلابونه یې کم کړي شي دلته دا اخیر درونډ سپلاب ، چې ورته اوږد سپلاب هم وایي ، د دوو یا درو سپلابونو ځاي ونیسي - خلاصه یې دا ده چې د اوږده سپلاب په مصرعه کښې د هماغه بحر له بلې مصرعې څخه یو یا دوه سپلابونه کم راځي - دغه اوږد سپلاب د پخوانیو او اوسنیو ډېرو شاعرانو په شاعرئ کښې شتون لري لکه د رحمان بابا رح د غزل دا دوه بیتونه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



با دشاهي لري هر يو غلام د ستا
د خاصانو پۀ ځاي ناست وي عام د ستا
زۀ رحمان دعا سلام پۀ هغۀ وايم
هر چې ما لره راوړي سلام د ستا

دا بيتونه د دولس سپلابيز بحر د غزل نه اخيستي شوي دي ، مطلع يې يولس سپلابه ده بيا هره قافيه داره مصرعه هم يولس سپلابه ده خو هره بې قافيه مصرعه يې دولس سپلابه ده او وزن يې هم درست دے، معنا يې دا شوه چې د مطلع او د هرې قافيه دارې مصرعې د پاي پۀ رکن کښې د اوږد سپلاب پۀ توګه "ستا"را دے -

OWNED BY 0300 9792115

## د عربي او پښتو پۀ سپلاب کښې فرق

د عربي عروضو اکايي کلمه ده بيا د کلمې درې قسمونه (سبب ، وتد او فاصله) دي اوس د تيکنالوجي پۀ جديد دور کښې د قومونو ا و د ملکونو تر مينځ فاصلې کمې شوې دي - د دې نزدېکت لۀ وجهې اوس عربي ته هم د سپلاب تصور پۀ ورکړد بد لو دے- د عربي سپلاب پۀ دوه ډوله دے يو هغه دے چې يو حرکت يو حرف راخوځوي او بل هغه دے چې يو حرکت يو ورو ساکن حرف هم ځان ته راکاږي او خوځوي يې - د مثا ل پۀ توګه "سَفَر" به واخلو - دا دوه سپلابه ټکے دے پۀ لومړي سپلاب "س" باندې زوَر دے او پۀ دويم سپلاب "فَر" کښې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرفونه دي يو متحرك او بل ساكن - پۀ عربی عروضو کښې پۀ سېلاب کښې د حرفونو شمېر ارزښت لري - د دې خبرې مطلب دا شو چې پۀ عربی عروضو کښې د سېلاب ځومره وا يا کميت (quantity) ارزښت لري - خو پۀ پښتو کښې د سېلاب کميت نه ، بلکه کيفيت يا ځرنګوا (quality) ارزښت لري-

پۀ پښتو کښې "سفر" او "سرور" پۀ وزن کښې برابر دوه ټکي دي ، خو چې کله يې د عربی عروضو تلې ته واچوونو بيا يې پۀ وزن کښې فرق راشي، ولې چې د "سفر" لومړے سېلاب لۀ يوۀ حرف جوړ دے خو د "سرور" لومړے سېلاب لۀ دوو حرفونو جوړ دے اګر که د دوارو دويم سېلاب لۀ دوو دوو حرفونو جوړ دے - پۀ پښتو کښې دا نۀ شي چې پۀ سېلاب کښې حرفونه څو دي بلکه دا کتل کېږي چې سېلاب خجن دے او که سپک -

## خج (فشار)

دې ته پۀ فارسی کښې فشار ، عربی کښې خج ، پښتو کښې دروند وا يا زور ا و پۀ انګرېزی کښې (stress/accent) وايي-

د عروضو پۀ اصطلاح کښې خج پۀ يوۀ ټاکلي شوي ځاي باندې د غږ سختوالي ، شدت ا و هسکوالي ته وايي يا به داسې داسې ووايو چې خج هغه کار يا عمل ته وايي چې د ژبنی يوونو (واحدونو) پۀ لړ کښې يو ټکےد سا ا يستنې لۀ فشار سره پۀ زيات زور

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شد ت وويئل شي او دغسې يوۀ غږ يا څپې ته تر نورو ګاونډيانو زياته ټينګتيا او لوړتيا وروبخښي او هم لۀ دې وجهې د ټکي معنا ا و پۀ ترڅ کښې شعري وزن اغېزمنوي - پۀ پښتو څپيز – خجيز سېستم کښې خج د څپې نه هم زيات او لومړے بنسټيز ټاکنده نقش لري -

خج د ژبنی جوړښتونو يا چاپېريال لۀ مخې پۀ څلور ډوله دے؛

١ – څپيز خج : دغه خج پۀ څپه کښی دننه پۀ حرکت(واوېل) باندې راځي ځکه چې حرکت (واوېل)جوت ويئل کېږي او د بېواک(consonants) يا د صحيح حرفونو ويئل او اوربدل هم پۀ خپل سر اخلي لکه پۀ "سپين"کښې "ي" باندې څپيز خج دے-

٢ – ويی خج (کلمی يا د ټکی خج) :چی د يوې کلمی يا ټکي دننه يوه څپه ، ديوۀ واوېل (حرکت) او د سا د فشار پۀ مرسته تر نورو څپو ټينګه او زورداره وويله شي لکه د "ورغوي" ټکے درې سېلابه (ور–غ+زور –وي) دے ، پۀ دې ټکي کښې د مينځ څپه ويي خج تا د کلمې خج لري ، پۀ "کتمل" (کټ – مل) کښې دويمه څپه چې مانيزه هم ده ، ويي خج لري -که پۀ يوه څپه کښې خج پۀ خپل ټاکلي ځاي رانۀ شي نو معنا يې ونجېږي (بدله شي) او کېدے شي چې د يوۀ بل ټکي سره يې ادلون بدلون راشي

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه "غوټه" پۀ لومړي خج سره ګڼله ، کره او پۀ دويم خج
سره غو په ، غوطه معنا خپلوي -

یاده دې وي چې پۀ دوديز ليک (املاء) کښې د خج لپاره کومه نخښه (symbol) نۀ شته ، صرف د ټاکلې څپې پۀ ټاکلي ځاي (حرکت يا واوېل) باندې فتحه يا ضمه (ُ) اچول کېږي -

۳ - غونډ خج (د عبارت خج) : چې پۀ يوۀ عبارت کښې يو توك يا ټکے پۀ زور سره وويئل شي لکه پۀ "سپين کالي" کښې "سپين" ، يا پۀ "د جونو ښوونځي" کښې "د جونو" ټکي خجن راځي او بيا د ويي خج پۀ لړ کښې د"جونو" لۀ دواړو څپو (جو-نو) لومړۍ څپه خجنه ده - دلته لۀ غونډ يا عبارت څخه مراد صرف نحوي غونډ يا عبارت دے-

۴ - غونډ له يا غونډ له ييز خج :چې ديوې غونډ لې(جملې) دننه يو ټکے تر نورو پۀ زيات زور، لوړوالي او فشار سره وويئل شي او پۀ دې توګه د جملې بېلابېل معنوي قسمونه مينځ ته راشي لکه بيانيه ، سواليه ، امريه -

يو مثال : يوه درې سېلابيزه جمله اخلو او وار پۀ وار د خج ځاي بدلوو او ورسره يې پۀ معنا هم غور کوو :
- زۀ چاي څښم

OWNED BY 0300-9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زهٔ **چاي** څښم

- زهٔ چاي **څښم**

پهٔ اولې جملې کښې خج پهٔ " **زهٔ** " باندې دے چې د دې

سوال جواب دے چې "څوک چاي څښي ؟ "

پهٔ دويمې جملې کښې خج پهٔ "**چاي**" باندې دے چې د

دې سوال جواب دے چې "تهٔ څهٔ څښې ؟ "

پهٔ دريمې جملې کښې خج پهٔ " **څښم** " باندې دے چې

د دې منع پهٔ جواب کښې اصرار دے چې "تهٔ چاي مه څښه" -

OWNED BY 0300 9792115

پهٔ ټکو (کلمو) کښې د ويې خج (کلمي خج) ځايونه :

د پښتو پهٔ ځينو ټکو کښې پهٔ

لومړي سېلاب خج راځي لکه شخړه،خواښې ،

پېغله - - -

پهٔ ځينو ټکو کښې پهٔ دويم

سېلاب خج راځي لکه سپوږمۍ ، ورارهٔ ، تربور

- - -

پهٔ ځينو ټکو کښې پهٔ دريم

سېلاب خج راځي لکه الوتنه ، الوتکه ، جنګ

ځپلي - - -

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ ځینو ټکو کښې پهٔ څلورم

سېلاب خج راځي لکه ټولنپوهنه ، اتلولي ،

ټولنيزوالي - - -

پهٔ ځینو ټکو کښې پهٔ پنځم

سېلاب خج راځي -

پهٔ ځینو کښې پهٔ شپږم

سېلاب خج راځي -

او پهٔ ځینو ټکو کښې د پاي

پهٔ سېلاب خج راځي لکه پکتيا ، پسرلي ،

پېښور - - -

OWNED BY 0300 9792115

پهٔ پښتو کښې د نورو ټکو پهٔ مقابل کښې د پايخج ټکې ډېر زيات دي - د پښتو خجپوهنې (accentology) لهٔ مخې خج هيڅ کله لهٔ څلورمې څپې وروستو نهٔ راځي - داسې ټکي چې د هغو د څپو شمېر پنځهٔ يا زيات وي ، لکه اهورا مزدا ا و نيکاراګووا ، پهٔ پښتو شاعرۍ کښې نهٔ شي راتلې - د ا ر (اصل) لهٔ مخې د پښتو عادي او منطقي خج پهٔ وروستنۍ څپې راځي -

ثانوي خج

خج پهٔ يوهٔ ټکي کښې پهٔ خپل ځاي پروت وي خو که دې ټکي ته يو يا زيات حرفونه ورزيات کړل شي نو خج هم ورسره بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځاي ته بدل شي لکه "سترګه" دوه سېلابيز ټکے دے چې خج يې پۀ لومړي سېلاب دے - اوس که دا ټکے "سترګوَر" شي نو خج لۀ لومړي سېلاب نه دريم سېلاب ته لاړ شي - پۀ "سترګوَر" ټکي کښې اصلي خج پۀ دريم سېلاب دے او لومړي سېلاب باندې ثانوي خج دے- دا ثانوي خج هيڅ کشاله نۀ پيدا کوي ولې چې هغه صرف اصلي خج دے پۀ کوم باندې چې بحر ولاړ وي -

## رکن (غونډ)

OWNED BY 0300 9792115

دې ته پۀ پښتو کښې غونډ ، عربۍ کښې رکن ا و انګرېزۍ کښې (foot) وايي -

پېژند (تعريف) : د سېلابونو هغې مجموعې ته غونډ يا رکن وايي چې يو سېلاب پکښې لازمي خجن وي او نور سېلابونه يې سپک وي - د رکن پۀ خجن سېلاب باندې بحر ولاړ وي - د يوۀ خاص رکن د تکرار څخه د يوۀ خاص بحر مصرعه جوړېږي او د بل رکن د تکرار نه د بل بحر مصرعه جوړېږي -

پۀ پښتو شاعرۍ کښې دوه قسمه رکنونه کارولي شوي دي :

يو قسم هغه رکن دے چې څلور سېلابونه لري او مونږ ورته اوږد رکن وايو- پۀ اوږدۀ رکن کښې درې سېلابونه سپک وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو سېلاب لازمي خجن یا درووند وي - پۀ پښتو شاعرۍ کښې زیات استعمال د اوږدۀ رکن شوے دے-اوږدۀ رکنونه پۀ شمېر کښې څلور دي ، او اوږد رکني بحرونه جوړوي - دا څلور واړه اوږدۀ رکنونه یو تر بله فقط دومره فرق لري چې لازمي خجن سېلاب پکښې خپل ځاي یا خانه بدله کړي-

بل قسم هغه رکن دے چې درې سېلابونه لري او مونږ ورته لنډ رکن وایو- پۀ لنډ رکن کښې دوه سېلابونه سپک وي او یو سېلاب لازمي درووند وي - پۀ پښتو شاعرۍ کښې د لنډ رکن ډېر کم استعمال شوے دے- لنډ رکنونه پۀ شمېر کښې درې دي ، اولنډ رکني بحرونه جوړوي - دا درې واړه لنډ رکنونه هم یو تر بله دومره فرق لري چې لازمي خجن سېلاب پکښې ځاي یا خانه بدله کړي-

OWNED BY 0300 9792115

## اوږدۀ رکنونه (غونډونه)

یاده دې وي چې د نومونو ورکولو پۀ لړ کښې د خجن سېلاب ځاي یا خانې ته کتلي شوي دي - لاندیني قالبونو کښې د سپک سېلاب دپاره صرف هندسې (اعداد) ا و د خجن سېلاب دپاره د عدد د پاسه ( ) نخښنه کاروو ؛

۱-لومړے اوږد رکن |اُ ۲ ۳ ۴| : ځکه ورته لومړے اوږد رکن وایي چې لومړے سېلاب یې خجن دے،او نور یې سپک دي -

۲ - دویم اوږد رکن |ا ۲ ۳ ۴| : ځکه ورته دویم اوږد رکن وایي چې دویم سېلاب یې خجن دے ، او نور یې سپک دي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - دریم اوږد رکن |۱ ۲ ۳ ۴| : څکه ورته دریم اوږد رکن وایي چې دریم سېلاب یې خجن دے ، او نور یې سپک دي -

۴ - څلورم اوږد رکن |۱ ۲ ۳ ۴| : څکه ورته څلورم اوږد رکن وایي چې څلورم سېلاب یې خجن دے، او نور یې سپک دي -

## لنډ رکنونه (غونډونه)

رکنونو ته د نومونو ورکولو څۀ لړ کښې لومړي دې ته کتل شي چې رکن اوږد دے او که لنډ ، بیا دې ته کتل شي چې د دې رکن څویم سېلاب خجن دے؟نو دلته به پېل د لومړي لنډ رکن نه کوو-

OWNED BY 0300 9792115

۱ - لومړے لنډ رکن |۱ ۲ ۳| : څکه ورته لومړے لنډ رکن وایي چې لومړے سېلاب یې خجن دے او نور یې سپک دي- (تر نزدې ماضي پورې دې ته خالي رکن ویئل کېدل)

۲ - دویم لنډ رکن |۱ ۲ ۳| : څکه ورته دویم لنډ رکن وایي چې دویم سېلاب یې خجن دے او نور یې سپک دي -

۳ - دریم لنډ رکن|۱ ۲ ۳| : څکه ورته دریم لنډ رکن وایي چې دریم سېلاب یې خجن دے او نور یې سپک دي -

د رکنونو د پېژندګلو نه وروستو اوس مونږ ته ښکاره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سېلاب هغه بنيادي اکايي يا يوون (unit) دے چې د رکن ټکړه ترېنه جوړېږي ، رکن هغه ضروري ټکړه ده چې د مصرعې يوه تخته ترېنه جوړېږي ، او مصرعه هغه تخته ده چې د بيت يا شعر دروازه ترېنه جوړېږي - د لازمي خجن سېلاب په حقله به دا ووايو چې څنګه مېخونه په ضروري او خاصو ځايونو ولګول شي، دومره به دروازه محکمه او ښکلې وي، هم دغه شان خجن سېلا ب هم دے چې په خپل ټاکلي شوي ځاي کښې راشي نو د مصرعې بحر به درست وي -

## پوره رکن او نيمګړے رکن

OWNED BY 0300 9792115

د دريم اوږدۀ رکن (۱،۲،۳،۴) خاصه دا ده چې په مصرعه کښې څو ځله هم تکرار کېږي په پوره شکل تکرار کېږي او باقي نوره رکنونه د مصرعې په سر ا و مينځ کښې پوره راځي خو په اخير کښې په نيمګړي شکل راځي نو د اخيري رکن نه کله يو سېلاب ، کله دوه او کله درې سېلابونه وغورځېږي- د کوم رکن نه چې د اخير يو سېلاب وغورځي د هغۀ نيمګړے شکل د درو سېلابونو پا شي هم دغه شان د کوم رکن چې درې سېلابونه وغورځي د هغۀ نيمګړے شکل د يوۀ سېلاب پا شي د دريم اوږدۀ رکن نه علاوه نوره رکنونه ( لومړے اوږد رکن ، دويم اوږد رکن او څلورم اوږد رکن) د خپل سالم شکل په تکرار مصرعه نۀ شي پوره کولې ، او خامخا نيمګړي رکن ته اړتيا لري -

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو رکن زیات نا زیات څلور ځله او کم نا کم یو ځل تکرار کېږي -

## مصرعه (verse)

د رکن د تکرار څخه مصرعه جوړېږي - د دود له مخې د اولسي او ادبي قافیه وال شعر کوشني ترین (له ټولو ورو ) یوون یا واحد مصرعه بلل شوې ده - دوې همکچې (همتولې) مصرعې یو شعر یا بیت جوړوي - یوه بشپړ شعر ته "فرد" وایي - مصرعه د یوه شعري ځېل (دوبیتې ، څلوریزې ، چاربیتې ، غزل ، قصیدې - - - ) رغنده ټوک (جزء) ګرځي - د ننګر هارځینې اولسي شاعران بیت ته کړۍ او مصرعې ته نیمه کړۍ وایي -

په اروپایي ژبو کښې د مصرعې او بیت توپیر (فرق) نه شته او کوشني ترین موزون یوون یې هماغه لیکه ده چې په انګرېزۍ کښې ورته (line verse) یا په لنډه توګه (verse) وا یي او د زمونږ یوه بیت یا شعر ته "جوړه لیکې" (verse couplet) وایي چې لا تیني سرچینه یې (versus) ده - د شعر ویي (ټکي) په عربۍ او اریا نې دواړو ژبو کښې شتون لري -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مصرعې (دوديزه) کچه يا اوږد وا

يو اوږد رکن څلور سپلابونه لري او کم نا کم يو ځل او زيات نا زيات څلور ځله تکرار کيدے شي نو په دې تناظر کښې د پښتو لۀ ټولو وړه يا لنډه مصرعه څلور سپلابه او لۀ ټولو اوږده مصرعه شل سپلابه ده-

ښه به وي چې د مصرعې کچې په حقله د مجاور احمد زيار د نظر نه هم ځان خبر وسا شي - د کچې لۀ مخې د پښتو ديواني شعر لنډ ترينه مصرعه اووۀ څپيزه او اوږده ترينه يې شپاړس څپيزه ده حالانکه نن صبا په نوي غزل کښې تر دوو څپيزو ، او په اوسني ازاد شعر کښې هره ټوټه د ار لۀ مخې تر يوۀ غونډ (څلور څپيز رکن) کوشني کيدے شي او په ځينې ځايونو کښې تر يوې څپيزې هم ټوټې مونډلې کيدې شي او اوږدوا يې هم تر ۲۸ څپيزې ټوټې ازما شوے دے-نورزيا تې اوږدوا يې ځکه خوند نۀ کوي چې پخپله شاعر او بل هر لوستو يا سندر غاړے يې نور په يوه سا او بې د وقفې د لوستلو توان نۀ لري - حالانکه په ازاد (ناپښېليز ، بې قافيه) شعر کښې تر ۵۲ څپيزې ټوټې هم مونديږي لکه نصرالله حافظ او

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



صديق پسرلي تر دوديز(شپاړس خپيز) بريد وراړو دے او تر شل ځپيزې او يا هم پورته ببلګې يې ازمايلې دي - پۀ ازاد قالب کښې اسماعيل يون خپلي مصرعې تر دېرش ځپيزې غځولې دي -

ماته پخپله د غازي سيال صېب يو داسې غزل پۀ ګوتو را دے چې د هرې يوې مصرعې لنډوا يې د يوۀ سېلاب دے - خو د شاعر د پاره دومره وړې (يو سېلابيزې) مصرعې ته څۀ پيغام وردننه کول ، مقصد يت او شعريت شاملول که نا ممکن نۀ وي نو مشکل خو خامخا دي - هم دغه شان مې د اوږدوالي پۀ لړ کښې د عبدالروف زاهد ، د ادريس خان ادريس او د ممتاز اورکزي تر شل ځپيزې اوږدې مصرعې هم موندلې دي - دا مصرعې د لسو څپو غبرګې مصرعې وې ( د لسو څپو نه پس پکښې وقفه وه ) نود داسې شل څپيزو پۀ يوه سا ويئل او لوستل هم اسان وي او مقصديت هم لرلې شي -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وزن

وزن تللو ته وايي - پۀ اصطلاح کښې د دوو کلمو (ټکو) حرکات او سکنات برابرولو ته وزن وايي ، پۀ نوره ټکو کښې به داسې ووايو چې د علمِ عروض مقرر شوو بحرونو څخه د يوۀ بحر پۀ تله د يوۀ شعر تللو ته وزن وايي - کوم شعر چې پۀ دې تله صحيح او برابر پرېوځي نو هغه موزون وي که نۀ وي نو غېر موزون -

د فن پۀ ژورو کښې لۀ ښخېدو مخکښې ' مونږ داسې و شو چې وزن د ټکو داسې ترتيب دے چې پۀ کوم سره يوه جمله پۀ اورېدلو کښې خوږه او پۀ ويئلو کښې روا نه وي دا خوږلت او رواني اهنګ پيدا کوي او د اهنګ رشته د احساس سره ده - پۀ ټکو کښې پۀ مکمله توګه د احساس ادا کول که ناممکن نۀ وي نو ګران ضرور دي - د وزن احساس د هر هغه سړي پۀ مزاج کښې پروت وي څوک چې د موسيقۍ ذوق لري-

د عامې مشاهدې خبره ده چې د خوږۀ اواز يا د ساز اورېدو سره د سړي لاس ، پښې يا ګوتې ؛ د اواز يا ساز د زېر و بم سره لاشعوري حرکت شروع کړي - که داسې اورېدونکي ته نظر وشي نو سړے به محسوس کړي چې د اورېدونکي د لاس پښو پۀ زېر و بم کښې يو خاص ترتيب او خاصه وقفه وي - که سړے لږ نور پۀ ژور نظر ورته وګوري نو يو بل حقيقت هم ښکاره کېږي هغه دا

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د موزون نظم یا غزل هرې مصرعې سره د لاس پښې د زېر و بم شمېر هم برابر وي د ګوتو یا د لاس پښې د زېر و بم په دې وقفه کښې د وزن راز پټ دے-

د زېر و بم د دې کیفیت صحیح اندازه لګول مشکل هم دي خو که د دې دپاره پنسل او کاغذ واخیستل شي او د لاس پښې زېر و بم په دې کاغذ باندې د کرښو په صورت کښې ریکارډ کړے شي ، بیا به معلومه شي چې لاس یا پښې یا ګوتو څو ځله باندې حرکت وکړو - د کرښو راکاړلو عمل چې څومره لاشعوري وي دومره به زیات صحیح وي - دلته دا احتیاط پکار دےچې د لاس پښې یا ګوتو په حرکت کښې ، او د اواز په زېر و بم کښې یکسانیت او رواني وي، که نۀ وي نو د موزون کلام پېژندګلو به و نۀ شي - د مصرعې د اوچتولو سره به د پنسل باندې لاندې کول داسې یو شانوا لري لکه څنګه چې د مصرعې د زېر و بم سره د طبله نواز لاسونه هم اهنګ وي -

اوس د باندیني بحث وضاحت په یوۀ عملي مثال سره کوو-

د مصرعې د اواز د زېر و بم سره د هم اهنګو ګوتو یو ځل " اوچتولو" سره یو ځل په پنسل "باندې کرښه " ، او بیا د هم اهنګو ګوتو د یو ځل "لاندې کولو" سره په پنسل "لاندې کرښه" راکاږو-

اوس د ارواښاد منتظر بېټني یو غزل زمزمه کوو او ورسره به کرښې هم راکاږو :

OWNED BY 0300-9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګ اومحبوب پۀ رابللو چاته ګله راځي /\/\/\/\/\/\/\/

چې يې پۀ زړۀ سمه شي،وخت راشي نوخپله راځي /\/\/\/\/\/\/\/

د چاپلو ،دچامنګول پرې لګېدلې ده نن /\/\/\/\/\/\/\/

داسې نادره خوشبويي چې لۀ هر ګله راځي /\/\/\/\/\/\/\/

زما د امن مينو! تاته ځۀ نه جوړ کړم /\/\/\/\/\/\/\/

بوي د ګوګړو لۀ هر ګل او لۀ سنبله راځي /\/\/\/\/\/\/\/

ما پۀ خپل سر د ښېڅ نيکۀ ګلشن کښې ښۀ وير وکړو /\/\/\/\/\/\/\/

الله خبر چې ورته بيا داسې بلبله راځي /\/\/\/\/\/\/\/

ا به هم وخت وي منتظر ته چې د يار لۀ لوري /\/\/\/\/\/\/\/

دا " کرې" راشي چې "ورځم"که دے پخپله راځي /\/\/\/\/\/\/\/

OWNED BY 0300 9792115

د دې غزل نۀ مو خو شعرونه زمزمه کړل او د هرې مصرعې د زېر و بم سره د ګوتو لاندې باندې حرکت مو پۀ کرښو کښې راوکاږلو نو د دې غزل هرې مصرعې ته مخامخ ۱۵کرښې راغلې - ياده دې وي چې د کرښو راکاږلو عمل ته مو فکر نۀ وو -

دا عمل لاشعوري پکار وي - اورېدونکي يا د ويونکي د لاس پنسل به پۀ کاغذ ساکن ولاړ وي، څنګه چې مصرعه شروع کېږي نو د کرښو راکاږلو عمل به هم ورسره شروع کېږي د اورېدونکي يا د ويونکي مکمله توجه به د مصرعې اهنګ لوري ته وي ، وروستو د دې عمل د صحت امکان کېدے شي -

اوس دا موجوده غزل د شروع نه تر اخيره پورې چې مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويئلو نو ټول فکر مو د اواز زېر و بم لوري ته وو او د کرښو شمېر ته مو هيڅ فکر نۀ وو ، د مصرعې د زېر و بم سره د کرښو راکاږلو عمل کښې رواني هم وه ، پۀ دې عمل کښې هيڅ مشکل پيدا نۀ شو - کله چې غزل مکمل شو نو ورسره د کرښو راکاږلو عمل هم مکمل شو - هرې مصرعې ته مخا مخ ، دګوتو د زېر و بم دپاره د کرښو شمېر[۱۵] وو نو اوس بيا مونږ ويئلې شو چې دا غزل پۀ وزن برابر دے-[۱۵،]

اوس که سرے لږ نور فکر وکړي نو د هرې مصرعې کرښې د سېلابونو د شمېر سره هم برابرې دي ، هره مصرعه پنځلس (۱۵) سېلابه ده او د هرې مصرعې کرښې هم پنځلس (۱۵) دي - ځکه دا غزل پۀ وزن برابر دے -

OWNED BY 0300 9792115

ټول نظمونه يا غزلې پۀ اوږدوالي کښې يو برابر نۀ وي د ځينې غزل يا نظم مصرعې وړې وي يعني سېلابونه يې کم وي او ځينې مصرعې اوږدې وي يعني سېلابونه پکښې ډېر وي - د کمو سېلابونو مصرعې ته مخامخ د زېر و بم د کرښو شمېر هم کم وي او د ډېرو سېلابونو مصرعې ته مخامخ د زېر و بم د کرښو شمېر هم زيات وي، خو دا قاعده ضروري ده چې د غزل يا د نظم هرې مصرعې ته مخامخ د زېر و بم د کرښو شمېر مستقل يو (constant) وي ورنه وزن به مات تصور کېږي -

د يوې مصرعې د شننې ( تجزيې ) پۀ وخت که د قلم پۀ رفتار کښې څۀ بې قاعدګي راغله او د کرښو راکاږل پۀ يوۀ شان نۀ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا زيرِ تجزيه مصرعه پۀ وزن کښې نۀ ده - د تجربه کارو شاعرانو کلام پۀ وزن کښې وي نو د دوي پۀ کلام دا مشق ښۀ ښکلے کېږي - که يو کس د موزون غزل هرې مصرعې ته مخامخ د کرښو يو مستقل (constant) تعداد راکاږي نو دا پۀ دې فن کښې د مهارت نخښه ده - د وزن د معلومولو دا ذکر شوې طريقه د پښتو پۀ اوږد رکني بحرونو کښې زياته کاميابه ده-

OWNED BY 0300 9792115

بحر

سپکو او خجنو سېلابونو ته يو خاص او ټاکلے شوے ترتيب ورکولو ته بحر وايي - دغه دوه ډوله سېلابونه (سپک او خجن) چې پۀ يوۀ خاص او ټاکلي شوي ترتيب پۀ يوه مصرعه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشي نو یو خاص ډول اهنګ (rhythm) یا بحر ترې جوړ شي -که چرته دا ټا شوے ترتیب پۀ یوۀ بل ټاکلي شوي ترتیب بدل شي نو بحر هم ورسره بدلیږي -که چرته د دغو دوه ډوله سېلابونو یو ټا شوے ترتیب یوې داسې جملې ته وردننه شي چې د سېلابونو شمیر یې د مصرعې هومره وي ، نو پۀ دغې جملې کښې بحر راشي او جمله پۀ مصرعې بانډې بدله شي -

پۀ هره ژبه کښې د یوۀ خاص شمیر بحرونو ګنجائش وي- دا خبره د هغې ژبې د شاعرۍ نه پۀ طبعي توګه څرګندیږي- داسې نۀ ده چې لومړي خلقو دا بحرونه معلوم کړي دي - پۀ پښتو کښې پۀ طبعي توګه چې د څومره بحرونو ګنجائش وو هغه د زمونږ پۀ شفاهي او اولسي شاعرۍ کښې ټول راڅرګند شوي دي- دا شفاهي او اولسي شاعرۍ چې چاکرېده هغوي نۀ بحر پېژندلو او نۀ اهنګ-

د پوهانو لۀ څېړنو څخه دا نتیجه اخذ کړې شوې ده ، چې پۀ پښتو شاعرۍ کښې د رکن د قسمونو او د رکن د تکرار لۀ مخې دوه قسمه بحرونه کارولي شوي دي بیا دا دوه قسمه بحرونه بېل بېل ښاخونه هم لري ؛

اوږد رکني بحرونه

لومړے اوږد رکني بحر (څلور ښاخونه لري)

دویم اوږد رکني بحر (څلور ښاخونه لري)

دریم اوږد رکني بحر (څلور ښاخونه لري)

څلورم اوږد رکني بحر (څلور ښاخونه لري)

OWNED BY 0300-9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم اوږد رکني بحر (پنځهٔ ښاخونه لري)

لنډ رکني بحرونه

لومړے لنډ رکني بحر (درې ښاخونه لري)

دويم لنډ رکني بحر (درې ښاخونه لري)

دريم لنډ رکني بحر (درې ښاخونه لري)

تر دې وخته پهٔ پښتوشعر کښې پهٔ دې حساب دېرش (۳۰) بحرونه کارولي شوي دي - د دغو ټولو بحرونو پېژندګلو او تفصيل پهٔ څلورم باب کښې را روان دے -

د وزنونو شمېره

(د مجاور احمد زيار د څېړنو پهٔ رڼا کښې)

OWNED BY 0300-9792115

د سېلابونو د شمېر (څپيز څومره والي يا هجايي کميت) لهٔ مخې د پښتو شعر مصرعه لهٔ پنځهٔ څپيزې تر شپاړس څپيزې رسي نو د دې سره دولس وزنونه لاس ته راځي (۷،۶،۵،۸،۹،۱۰،۱۱، ۱۲،،۱۳،۱۴،۱۵، ۱۶ سېلابيزې مصرعې) - اوس رکنونه څلور قسمه دي که ۱۲وزنونو ته پهٔ ۴رکنونو کښې ضرب ورکړو نو اتهٔ څلوېښت(۴۸) وزنونه پيدا کېږي بيا د غبرګې مصرعې د شمېر ۲ سره د وزنونو شمېر ۴۸ضرب کړو نو دوه ګنا يا شپږ نوي (۹۶) وزنونه پيدا کېږي - پايخجي قافيه وا ل شعر سره برې بله ا تهٔ څلوېښت (۴۸) شمېره ورزياتېږي نو دا شمېره به يوسل او څلور څلوېښت (۱۴۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه شي او چې د ازاد شعر مصرعه ییز رنګا رنګي (لهٔ یوې ځپیزې تر دوه پنځوس ځپیزې ) ورسره پهٔ پام کښې ونیسو یعني یو سل او څلورڅلوېښت (۱۴۴) ته دوه پنځوس (۵۲) ور جمع کړو نو یوسل او شپږ نوي(۱۹۶) وزنونه لاس ته راځي -

پهٔ دې باندینۍ تجزیه کښې ، زما پهٔ خیال وزن د بحرسره هم معني ګڼلے شوے دے اوس که د دغو ۱۹۶ بحرونو څخه مونږ صرف هغه بحرونه راوباسو چې (پخوانیو او اوسنیو شاعرانو کښې)د کومو بحرونو د استعمال عام رواج را دے نو بیا مونږ ته پهٔ لاس صرف هم هغه بحرونه ا و د دوي شمېر ۳۰راځي پهٔ کومو چې را روانو پاڼو (څلورم باب) کښې مناسب بحث شوے دے -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم باب : تقطیع او د تقطیع قاعدې

## تقطیع

په انګرېزۍ کښې دې اصطلاح دپاره د (scansion) ټکے کارو شي - د تقطیع لغوي معنا ده قطع کول ، ټکړې کول او پرې کول - په انګرېزۍ کښې د Scansion مراد دا دے چې په یوه مصرعه کښې د خج په لحاظ " ټا شوے ترتیب" څنګه دے او سېلابونه پکښې څومره دي ؟ د " ټاکلي شوي ترتیب " نه مراد د خجنو او سپکو سېلابونو یو خاص او مقرر داسې ترتیب دے چې په یوه مصرعه کښې د ننه ددې ترتیب د بدلولو اجازت نۀ وي -

OWNED BY 0300 9792115

د تقطیع تعریف : د علمِ عروض په اصطلاح کښې تقطیع دې ته وایي چې ټکي د بحر رکنونه ته مخامخ داسې راوړل شي چې د ساکن مخ ته ساکن ټکي او د متحرك مخ ته متحرك ټکي راشي او بیا د شعر ټکي د بحر په رکنونو کښې صحیح راشي -

د پښتو شاعرۍ په تناظر کښې به د تقطیع تعریف داسې کوو چې د شعر ټکي د بحر رکنونو ته مخامخ داسې راوړل شي چې د لازمي خجن سېلاب ځاي ته مخامخ خجن سېلاب راشي او د سپکو سېلابونو ځاي ته مخامخ سپك سېلابونه -

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تقطیع قاعدې

۱ – د پښتو عروضو وړه اکایي سپلاب ده ، سپلاب رکنونه جوړوي ، رکنونه مصرعه جوړوي او دوې مصرعې یو شعر جوړوي-

۲ – پۀ پښتو کښې څلور حرکتونه (زوَر ، زېر ، پېش او زور یا نیم زوَر) دي او هر یو حرکت یو سپلاب جوړوي -

OWNED BY 0300 9792115

۳ – پۀ پښتو کښې څلور د علت حرفونه (و،ا،ي،ه) دي - پۀ خپلو ځایونو کښې "و" د پېش حرکت ، "ا" د زوَر ، "ي" د زېر حرکت او "ه" د زوَر حرکت ورکوي لکه د "مور " ټکي "و" یا د صبا ټکي "ا" یا د "دېر" ټکي "ې" یا د "هغه" ټکي دویمه "ه" -

۴ – " ۀ " د زورکی حرکت ورکوي او یو سپلاب جوړوي - یا به داسې ووایو چې "ۀ" د ځان نه مخکښې حرف ته د زورکي حرکت ورکړي او خپله خاموشه یا ګونګه شي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ – ساکن ټکے سیلاب نۀ شي جوړو -

۶ – زور ځان لۀ سیلاب

رغوي لکه "زما" ، رڼا ، او ځنګه- پۀ دې درو وارو ټکو کښې لومړے سیلاب زورکي جوړ کړے دے-

۷ – ساکن ټکے د ځان نۀ

مخکښې (ماقبل) حرکت سره د ګلون نه پس سیلاب جوړوي لکه "لَر" ، "بَر" او "غَر" ټکو کښې "ر"-

OWNED BY 0300 9792115

۸ – کله د یوۀ متحرک حرف

نه مخکښې هم ساکن او وروستو هم ساکن حرفونه وي نو دا ساکن حرفونه پۀ مینځینې حرکت پورې ښخ شي او یو سیلاب جوړ کړي لکه "ورځ" کښې "ر" باندې د زوَر حرکت دے خو"و" او "ځ" پکښې ساکن دي-

۹ – کله د یوۀ متحرک ټکی

نه شاته دوه یا درې ساکن حرفونه راشي لکه دوست ، خوست - دلته "س" او "ت" د پېش حرکت پورې ونخښلي او یو سیلاب جوړ کړي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰ - صرف د سېلابونو

شمېر د وزن دپاره کافي نهٔ دے بلکه دا کتل شي چې پهٔ مصرعه کښې خجن سېلاب بې ځايه شوے خو نهٔ دے.

۱۱ - پهٔ پښتو کښې دوه قسمه رکنونه کارول کېږي ، پهٔ يوهٔ قسم رکن کښې څلور سېلابونه وي چې اوږد رکن ورته وايي اوپهٔ دويم قسم رکن کښې درې سېلابونه وي چې لنډ رکن ورته وايي-

۱۲- د اوږدهٔ رکن تکرار اوږد رکني بحرونه جوړوي او د لنډ رکن تکرار لنډ رکني بحرونه جوړوي -

۱۳ - پهٔ هر رکن کښې يو سېلاب لازمي خجن وي پهٔ کوم چې د مصرعې بحر ولاړ وي او نور پکښې سپک سېلابونه وي - د اوږدهٔ رکن (څلور سېلابيز) خج يا پهٔ لومړي سېلاب ، يا پهٔ دويم ، ياپهٔ دريم ، او يا پهٔ څلورم سېلاب راځي او لهٔ څلورم سېلاب وروستو نهٔ شي را - د لنډ رکن (درې سېلابيز) خج يا پهٔ لومړي يا پهٔ دويم او يا پهٔ دريم سېلاب راځي - د

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډ رکن خج لۀ دریم سپلاب وروستو نۀ شي
را -

۱۴- د دوو سپلابونو رکن هم
پۀ پښتو شاعرۍ کښې نۀ شته -

۱۵ - اوږد رکن (څلور څپيز)
کم نا کم يو ځل ا و زيات نا زيات څلور ځله
تکرار کېږي ما سېوا د پنځم اوږد رکني بحر د
پنځم ښاخ نه ، چې پۀ هغۀ کښې پوره رکن هم
څلور ځله او نيمګړے رکن هم څلور ځله تکرار
کېږي -

OWNED BY 0300 9792115

۱۶ - لنډ رکن کم نا کم دوه
ځله او زيات نه زيات څلور ځله تکرار کېدے
شي -

۱۷ - د رکنونو پۀ قطار کښې
د لازمي خجن سپلاب ځاي ته مخامخ د شعر
خجن سپلاب راځي او د رکن سپک سپلاب
ځاي ته مخامخ د مصرعې سپک سپلاب راځي
-

۱۸ - که د رکن خجن
سپلاب ځاي ته مخامخ د مصرعې سپک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سېلاب راشي نو بحر ماتېږي او که د رکن سپک
سېلاب ځاي ته مخامخ د مصرعې خجن
سېلاب راشي نو هيڅ فرق نهٔ غورځوي-

۱۹ - خج پهٔ خپل ځاي
ټينګ ولاړ وي او يون نهٔ کوي خو اهنګ پهٔ
مصرعه کښې ښکته ،پورته يا هوار يون کوي -

۲۰ - هغه يوسېلابيز ټکی چی پهٔ
يوائې ځان هيڅ معنا نهٔ ورکوي بلکه د
بل ټکي سره د ګډون نه پس معنا
ورکوي ، تل د سپک سېلاب پهٔ توګه
کارول شي لکه چې ، مې ، د ، کښې ،
نه ، يې، دې ، مو او داسې نور -

۲۱ - هغه يو سېلابيز ټکی چی پهٔ
يوائې ځان معنا ورکو شي ، خجن
هم کېدې شي او سپک هم ؛ لکه شپه
، څهٔ ، زهٔ ، ښهٔ ، ورځ او داسې نور -

۲۲ - د لومړي |۱ ۲ ۳ ۴| اوږدهٔ
رکن ، دويم |۱ ۲ ۳ ۴| اوږدهٔ رکن او
د څلورم |۱ ۲ ۳ ۴| اوږدهٔ رکن د تکرار
نه چې کوم بحرونه جوړېږي هغه پهٔ

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیر کښې درې سېلابیز نیمګړے رکن غواړي -

۲۳ - د دریم اوږدهٔ رکن | ۱ ۲ ۳ ۴

| د تکرار نه چې کوم بحرونه جوړېږي هغه پهٔ اخیر کښې نیمګړے رکن نهٔ غواړي -

۲۴ - د څلورم اوږدهٔ رکن | ۱ ۲ ۳

|۴ د تکرار نه پنځم اوږد رکنې بحر هم جوړېږي خو فرق پکښې دومره دے چې دا بحر پهٔ اخیر کښې د یوهٔ سېلاب نیمګړے رکن غواړي -

۲۵ - د دویم لنډ رکن | ۱ُ ۲ ۳ | د تکرار نه چې کوم بحرونه جوړېږي هغه نیمګړے رکن نهٔ غواړي -

۲۶ - د لومړي لنډ رکن | ۱ُ ۲ ۳ |

او د دریم لنډ رکن | ۱ ۲ ۳| د تکرار نه چې کوم بحرونه جوړېږي هغه پهٔ اخیر کښې د یوهٔ سېلاب نیمګړے رکن غواړي -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷ - د پښتو په ډېرو ټکو کښې
عادي او منطقي خج په اخيريني
سېلاب راځي - چې کوم ټکي پنځه يا
زيات سېلابونه لري ، لکه "اهورا
مزدا" او يا "نکارا ګووا "، په دغو ټکو
کښې خج په پنځم سېلاب دے ، نو
داسې ټکي په پښتو شعر کښې نۀ شي
راتلې ، ولې چې د اوږدۀ رکن خج تر
څلورم سېلاب وروستو نۀ شي را -

۲۸ - لۀ درو سېلابونو کم لاندې
باندې وا دومره غټ تاوان نۀ لري
لکه څومره چې د خج بې ځايه کول
تاوان لري -

OWNED BY 0300 9792115

۲۹ - په خپل عروضي نظام کښې
چې د رکنونو کوم شکلونه او ډولونه
بيان شوي دي په هغو کښې د ګوتو وهلو
ډېر کم ګنجائش دے خو که بيا هم
څوک څۀ نا څۀ کول غواړي نو هغه د
بحرونو په وروستينيو رکنونو کښې
کېدې شي لکه دا چې ، که د يوۀ بحر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ پاې کښې نیمګړے رکن وي نو بیا
هغه ورپوره کړے شي یا که پهٔ پاې کښې
پوره رکن وي نو بیا هغه نیمګړےکړے
شي خو شرط به دا وي چې پهٔ دغسې
کولو سره بحر کوم شکل اخلي پهٔ هغهٔ
کښې به اهنګ هم وي او لهٔ خپله وزنه
به وځي هم نه -

۳۰ - پهٔ تقطیع کښې دا اړینه
(ضروري) نهٔ ده چې زوَر ته مخامخ زوَر
، یا پېښ ته مخامخ پیش او یا زېر ته
مخا مخ زېر راشي -

OWNED BY 0300 9792115

۳۱ - د تقطیـــــــــــــــع
دار و مدار پهٔ اواز باندې دے نهٔ پهٔ حرفونو باندې
-

۳۲ - آ (الف ممدوده) پهٔ
پښتو کښي نهٔ شته خو که چرته د عربۍ پهٔ یوهٔ
ټکي کښې راشي نو دا به د "اَ" برابر وي او یو
سېلاب وي -

۳۳ - چې پهٔ کوم حرف
باندې شد ( ّ ) وي هغه حرف د دوو حرفونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابر وي لکه محبت (محب +بَت) او تصوّر (تصو +وُر) -

۳۴ - تنوین د نون برابر

حسابیږي لکه پهٔ فوراً کښې (فورَن) -

۳۵ - د عربی ټکی اخیر

ساکن الف غورځیږي لکه "لا تقنطوا" کښې -

۳٦ - الف مقصوري( ) د

الف برابر حسابیږي لکه رحمٰن او رحمان -

۳۷ - د داؤد او د

طاؤس "ؤ" د دوو واوونو برابر دے لکه "داوود" - پهٔ دې ټکي کښې دوه واوونه یو سپلاب جوړوي -

OWNED BY 0300 9792115

۳۸ - دا ذکر شوې قاعدې پهٔ

ذهن کښې محفوظولو نه پس ، د یوې مصرعې د تقطیع پهٔ وخت پکار ده چې د دې مصرعې د ویئلو سره د دې بحر وپېژند شي - پهٔ دې لړ کښې د مصرعې لومړي ځلورو سپلابونو ته فکر کیږي چې لومړے ،که دویم ، که دریم ، که ځلورم سپلاب یې خجن دے - که لومړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



سېلاب يې خجن وي نو پهٔ دې مصرعه کښې
لومړے اوږدرکن پهٔ کار راو شوے دے-اوس
د څلورو څلورو سېلابونو رکنونه جوړوو که دا
لومړے اوږد رکن یو ځل را وي نو دا د
لومړي اوږد رکني بحر د لومړي ښاخ مصرعه ده
،که دوه ځله دا رکن را وي نو دا لومړي اوږد
رکني بحر د دویم ښاخ مصرعه ده که درې ځله دا
رکن را وي نو دا د لومړي اوږد رکني بحر د
دریم ښاخ مصرعه ده - که څلور ځله دا رکن
تکرار شوے وي او یا دا مصرعه د لومړي ښاخ د
مصرعې غبرګ صورت وي نو بیا دا مصرعه د
لومړي اوږد رکني بحرد څلورم ښاخ مصرعه ده -
لنډه دا ده چې د خجن سېلاب نمبر(شمېر) به
درکن نوم وي د رکن نمبر (شمېر) به د بحر نوم
وي او د رکن تکرار (یو ، دوه ، درې ، څلورځله)
به د دې بحر د ښاخ نوم وي -

۳۹ - پهٔ یوې مصرعی باندې

غور کولو نه پس که دا معلومه شي چې هر دریم
سېلاب یې خجن دے بیا به د دې تقطیع پهٔ لنډ
رکن (درې سېلابیز) باندې کوو- طریقه به د

OWNED BY 0300-9702115

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاعدې نمبر ۳۸ کارولې شي - بیا به د لنډۍ رکني بحر هم معلوم شي او ددۀ بڼاخ هم -

۴۰ - پۀ ځینې ځای کښې پۀ

یوۀ شعري ځېل کښې د یوې ځپې یا زیا د

وزن تاوان نۀ لري پۀ دې لړ کښې هغه شعري ځېل راځي چې لۀ خچپاي سربیت (مطلع) سره شروع شوے وي یا به داسي ووایو چې د مطلع شعر یې پۀ اخیري خجن سېلاب پوره شي - اوس به قافیه دارې مصرعې د بې قافیه (ناپښېلیزو) مصرعو نه یو یو سېلاب کمې وي - د بېلګې پۀ توګه د دریم اوږد رکني بحر دریم بڼاخ به واخلو کوم چې ۱۲ سېلابونه مصرعه لري- د دې مصرعې اخیري خجن سېلاب یولسم دے - اوس که یوه مصرعه پۀ یولسم سېلاب پوره شي نو دا اخیري خجن سېلاب اوږد شي او د دوو سېلابونو ځاي ونیسي او بحر ته هیڅ زیان هم نۀ ورکوي اوس د د دې غزل ټولې قافیه دارې مصرعې یولس سیلابه راځي او بې قافیه مصرعې به دولس سېلابه راځي لکه د خوشال خان دا غزل:

بیا لۀ کومه را پیدا شو دا بهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱

چې پۀ هر لوري يې ملک کړلو ګلزار

۱۱

درست پښتون لۀ قند هاره تر اټکه

۱۲

سر ه يو د ننګ پۀ کار پټ و اشکار

۱۱

۴۱ – د تقطيع پۀ کار کښې د رکن

سېلابونه يوۀ تر بله لرې او جدا ليکل

کېږي ولې چې د خجن سېلاب پۀ

پېژنګلو کښې څۀ ابهام نۀ شي پاتې

OWNED BY 0300-9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم باب

## د پښتو شاعرۍ دودیز (مروج) بحرونه

بحرونه پهٔ دوه قسمه دي يو اوږد رکني بحرونه دي او بل لنډ رکني بحرونه - اوږد رکني بحرونه د اوږدو رکنونو نه او لنډ رکني بحرونه د لنډو رکنونو نه جوړېږي - پهٔ دې باب کښې مې د رکنونو پهٔ قالبونو کښې د سېلابونو پهٔ ځاي اعداد (هندسې) لګولي دي او د خجن سېلاب د پاره مې پهٔ هندسه باندې ضمه (ُ) لګولې ده خو د مصرعو پهٔ تقطيع کښې مې صرف پهٔ خجن سېلاب ضمه (ُ) لګولې ده او پهٔ سپکو سېلابونو د نخښې ضرورت نهٔ شته - د تقطيع پهٔ وخت د مصرعې پهٔ اخيري رکن کښې د نخښې ¯ نه مراد د نيمګړي رکن غورځېدلي سېلاب ته اشاره ده -

OWNED BY 0300-9792115

### اوږد رکني بحرونه

دا بحرونه دڅلورو اوږدو رکنونو نه جوړېږي - لومړے اوږد رکن لومړے اوږد رکني بحر ، دويم اوږد رکن دويم اوږد رکني بحر ، دريم اوږد رکن دريم اوږد رکني بحر ، څلورم اوږد رکن څلورم اوږد رکني بحر، او پهٔ اخير کښې يو ځل بيا څلورم اوږد رکن پنځم اوږد رکني بحر جوړوي - د هر يوهٔ بحر بيا څلور څلور ښاخونه دي ما سوا د پنځم اوږد رکني بحر نه چې هغه پنځهٔ ښاخونه لري -

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړے اوږد رکني بحر

دا بحر د لومړي اوږدهٔ رکن | ۲۱ ۳ ۴ | چې لومړے سېلاب يې خجن دے ، د تکرار څخه جوړېږي - د دې رکن دويم، دريم او څلورم سېلابونه سپک وي - د رکن د تکرار پهٔ لحاظ د دې بحر څلور ښاخونه دي او هر ښاخ يې د درو سېلابونو نيمګړے رکن هم غواړي -

۱ - لومړے اوږد رکني بحر ( لومړے ښاخ) : پهٔ دې بحر کښې لومړے اوږد رکن | ۲۱ ۳ ۴ | يو ځل پهٔ پوره توګه راځي او پهٔ اخير کښې درې سېلابيز نيمګړے رکن غواړي - د دې بحر مصرعه اووهٔ (۷) سېلابه وي - دا مصرعه د دې بحر تر ټولو لنډه مصرعه ده - اوس د رحمت الله درد د يوهٔ غزل نه خوشعرونه را اخلم :

يا خالقه ! لمر مې کړې
زيرے د سحر مې کړه
ما سوا لهٔ خپل وجود
يا الله ! کافر مې کړه
زهٔ د شبنم څاڅکےيم
خدايه ! سمندر مې کړه
تهٔ سنګ پارس او زهٔ
کاڼے يمه زر مې کړه
مينه د انسان راکړه

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



درد یم چاره کرمې کړه

د لوستلو نه پس یې د دې ښاخ په رکنونو کښې تقطیع کوم :

| ۸ ۷ ۶ ۵ | ۴ ۳ ۲۱ |

| یا خا ل قه | لمر مې کړه - |

| زي رے د س | حر مې کړه - |

| ما س وا له | خپل و جود - |

| یا الله کا | فر مې کړه - |

| زه د شب نم | ځاځ یم - |

| خدا یه !س من | در مې کړه - |

| ته سن ک پا | رس او زه - |

| کا نړے ي مه | زر مې کړه - |

| مې نه د ان | سا ن راک ړه - |

| درد یم چا ره | کر مې کړه - |

ا-------نیمګړے رکن

د دې بحر د مصرعې لومړے او پنځم سېلابونه خجن وي او نوره یې سپک وي - لکه څنګه چې د باندې قالب نه ښکاره کېږي - دا شعرونه په څلور سېلابیز رکنونو کښې ووېشل شول نو معلومه شوه چې د مصرعې لومړے او پنځم سېلابونه خجن دي که لږ نور فکر وکړے شي نو د اتم سېلاب خانې د پاره زمونږ سره بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپلاب نۀ شته يعنې د اتم سپلاب ځاي خالي دے - لومړے اوږد رکن اول ځل ټۀ پوره توګه او بيا ټۀ نيمګړي درې سپلابيز شکل کښې را -اوس که چرته د اول ا و يا د پنځم خجنو سپلابونو پۀ ځاي سپک سپلاب راشي نو بحر ماتېږي -

۲ - ~~لومړے اوږد رکني بحر (دويم ښاخ)~~ : دا بحر هم د لومړي اوږدۀ رکن ا ۱ ۲ ۳ ۴ ا د تکرار څخه جوړېږي د دويم ښاخ مصرعه د لومړي ښاخ د مصرعې نه څلور سپلابه اوږده وي - دا ذکر شوے رکن دوه ځله ټۀ پوره توګه او يوځل ټۀ نيمګړي درې سپلابيز شکل کښې راځي - د دې بحر مصرعه يولس(۱۱) سپلابه وي او خجن سپلابونه يې لومړے، پنځم او نهم دي - پۀ دې ښاخ کښې د عبد الرحيم مجذوب د يوۀ غزل نه څو شعرونه عرض کوم :

لا خو مې کتلي درته سم نۀ دي
تم شه ګله اوښکې مې لا تم نۀ دي
غم د جدا يي پۀ زړۀ غلبېل يمه
دا شانې سيخونه خو د زغم نۀ دي
ښکلي مې چې وګوري مسکاکوي
زۀ به لېو يمه دوي ګرم نۀ دي
زخم مې داغي دا مې علاج کوي
سوے دے مسلسل دا خو ملهم نۀ دي
پوه دے دمجذوب پۀ زړګي پوه دے ښۀ

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي که وليان نۀ دي څۀکم نۀ دي

اوس هم دغه شعرونه د دې ښاخ پۀ رکنونو کښې داسې

ويشلي شوي دي :

| ۱۲ ۱۱ ۱۰۹ |۸ ۷ ۶ ۵ |۴ ۳ ۲۱ |

ا لُا خو مې ک ا تُ لي د ر ته ا سُم نۀ دي ¯ |

ا تُم شه کګ له ا وُښ کې مې لا ا تُم نۀ دي ¯ |

ا غُم د ج دا ا يُي پۀ زړۀ غل ا بُېل ي مه ¯ |

ا دُا شا نې سي ا خُو نه خو د ا زغُم نۀ دي ¯ |

ا ښکُ لي مې چې ا وُګو ري مس ا کُا کوي ¯ |

ا زُۀ به لې و ا ژُي مه دوي ا کُرم نۀ دي ¯ |

ا زُخم مې دا ا غُي دا مې ع ا لُاج کوي ¯ |

ا سوُے دے م سل ا سُل دا خو مل ا هُم نۀ دي ¯ |

ا پُوه دے د مج ا ذُوب پۀ زړګي ا پُوه دے ښۀ ¯ |

ا ښکُ لي که ول ا يُان نۀ دي څۀ ا کُم نۀ دي ¯ |

۱-------۲------نيمګړے رکن

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- ~~لومړے اوږد رکني بحر (دريم ښاخ)~~: پۀ دې ښاخ

کښې هماغه لومړے اوږد رکن پۀ پوره توګه درې ځله تکرار کېږي او پۀ اخير کښې د درو سېلابونو نيمګړے رکن هم غواړي- د دې ښاخ هره مصرعه پنځلس (۱۵) سېلابه وي او د دويم ښاخ د مصرعې نه څلور سېلابه زياته وي - خجن سېلابونه يې لومړے ، پنځم ، نهم او ديارلسم دي او باقي نوره سېلابونه يې سپک دي -

دې نه پس پۀ دې ښاخ کښې شوے د خوشال خان د غزل نه څو شعرونه وړاندې کول شي :

نۀ شته پۀ دا شهرڅوک چې نۀ دي خريدار ستا
څۀ رنګه ډېر تو د دے چې مې وليدۀ بازار ستا
ښه ده سروې ونه ، نۀ چې ښه د ه ستا ترقده
شهد که شېرين دے ، نۀ شېرين دےتر ګفتارستا
چا چې تا ته کړے يونظر دے پۀ درست عمر
څو پۀ دنيا پايي نور به تل وي طلبګار ستا
ډېر طبيبان راغلل لکه راغلل هسې لاړل
راشه حال يې ګوره چې څۀ حال لري بيمار ستا
سر لري خوشال درته پېش کش که دې پکاروي
نوره تر دا څۀ چې د چا سر راشي پکار ستا

د خوشال بابا د دغو شعرونو لۀ لوستلو پس ، د دې بحر پۀ رکنونو کښې يې لاندې تقطيع کېږي :

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



| ۱ُ ۲ ۳ ۴ | ۵ ۶ ۷ ۸ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ | ۱۳ُ ۱۴ ۱۵ ۱۶ |

|نُهٔ شته پهٔ دا | شُ هر څوک چې| نُهٔ دي خ ري | دُار ستا (ˉ) ˉ|

|څُهٔ رن ګه ډېر| تُود دے چې مې| وُ لي دهٔ با | زُار ستا (ˉ) ˉ|

|ښُه ده سر وې| وُنه ، نهٔ چې | ښُه ده ستا تر| قُ د ه (ˉ) ˉ |

|شُ هد که شې | رُ ين دے ، نهٔ شې |رُين دے تر ګف | تُارستا (ˉ) ˉ|

|چُا چې تا ته | کُړے يون | ظُر دے پهٔ درست | عُ مر(ˉ) ˉ|

|څُو پهٔ دن يا | پُا يي نور به | تُل وي ط لب ګُار ستا (ˉ) ˉ|

|ډُېر ط بي بان| رُاغ لل ل که | رُاغ لل ه سې | لُا ړل (ˉ) ˉ|

|رُا شه حال يې|کُو ره چې څهٔ|حُال ل ري بې| مُار ستا (ˉ) ˉ|

|سُر ل ري خو| شُال در ته پېش|کُش که دې پ |کُار وي(ˉ) ˉ|

|نُو ره تر دا | څُهٔ چې د چا| سُر را شي پ|کُار ستا (ˉ) ˉ|

۱ـــــــــــــ۲ـــــــــ۳ـــــنيمګړے رکن

ياده دې وي چې د دې بحر مصرعه ۱۵ سېلابونه لري خود دغو باندينو شعرونو ټولې مصرعې څوارلس (۱۴) سېلابونه لري پهٔ دې کښې اخيرې خجن سېلاب (ديارلسم) د اوږد سېلاب پهٔ توګه کارو شوے دے پهٔ تقطيع کښې د نخښې (ˉ) نه دغه مراد دے او د اخېري ˉ نه درې سېلابيز نيمګړي رکن ته اشاره ده -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ - لومړے اوږد رکني بحر (څلورم ښاخ) :

کوم وخت چې د پښتو ژبه د خپلوعروضو سره لا اشنا شوې نۀ وه نو هغه وخت کښې چې کوم شعرونه پۀ بحرِ مدید کښې لیکلي شوي وو ، نن د هغوي لۀ تجزیې دا معلومیږي چې د خپلو عروضو پۀ رڼا کښې هغه شعرونه د "لومړي اوږد رکني بحر" د څلورم ښاخ پۀ عروضي چوکاټ کښې ځایږي لکه د رحمان بابا رح دا لاندې شوے غزل-

د لومړي اوږد رکني بحر تر ټولو وړه مصرعه د لومړي ښاخ اووۀ (۷) سِپلابیزه مصرعه ده ، لۀ دغو اووۀ سِپلابیزو دوو مصرعو څخه جوړه شوې یوه غبرګه مصرعه پۀ دې څلورم ښاخ کښې راځي نو ځکه به د څلورم ښاخ د مصرعې اوږدوالے څوارلس (۱۴) سِپلابه وي- اوس یو ځل د دې بحر پۀ دې ښاخ کښې شوے د رحمان بابا رح لۀ غزل نه څو شعرونه عرض کوم ، پس لۀ هغې به یې د دې بحر پۀ رکنونو کښې تقطیع کوم :

سر زما سامان زما ، زار شه تر جنان زما
زار شه تر جنان زما ، سر زما سامان زما
زیان زما نقصان زما ، واړه د یار هجر دے
واړه د یار هجر دے ، زیان زما نقصان زما
مشک زما زعفران زما ، ستا د کوڅې خاورې دي
ستا د کوڅې خاورې دي ، مشک زما زعفران زما

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



باغ زما بوستان زما ، بې تا مېوه نۀ نيسي
بې تا مېوه نۀ نيسي ، باغ زما بوستان زما
زړۀ زما چشمان زما ، بې تا هيڅ حال نۀ لري
بې تا هيڅ حال نۀ لري ، زړۀ زما چشمان زما

د لومړي اوږد رکني بحر د څلورم ښاخ پۀ رکنونو کښې تقطيع :

|١ ٢ ٣ ٤| ٥ ٦ ٧ ٨ | ٩ ١٠ ١١ ١٢| ١٣ ١٤ ١٥ ١٦ |

|سُر زما سا|مُان ز ما ـ| |زُارشه ترج|نُان ز ما ـ|
|زُارشه ترج|نُان ز ما ـ| |سُر زما سا|مُان ز ما ـ|
|زيُان زما نق|صُان زما ـ| |وُا ړه د يار|هُ جر دے ـ|
|وُا ړه د يار|هُ جر دے ـ| |زيُان زما نق|صُان زما ـ|
|مُشک زما زعف|ران زما ـ| |ستُا د کو څې|خُاو رې دي ـ|
|ستُا د کو څې|خُاو رې دي ـ| |مُشک زما زعف|رُان زما ـ|
|بُاغ زما بوس|تُان زما ـ| |بُې تا مې وه| نُۀ ني سي ـ|
|بُې تا مې وه|نُۀ ني سي ـ| |بُاغ زما بوس|تُان زما ـ|
|زړُۀ زما چش|مُان زما ـ| |بُې تا هيڅ حال| نُۀ ل ري ـ|
|بُې تا هيڅ حال|نُۀ ل ري ـ| |زړُۀ زما چش|مُان زما ـ|

١ ـــــ نيمګړے رکن ـــــ ٢ ـــــ نيمګړے رکن

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



پۀ دې تقطیع کښې دا ښکاره ده چې لومړے اوږد رکن اول ځل پوره ، بیا نیمګړے، بیا پوره او بیا نیمګړے را دے - دا د لومړي ښاخ د اووۀ سېلابیزې مصرعې غبرګ شکل دے - د دې ښاخ مصرعه څوارلس(۱۴) سېلابه راغله - خجن سېلابونه یې لومړے ، پنځم ، نهم او دیارلسم دي - چونکه دلته اتم سېلاب د غورځېدلو (لومړي نیمګړي رکن) لۀ سببه د غبرګې مصرعې پۀ اووم سېلاب سکته یا وقفه راځي نو لوستو به پۀ اووم سېلاب لږ غونډې تم کېږي - لوستو پۀ پیوسته توګه او روانۍ سره دغه مصرعه لۀ سره تر اخیره پورې نۀ شي لو -

دلته دې یوه بله نکته هم بې د لیکلو نۀ وي پاتې ، هغه دا چې که څوک وغواړي نو د لومړي بحر د د دې څلورم ښاخ غبرګه مصرعه بېرته پۀ دریم ښاخ کښې هم بدلولې شي - د دې غبرګې مصرعې د غورځېدلي ا تم سېلاب ځاي ته به یو سېلاب ورننه کړي نو بیا به د دریم ښاخ پۀ پنځلس سېلابیزې مصرعې کښې بدله شي ، هم دغه شان که د دریم ښاخ مصرعه څلورم ښاخ ته اړول غواړي نو بیا به د مینځ اتم سېلاب ترینه وغورځوي ، د اتم سېلاب د غورځولو نه پس به یوه څوارلس سېلابیزه غبرګه مصرعه ترینه جوړه شي -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم اوږد رکني بحر

دا بحر د دویم اوږدۀ رکن | ۱ ُ۲ ۳ ۴ | چې دویم سیلاب یې خجن دے ، د تکرار نه جوړېږي - د دې رکن لومړے، دریم او څلورم سیلابونه سپک وي - د رکن د تکرار لۀ مخې د دې بحر څلور ښاخونه دي - هر ښاخ یې د درو سیلابونو نیمګړے رکن هم غواړي -

۱ - <u>دویم اوږد رکني بحر (لوم ے اخ)</u> : دا بحر د دویم اوږد رکني بحر تر ټولو لنډ ښاخ دے-پۀ دې بحر کښې دویم اوږد رکن | ۱ ُ۲ ۳ ۴ | یو ځل پۀ پوره توګه راځي او بیا پۀ بل ځل د درې سیلابیز نیمګړي رکن پۀ صورت کښې - د دې بحر مصرعه اووۀ (۷) سیلابه وي - د دې ښاخ پۀ مصرعه کښې خجن سیلابونه دویم او شپږم دي - د غازي سیال یو نظم چې عنوان یې دے "کشمیریه ازادېږي" پۀ هم دې ښاخ کښې شوے دے ، د نمونې پۀ طور لومړي څو شعرونه ترېنه راخیستي شوي دي :

کشمیر به ا ز ا د ېږ ي

دا خوب به رښتیا کېږي

تر څو به پۀ دا خاوره

دا سرې وینې بهېږ ي

پۀ دغه سرو لمبو کښې

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلان به زرغونېږي

فریاد د مظلومانو

تر عرشه به رسېږي

د خوېندو لوپټو نه

ببرغ به راجوړېږي

یو ځل د لوستلو نه پس د دغو شعرونو د دې بحر په

رکنونو کښې داسې تقطیع کوم :

| ۱ ۲ ۳ ۴ | ۵ ۶ ۷ ۸ |

| کش مېر به ا | زا دې بږ ي - |

| دا خوب به رښ | تیا کې ږي - |

| تر څو به په | دا خاو ره - |

| دا سرې وي نې | ب هې ږي - |

| په د غه سرو | لم بو کښې - |

| ګ لان به زر | غو نې ږي - |

| فر یاد د مظ | لو ما نو - |

| تر عر شه به | ر سې ږي - |

| د خوین دو لو | پ ټو نه - |

| بې رغ به را | جو ړې ږي - |

نیمګړے رکن ------- ا

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ - دويم اوږد رکني بحر ( دويم ااخ) : ددې

ښاخ مصرعه د لومړي ښاخ د مصرعې نه څلور سپلابه اوږده ده-پۀ دې بحر کښې دويم اوږد رکن | ۱ ۲ ۳ ۴ | دوه ځله پۀ پوره توګه راځي او بيا پۀ اخير کښې پۀ درې سپلابيز نيمګړي شکل کښې - د دې بحر مصرعه يولس (۱۱) سپلابه وي - اوس به د دې ښاخ يو غزل را اخلم :

پر سد وم لېو کړم د يا ر ستړګو
زۀ هم د کار سړے کړم د يار ستړګو
بې مينې ژوند پۀ مرګ باندې حساب دے
زۀ مړ وم را ژوند ےکړم د يار ستړګو
پو هېږ مه چې هيڅ لا هم نۀ يم
ورځمه که يو کړم د يا ر ستړګو
کېد ے شي که و يار ته مې ورخپل کړي
لۀ ځانه خو پرد ے کړم د يار ستړګو
چې مات شومه د خپل زړګي پۀ سر کښې
زۀ د ا سې يو ا غز ے کړم د يار ستړګو

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې بحر په قالب کښې يې په لاندينې توګه تقطيع کوم :

| ۱ ۲ ۳ ۴ | ۵ ۶ ۷ ۸ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ |

|پر سُد وم لې |و ُکړم د |يار ستُر ګو -|

|زۀ هُم د کار |س ړُے کړم د |يار ستُر ګو -|

|بې مُي نې ژوند |پۀ مُرګ بان دې |ح سُاب دے -|

|زۀ مُړ وم را |ژون دُے کړم د |يار ستُر ګو -|

|پو هُې ږ مه |چې هُيڅ لا |هم نُۀ يم -|

|ور ځُ مه که |يو ُکړم د |يار ستُر ګو -|

|کې دُے شي که |و يُار ته مې |ور خپُل کړي -|

OWNED BY 0300 9792115

|لۀ ځُا نه خو |پر دُےکړم د |يار ستُر ګو -|

|چې مُات شو مه |د خپُل زړګي |پۀ سُر کښې -|

|زۀ دُا سې يو |اغ زُےکړم د |يار ستُر ګو -|

۱ــــــــــــ۲ــــــــ نيمګړے رکن

پۀ تقطيع کښې دا ليد شي چې د دولسم سېلاب خانه خالي ده ، نو د ا خلور واړه مصرعې يولس يولس (۱۱) سېلابونه لري - د دغو مصرعوخجن سېلابونه دويم، شپږم او لسم دي - دويم اوړد رکن هم دوه ځله پۀ پوره شکل کښې را دے او يو ځل پۀ نيمګړي شکل کښې -

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣ - دویم اوږد رکني بحر ( دریم ښاخ) : پهٔ دې

ښاخ کښې هم هغه دویم اوږد رکن | ١ ٢ ٣ ٤ | کارو شي خو

دا ښاخ د دې بحر د دویم ښاخ نه پهٔ دې وجه بېل دے چې پهٔ دې

کښې دغه رکن پهٔ پوره شکل کښې درې ځله تکرار کېږي او پهٔ اخیر

کښې پهٔ درې سیلابېز نیمګړي شکل کښې - اوس د لوستلو د پاره د

مطیع الله قریشي یو غزل چې پهٔ هم دې بحر کښې دے ، وړاندې

کوم :

اشنا ! خپله وعده لږه محکمه کړه چې څمه

زړګے مې بیا د بل دیدن پهٔ طمعه کړه چې څمه

ستا غم مې غموي که پهٔ شهرت مې خفا کېږے

خپل غم راځینې واخله ما بې غمه کړه چې څمه

شپه لاړه د رخصت پهٔ اخیستو کښې سپین صبا شو

تهٔ زلفې را خورې کړه رڼا کمه کړه چې څمه

ما ستا لهٔ دره ببرته د تلو لار لیدلې نهٔ ده

دا لار خو تر څهٔ ځایه را ته سمه کړه چې څمه

پهٔ تلو کښې یې ویئل چې قریشي بیا به راځمه

خوسترګو یې ویئل چې خاطر جمعه کړه چې څمه

د غزل د لوستلو نه پس یې د دې ښاخ پهٔ رکنونو کښې تقطیع کوم :

(c) ketabton.com: The Digital Library



|۱ ُ۲ ۳ ۴ | ۵ ُ۶ ۷ ۸ | ۹ ۱۰ ۱ُ۱ ۱۲ | ۱۳ ۱۴ ُ۱۵ ۱۶|

|اش نُا خپ له|وع دُه ل بڼه|مح كُ مه كړه| چې ځُ مه ¯|

|ازړ ګُے مې بيا| د بُل دي دن|پۀ طُ معه كړه| چې ځُ مه ¯|

|استا غُم مې غ| م وُي كه پۀ| شه رُت مې خ| فا كُې بڼے ¯|

|خپل غُم را ځي|نې واُخ له ما| بې غُ مه كړه|چې ځُ مه¯|

|شپه لُا ړه دا| رخ صُت پۀ ا| خيس تُو كښې سپين| ص بُا شو¯|

|تۀ زُل فې را|خو رُې كړه ر| ڼا كُ مه كړه| چې ځُ مه ¯|

|ما ستُا لۀ دا| ره بېُر ته د| تلو لُار لي د| لې نُۀ ده ¯|

|د ا لُار خو تر| ځۀ ځُا يه را| ته سُ مه كړه| چې ځُ مه¯|

|پۀ تلُو كښې يې| وي ئُل چې ق| ارې شُي بيا به| راځُ مه¯|

OWNED BY 0300 9792115

|خو ستُر ګو يې| وي ئُل چې خا| طر جُ معه كړه| چې ځُ مه¯|

۱ــــــــ۲ــــــــ۳ــــــــ نيمګړے ركن

د دې ښاخ مصرعه پنځلس (۱۵) سېلابه وي د تقيطيع پۀ تجربه كښې دا ښكاره شوه چې دويم اوبد ركن درې ځله پوره او پۀ اخير كښې درې سېلابيز نيمګړي شكل كښې را او خجن سېلابونه يې دويم، شپږم، لسم ا و څوارلسم دي - دا ښاخ هم پۀ پښتو شعر كښې زيات ليدل كېږي- د ښاخ د اهميت او شهرت لۀ مخې ، د تمرين د پاره د سليم قرار لۀ يوۀ غزل نه څو شعرونه وړاندې كوم لوستونكي كولې شي چې پخپله يې د تقطيع هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي ولې چې د تقطیع مهارت پهٔ مشق منحصر دے۔

ولاړ را ته واعظ دے د جنت پهٔ مناري
وهلې مې تکیه ده د رحمت پهٔ مناري
کوترې به د امن بچي چرته زېږوي
تاو شوي چې ماران دي د قیادت پهٔ مناري
خپل وس پرې حاسدانو، جابرانو کړ تمام
لا خو نخښې لرو د مروّت پهٔ مناري
بیا هم رابانديې ګران دے داسې ګران لکه جنان
رقیب که وي ولاړ د رقابت پهٔ مناري
قراره! اور چې لګي پهٔ جونګړې د ښائست
لړزان دې ولې راشي د جرأت پهٔ مناري

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴ - دويم اوږد رکني بحر ( لورم ماخ)

بحر مضارع د عربي عروضو د مرکب (د مفرد بحرونو د ګډون نه مرکب بحر جوړېږي) بحرونو څخه يو مشهور بحر دے په دې بحر کښې نرمي او پست وا وي- د بحر مضارع سالم وزن داسې وي :

مفاعيلن فاعلاتن مفاعيلن فاعلاتن

د دې بحر د مصرعې په اوله برخه کښې دوه جلا جلا رکنونه راځي ، دويمه برخه کښې يې تکرار دے نو په دې وجه دا مصرعه په دوو سمو حصو کښې تقسيمېږي -

د دې بحر يو زحاف بحر مضارع مثمن (په يوه مصرعه کښې څلور او په دوو مصرعو کښې اته رکنونه) اخرب دےچې وزن يې داسې دے :

OWNED BY 0300 9792115

مفعول فاعلاتن مفعول فاعلاتن

په دې زحاف کښې هم په دوو جلا جلا رکنونو مصرعه شروع شي او د مصرعې په دويمه برخه کښې د لومړئ برخې تکرار وي - د بحر مضارع سالم په مصرعه کښې شپاړس سېلابونه وي او په زحاف مثمن اخرب کښې دولس - سالم شکل وي که زحاف ، د دې بحر مصرعه يوه غبرګه مصرعه وي -

د عبد العلي کاکړ يو غزل چې په بحر مضارع مثمن اخرب کښې شوے وو ، ترېنه يوه مصرعه را اخلو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



یار درومي او زۀ نۀ مرم هرګوره بې وفا یم

د دې مصرعې پۀ اولې برخې کښې داسې رکن استعمال شوے دے چې دویم سېلاب یې خجن دے ، دا رکن دوه ځله تکرار شوے دے د دې مصرعې د اولې برخي وزن هم د مفعول فاعلاتن وزن دے - د مصرعې دویمې برخې کښې د اولې برخې تکرار دے -دا مصرعه د اوو سېلابونو غبرګه مصرعه ده-

د دې بحث نه پس سړے دې نتیجې ته را رسي چې د عروضو تصور نه مخکښې د پښتو کوم شعرونه چې پۀ بحر مضارع کښې لیکلي شوي وو هغه نن د پښتو خپلو عروضو "دویم اوږد رکني بحر" پۀ څلورم ښاخ کښې راځي-

OWNED BY 0300 9792115

دا ښاخ هم د دویم اوږدۀ رکن (۱ ۲ ۳ ۴) د تکرار څخه جوړېږي- د دویم اوږد رکني بحر تر ټولو وړه مصرعه د لومړي ښاخ اووۀ (۷) سېلابیزه مصرعه ده - دا اووۀ سېلابیزه مصرعه چې دوه ځله یوه پۀ بلې پسې کړې شي نو د څوارلسو (۱۴) سېلابونو یوه غبرګه مصرعه به ترېنه جوړه شي - دا غبرګه څوارلس سېلابیزه مصرعه د دې بحر پۀ څلورم ښاخ کښې راځي - د څلورم ښاخ هره مصرعه څلور رکنونه لري چې لومړے او دریم رکن یې پۀ پوره شکل تکرار کېږي خو دویم او څلورم رکن یې پۀ نیمګړي شکل کښې-اوس د غازي سیال هغه نظم(کشمیر به ازادېږي) چې ددې بحر پۀ لومړي ښاخ کښې دے ، دلته پېش کوم :

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشمیر به ازاد یږي
دا خوب به رښتیا کېږي
ترڅو به پۀ دا خاوره
دا سرې وینې بهېږي
پۀ دغه سرو لمبو کښې
ګلان به زرغونېږي
فریاد د مظلومانو
تر عرشه به رسېږي
د خوېندو لوېڅو نه
بېرغ به را جوړېږي

OWNED BY 0300 9792115

د دې نظم هره مصرعه اووۀ (۷) سېلابه ده او خجن سېلابونه یې دویم او شپږم دي اوس به د دغو مصرعو نه لږ ساعت د پاره څوارلس (۱۴) سېلابېزې غبرګې مصرعې جوړول پکار وي چې د دې ښاخ پۀ سانچه کښې ځاي شي - لاندینې پنځۀ غبرګې مصرعې به پۀ دې ډول پۀ لاس راشي -

کشمیر به ازاد یږي دا خوب به رښتیا کېږي
ترڅو به پۀ دا خاوره دا سرې وینې بهېږي
پۀ دغه سرو لمبو کښې ګلان به زرغونېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فریاد د مظلومانو تر عرشه به رسېږي

د خوبندو لوپټو نه بېرغ به را جوړېږي

اوس به دا مصرعې د دې ښاخ په رکنونو کښې تقطیع غواړي ؛

| ۱ ۲ ۳ ۴ | ۵ ۶ ۷ ۸ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ | ۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۶ |

اکش مېربه ا زا دې ږ ي ا دا خوب به ربښ ا تیا کې ږي ا

ا تر څو به پۀ ا دا خاو ره ا ادا سرې وي نې ا ب هې ږ ي ا

اپۀ دغه سروا لم بو کښې ا اکلان به زر ا غو نې ږي ا

ا فر یاد د مظ ا لو ما نو ا تر عر شه به ا ر سې ږ ي ا

ا د خوبن دو لو ا پ ټو نه ا بې رغ به را ا جو ړې ږي ا

۱------ نیمګړے رکن------۲------نیمګړے رکن

OWNED BY 0300 9792115

د دې ښاخ د مصرعو د میځینې نیمګړي رکن

(اتم سپلاب د غورځېدو) لۀ کبله به لوستو پۀ اووم سپلاب لړ غوندې ایسارېږي ، پۀ روانه توګه یا بې د وقفې یې نه شي لو - د دې ښاخ د مصرعې خجن سپلابونه دویم ، شپږم، لسم او څوارلسم دي خو چې کله یې یو لوستو لولي نو د وینا پۀ وخت کښې وروستیني دوه خجن سپلابونه یوه درجه را مخکښې شي او نهم او دیار لسم شي ، دا ځکه چې وقفه یا سکته د وینا پۀ وخت کښې پۀ سپلاب نۀ حسابېږي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريم اوږد رکني بحر

کوم وخت چې نړۍ د ازاد نظم سره لا اشنا شوې نۀ وه او کوم وخت چې د پښتو ادب د عروضو سره نۀ وو اشنا شوې ، هغه وخت (۱۶۰۳ - ۱۶۱۲عيسوي) اخون درويزه بابا رح مخزن وو، چې پۀ کوم ادبي صنف کښې يې وو هغې ته نن ازاد نظم وايي او چې پۀ کوم وزن کښې يې وو هغې ته نن د پښتو عروضو "دريم اوږد رکني بحر" وايي (پۀ دې مفروضو باندې بايد چې خبرنې وکړې شي) - د مخزن اتۀ سېلابيزې کرښې د ذکر شوي بحر پۀ دويم ښاخ کښې راځي ، دولس سېلابيزې کرښې يې پۀ دريم ښاخ او شپاړس سېلابيزې کرښې يې پۀ څلورم ښاخ کښې راځي -

دا بحر د دريم اوږدۀ رکن | ۱ ۲ ۳ ۴ | چې دريم سېلاب يې خجن دے ، د تکرار نه جوړېږي - د دې رکن لومړے، دويم او څلورم سېلابونه سپک وي - د رکن د تکرار لۀ مخې د دې بحر څلور ښاخونه دي - د دې بحر ځانګړتيا دا ده چې د دې هيڅ يو ښاخ هم نيمګړے رکن نۀ غواړي بلکه د خپل سالم شکل پۀ تکرار سره مصرعه پوره کو شي - دا بحر پۀ پښتو شاعرۍ کښې تر ټولو بحرونو زيات کارو شوے دے-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱ - د ریم اوږد رکني بحر ( لوم ے اخ)

پۀ دې ښاخ کښې دریم اوږد رکن ۱|۲ ۳ ۴| پۀ پوره توګه یو ځل راځي او نیمګړي رکن ته اړتیا نۀ لري - د دې ښاخ مصرعه څلور(۴) سپلابه ده او دریم سپلاب یې خجن دے او لومړے ، دویم او څلورم سپلابونه یې سپک دي - دا د پښتو شاعرۍ تر ټولو وړه مصرعه ده - هم دا وجه ده چې د دې بحر دا ښاخ ډېر کم کارو شوے دے -

اوس یو ځل د لوستلو د پاره د غازي سیا لؔ د یوۀ غزل نه لومړي څو شعرونه را اخلم :

OWNED BY 0300 9792115

تۀ مغرور
زۀ مجبور
خاو رې شه
ستا غرور
تۀ مې خان
زۀ مزدور
زۀ دې ورور
تۀ تربور
نیت کښې شته
څۀ فتور

اوس یې د دې ښاخ پۀ سانچه کښې یې ځایوم :

(c) ketabton.com: The Digital Library



| ۱ ۲ ۳۴ |

| تۀ مغ رُور - |

| زۀ مج بُور - |

| خاو رې شُه - |

| ستا غ رُور - |

| تۀ مې خُان - |

| زۀ مز دُور - |

| زۀ دې وروُر - |

| تۀ تر بُور - |

| نيت کښې شتُه - |

| خۀ ف تُور - |

۱

لکه څنګه باندې ذکر وشو چې د دې ښاخ مصرعه څلور سپېلابونه لري ، خو دا مصرعه درې (۳) سپېلابونه لري - اوس چې درې سپېلابونه ولې لري ؟ ګران لوستونکي به د تېرو پاڼو پۀ مرسته د دې سوال د پاره جواب ولټوي -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ - د ریم اوږد رکني بحر (دویم ښاخ)

د لومړي ښاخ نه د دې دویم ښاخ مصرعه څلور سېلابه اوږده ده، څکه چې په دې ښاخ کښې دریم اوږد رکن |۱ ۲ ۳ ۴| په پوره توګه دوه ځله تکرارکېږي ،او نیمګړے رکن هم نۀ غواړي - د دریم اوږد رکني بحر ټول ښاخونه داسې دي چې هغه د خپل سالم شکل په تکرار مصرعه پوره کولې شي- د دې ښاخ مصرعه اتۀ (۸) سېلابونه لري - د نورو بحرونو د لنډو ښاخونو سره که دې ښاخ مقابله کوو نو دا ښاخ ډېر زیات کارو شوے دے ؛ غزل ، نظم او اولسي شاعرۍ هم په دې ښاخ کښې ډېره زیاته شوې ده - اوس د رحمان باباؒ د یوۀ غزل نه څو شعرونه وړاندې کوو چې هم دې ښاخ کښې دے-

د دلبرو په درګاه
نۀ حرمت لرم نۀ جاه
غوخوي مې د زړۀ ولې
د چشمانو په نګاه
هومره قدر مې هم نۀ شته
لکه قدر د ګیاه
هیڅ خبر لۀ ځانه نۀ یم
چې زۀ څۀ لرم ګناه
د رحمان په خیر دې نۀ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حا ل ا حو ا ل د چا تباه

د رحمان بابا ؒ لۀ غزل لوستلو نه وروستو يې اوس د دې

ښاخ پۀ رکنونو کښې تقطيع کوم :

|۸ ۷ ۶ ۵ | ۴ ۳ ۲ ۱|

| د دل بُ روا پۀ در ګُاه (ˉ) |

| نۀ حر مُت ل ا رم نۀ جُاه (ˉ) |

| غو خ وُي مې ا د زړۀ وُ لې |

| د چش مُا نو ا پۀ ن ګُاه (ˉ) |

| هوم ره قُ در ا مې هم نُۀ شته |

| ل که قُ در ا د ګک يُاه (ˉ) |

| هيخ خ بُر لۀ ا ځا نه نُۀ يم |

| چې زۀ څُۀ ل ا رم ګک نُاه (ˉ) |

| د رح مُان پۀ ا څېر دې نۀ شي |

| حال اح وُال د ا چا ت بُاه (ˉ) |

۱ــــــــــــــ۲

OWNED BY 0300 9792115

د دې ښاخ مصرعه اتۀ (۸) سپلابه ده ا و خجن سپلابونه يې دريم او اووم دي -که پۀ ژور نظر ورته وکتل شي نو دا هم ترېنه څرګندېږي چې دا ښاخ د دريم بحر د لومړي ښاخ غبرګک شکل دے - پۀ دې تقطيع کښې دا هم ښکاره شوه چې مطلع او هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



همقافیه مصرعه اووهٔ (۷) سپلابه ده او بې قافیه مصرعه اتهٔ (۸) سپلابه ده او بحر ته هیڅ تاوان هم نهٔ دے رسېد - د دې خبرې سپیناوي د پاره به یو ځل بیا لوستونکو ته د اوږد سپلاب ځانګړ تیاوې کتل پکار وي -

## ۳ - د ریم اوږد رکني بحر ( د ریم ااخ)

پهٔ دې ښاخ کښې هم هغه دریم اوږد رکن | ا ۲ ۳ُ ۴ | چې دریم سپلاب یې خجن وي ، کارو شي خو دا ښاخ د دې بحر د دویم ښاخ نه پهٔ دې وجه بېل دے چې پهٔ دې کښې دغه رکن پهٔ پوره شکل کښې درې ځله تکرار کېږي نو د دې ښاخ مصرعه به دولس (۱۲) سپلابه اوږده وي- لکه د دې بحر نورو ښاخونو،دا ښاخ هم پهٔ اخیر کښې نیمګړي رکن ته اړتیا نهٔ لري - خجن سپلابونه یې دریم،اووم او یولسم دي- دا ښاخ هم ډېر زیات کارو شوے دے - لهٔ پخوانیو شاعرانو واخله تر ننه پورې پهٔ دې ښاخ کښې غزل او د نظم پهٔ صورت کښې ډېر زیات لیکل شوي دي ، او نن هم لهٔ ډېرو بحرونو زیات قبول کړے شوےدے - پهٔ دې بحر کښې د رحمان بابا رح د یوهٔ غزل نه څو شعرونه وړاندې کوم:

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



پۀ ښائست زما د يار نۀ دي خبرڅوک
که خبرشي پرې به نۀ بېدي دغه درڅوک
د دنيا چارې همه واړه فاني دي
برناحقه خاورې نولي پۀ خپل سر څوک
که زما د يار پۀ مخ دچا نظر شي
و بۀ نۀ کاندي بل خوا وته نظر څوک
د ديدن طاقت يې هيچا سره نۀ شته
وافتاب ته نۀ شي برابر څوک
چې بېلتون پۀ سترګو ويني اشنايي کا
د رحمان پۀ څېر به نۀ وي باهنر څوک

OWNED BY 0300 9792115

د لوستلو نه وروستواوس يې د دې ښاخ پۀ رکنونو کښې
تقطيع کوم :

| ۱ ۲ ۳ ۴ | ۵ ۶ ۷ ۸ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ |

| پۀ ښا ئُست زا ما د يارُ نۀ | دي خ بُر څوک |
|که خ بُر شي | پرې به نُۀ بېدي | د غه دُر څوک |
| د دن يُا چا | رې ه مُه وا | ړه فا نُي دي |
|بر نا حُ قه | خاو رې نُو لي | پۀ خپل سُرڅوک |
|که ز مُا د | يار پۀ مُخ د | چا ن ظُر شي |
| و به نُۀ کان | دي بل خُوا و | ته ن ظُر څوک |
| د دي دُن طا | قت يې هُي چا | س ره نُۀ شته |

(c) ketabton.com: The Digital Library



ا و اف تُاب ته ا ك نُۀ شي ا ب را بُر ځوكا
ا چې ښېل تُون پۀ ا ستر ګو وي ني ا ا ش نا يُي كا ا
ا د رح مُان پۀ ا ځېر به نُۀ وي ا با ه نُر ځوك ا
ا ـــــ ۲ ـــــــــ ۳

۴ - د ريم اوږد رکني بحر ( لو رم اخ)

پۀ دې ځلورم ښاخ کښې هم هغه دريم اوږد رکن ا ا ۲ ۳ُ
۴ا چې دريم سپلاب يې خجن وي ، كارو شي خو دا ښاخ د دې
بحر د دريم ښاخ نه پۀ دې وجه ښېل دے چې پۀ دې ښاخ کښې دغه
رکن پۀ پوره شکل کښې ځلور ځله تکرار کېږي نو د دې ښاخ
مصرعه به شپاړس (۱٦) سپلابه اوږده وي - دغاړو اتۀ سپلابيزې دوې
مصرعې د دې ښاخ يوه غبرګه مصرعه جوړوي - لکه د دې بحر نورو
ښاخونو دا ښاخ هم پۀ اخير کښې نيمګړي رکن ته اړتيا نۀ لري -
خجن سپلابونه يې در يم،اووم ، يولسم او پنځلسم دي - پۀ پښتو
شاعرۍ کښې دا ښاخ هم ډېر زيات كارو شوے دے - د خوشال
خان بابا د يوۀ نظم (د دنيا بې ثباتي او بې وفايي) نه ځو شعرونه
وړاندې کوم :

همراهانو د دې کوچ وکړ واړه لاړل تر منزله
تۀ لا کلك پۀ خوب اودۀ يې، اې زما دله غافله
لۀ نيستۍ نه و هستۍ ته لۀ هستۍ نه و نيستۍ ته
كا ر و ا نونه دي چلېږي ، قوا فله ، قوا فله

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا پهٔ دریاب ډوبه ! د پایاب طمعه و مه کړه
دا پایاب دي ډېرو غوښتي خبر نهٔ شول لهٔ ساحله
چې ګفتار کردار یې واړه موافق سره یو رنګ شي
هله هر رنګه خبره ، اثر کاندي لهٔ قایله
پهٔ زیبا ګفتار دې هیڅ تقصیر و نهٔ کړهٔ خوشاله !
که کردار دې هم زیبا وه ، چار به ولې وه مشکله

او یې د دې ښاخ پهٔ عروضي قالب کښې اچوم :

| ۱ ۲ ۳ ۴ | ۵ ۶ ۷ ۸ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ | ۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۶ |

| هم را هاُ نوا | دې کوچ وُ کړا | وا ړه لُا ړل | تر من زُ له |
| تهٔ لا کلُک پهٔ | اخوب او دهٔ یې | اې زماُ د | له غا فُ له |
| لهٔ نېس تُی نه | و هس تُی ته | لهٔ هس تُی نه | و نېس تُی ته |
| کار وا نُو نه | دي چ لُې بڼي | ق وا فُ له | ق وا فُ له |
| د دن یُا پهٔ | دریاب ډُوبه | د پا یُاب ط | معه و مُه کړه |
| دا پا یُاب دي | ډې رو غُوښ تي | اخ بر نُهٔ شول | لهٔ سا حُ له |
| چې ګف تُار کر | دار یې واُ ړه | م وا فُق س | ره یو رُنګ شي |
| ه له هُر رن | ګه خ بُ ره | ا ثر کُان دي | لهٔ قا یُ له |
| پهٔ زې بُا ګف | تار دې هُی خهٔ | تق صیر وُ نهٔ | کړهٔ خو شُا له ! |
| که کر دُار دې | هم زې بُا وه | چار به وُ لې | وه مش کُ له |

۱ - - - - - - ۲ - - - - - - ۳ - - - - - - - - - - ۴

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم اوږد رکني بحر

دا بحر د څلورم اوږدۀ رکن | ۱ ۲ ۳ ۴ | چې څلورم سپلاب يې خجن دے ، د تکرار څخه جوړېږي - د دې رکن لومړے، دويم او دريم سپلابونه سپک وي - د رکن د تکرار لۀ مخې د دې بحر هم لکه د نورو بحرونوڅلور ښاخونه دي - د ا بحر هم لکه د لومړي او دويم اوږد رکني بحر درې سپلابيز نيمګړے رکن غواړي او د خپل سالم شکل پۀ تکرار سره مصرعه نۀ شي پوره کولې - د دې رکن پۀ څلورم سپلاب باندې خج وي نو پۀ نيمګړي رکن کښې دا اخيري (څلورم) خجن سپلاب وغورځېږي او درې سپک سپلابونه يې نيمګړے رکن | ۱ ۲ ۳ -| جوړوي -

OWNED BY 0300 9792115

## ۱ - لو رم اوږد رکني بحر ( لوم ے اخ)

پۀ دې ښاخ کښې څلورم اوږد رکن | ۱ ۲ ۳ ۴ | يوځل پۀ پوره توګه او بل ځل پۀ درې سپلابيز نيمګړي شکل کښې راځي - د دې نيمګړي رکن يې خجن (څلورم) سپلاب غورځېد وي ځکه د دې ښاخ د مصرعې وزن فقط پۀ يوۀ (څلورم) سپلاب باندې ولاړ وي - د دې ښاخ مصرعه اووۀ (۷) سپلابه وي - پۀ دې ښاخ کښې غزل هم شته او نظم هم -

د غازي سيال يو غزل چې پۀ دې ښاخ کښې دے ،ترېنه څو شعرونه را اخلم :

(c) ketabton.com: The Digital Library



و رکه شه دا زندګي
دا بې لهٔ تا زندګي
څهٔ به څوک ناز پرې وکړي
نهٔ شوه د چا زندګي
زهٔ د هغې زندګي
هغه زما زندګي
چا ته پرانستې غېږه
چا نه خفا زندګي
وایه تېرېږي څنګه
سیا له ! پهٔ تا زندګي

اوس دا باندیني شعرونه د دې ښاخ پهٔ رکنونو کښې وېشم :

|۱ ۲ ۳ ۴| ۵ ۶ ۷ ۸|
|ور که شه دا |زن د ګي -|
|دا بې لهٔ تا |زن د ګي -|
|څهٔ به څوک ناز |پرې وک ړي -|
|نهٔ شوه د چا |زن د ګي -|
|زهٔ د ه غې |زن د ګي -|
|ه غه ز ما |زن د ګي -|

(c) ketabton.com: The Digital Library



| چا ته پرا نُس | تې غې ږه - |
| چا نه خ فُا | زن د ګي - |
| وا يه تې رُې | ږي خن ګه - |
| سيا له پۀ تُا | زن د ګي - |

ا------نيمګړے رکن

## ۲ - لو رم اوږد رکني بحر (دويم ا خ)

پۀ دې ښاخ کښې څلورم اوږد رکن | ا ۲ ۳ ۴ | دوه ځله پۀ پوره توګه او بل ځل پۀ دريم سپلابيز نيمګړي شکل کښې راځي - د دې نيمګړي رکن يې خجن (څلورم) سپلاب غورځېد وي ځکه د دې ښاخ د مصرعې وزن فقط پۀ دوو خجنو (څلورم او اتم) سپلابونو باندې ولاړ وي - د دې ښاخ مصرعه يولس (۱۱) سپلابونه لري - پۀ دې ښاخ کښې غزل هم شته او نظم هم - پۀ دې ښاخ کښې ليکلي شوي د جاوېد احساس د يوۀ غزل نه څو شعرونه وړاندې کېږي :

زما لۀ خلقو ائينه ورکه ده
پۀ ائينه کښې ترې څهره ورکه ده
پۀ افسانه کښې حقيقت ورک شوے

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ حقیقت کښې افسانه ورکه ده
لهٔ ما هم ستا کړې وعده هېره وه
پرېږده که ستا نه بهانه ورکه ده
ما ته ستر وړور د پلارېهٔ ځاي دے مګر
د دهٔ د سر نه خو سایه ورکه ده
اوس مینه هم شوه تجربه د احساس
اوس پکښې زړهٔ ورک دے جذبه ورکه ده

د لوستلو نه پس د جاوېد احساس د غزل تقطیع به پهٔ دې ډول کېږي:

| ۱ ۲ ۳ ۴ُ | ۵ ۶ ۷ ۸ُ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ |

OWNED BY 0300 9792115

| ز ما لهٔ خُل | قو ا ئي نُه | ور که ده ¯ |
| پهٔ ا ئي نُه | کښې ترې څه رهُ | ور که ده ¯ |
| پهٔ اف سا نُه | کښې ح قي قُت | ورک ش وے ¯ |
| پهٔ ح قي قُت | کښې اف سا نُه | ور که ده ¯ |
| لهٔ ما هم ستُا | کړې وع دهُ | هې ره وه ¯ |
| پرېږ ده که ستُا | نه ب ها نُه | ور که ده ¯ |
| ما ته ستر ورُور | د پلار پهٔ ځُاي | دے م ګر ¯ |
| د دهٔ د سُر | نه خو سا يُه | ور که ده ¯ |
| اوس مي نه هُم | شوه تج ر بُه | د ا ح ساس ¯ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| اوس پ کښې زړۀ اورك دے جذ بُه | ورکه ده -|

ا-------۲---------نیمګړے رکن

دا بحر هم ډېر زیات استعمال شوے دے او نن هم ډېر زیات استعمال کېږي نو د اهمیت لۀ مخې ، د لوستونکو د مشق او تمرین د پاره دلته د حمزه بابا د یوۀ غزل نه څو شعرونه وړاندې کوم - لوستونکي کولي شي چې د حمزه بابا د دغو شعرونو تقطیع پۀ خپله وکړي -

تل به پۀ لار د مېړنو سره ځم
یمه پښتون د پښتنو سره ځم
پام کوه زۀ هغه نظر نۀ یمه
چې به پۀ دود د سپېلنو سره ځم
راستنېدے چې نۀ شي وخت خو نۀ یم
خو د حالت د تقاضو سره ځم
ولاړ م مستقبل ته د ماضي روایات
زۀ د خپل حال د ولولو سره ځم
حمزه ! سفر که د حجاز وي نو هم
زۀ د پښتون د قافلو سره ځم

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ - لو رم اورد رکني بحر ( دریم ناخ)

رمل د عربي عروضو د مفرد بحرونو څخه يو بحر دے او د اردو مقبول ترينه بحرونو څخه يو دے د علامه اقبال څلوېښت فيصده شاعري پۀ دې بحر کښې ده- د بحر رمل سالم اصلي وزن داسې دے :

فاعلا تن فاعلا تن فاعلا تن فاعلا تن

د بحر رمل سالم شکل پۀ مقابله کښي د دۀ زحاف (زحاف پۀ رکنونو کښې تغير يا کمي بېشي ته وايي ، د زحاف پۀ ځاي پۀ پښتو کښې د " نيمګړي رکن " اصطلاح شتون لري ) زيات کارول کېږي - د بحر رمل يو زحاف ، بحر رمل مثمن مقصور (يوه مصرعه کښې څلور رکنونه يا پۀ دوو مصرعو کښې ا تۀ رکنونه خو چې څلورم رکن يې نيمګړے وي) دے چې وزن يې داسې دے :

فاعلا تن فاعلا تن فاعلا تن فاعلن/ فاعلات

OWNED BY 0300 9792115

د بحر رمل سالم يا اصلي وزن شپاړس سپلابونه لري او دا ذکر شوے زحاف يې پنځلس - پۀ بحر رمل سالم کښې "فاعلا تن " رکن څلور ځله پوره تکرار شوے دے او پۀ رمل مثمن مقصور کښې درې ځله پوره صورت کښې تکرار شوے دے او پۀ څلورم ځل پۀ نيمګړي صورت کښې - د مياشرف يوغزل چې بحر رمل مثمن مقصور کښې شوے وو ، ترېنه يوه مصرعه را اخلو :

اې چې بلبل د عطا تل پۀ چمن ستا کا چغار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ دې مصرعې کښې يو داسې رکن کارو شوے دے چې هر څلورم سپلاب يې خجن دے ، دا رکن څلور ځله تکرار شوے دے، درې ځله پهٔ پوره صورت کښې او يو ځل پهٔ نيمګړي صورت کښې -

د دې بحث نه سړے دې نتيجې ته را رسي چې د عروضو تصور نه مخکښې د پښتو کوم شعرونه پهٔ بحر رمل کښې ليکلي شوي وو هغه نن د پښتو خپلو عروضو پهٔ " څلورم اوږد رکنې بحر " دريم ښاخ کښې راځي -

پهٔ دې ښاخ کښې هم هغه څلورم اوږد رکن | ۱ ۲ ۳ ۴ | درې ځله پهٔ پوره توګه راځي او بل ځل پهٔ پاي کښې پهٔ درې سپلابيز نيمګړي شکل کښې - د دې نيمګړي رکن يې خجن (څلورم سپلاب غورځېد وي ځکه د دې ښاخ د مصرعې وزن پهٔ درو خجنو (څلورم او اتم او دولسم) سپلابونو باندې ولاړ وي - د دې ښاخ مصرعه پنځلس (۱۵) سپلابونه لري - پهٔ دې ښاخ کښې غزل هم شته او نظم هم -اوس د د مساز شاهين يو غزل وړاندې کوم ، چې پهٔ هم دې ښاخ کښې شوے دے :

خومره پاګل وو چې پهٔ خلهٔ کښې يې لمبه اخيسته
هغه سړي د تا د شونډو چې بوسه اخيسته
د لته چې چا راسره وېش د ورځو شپو کړے دے
ورځ به د دوي پهٔ برخه وه مو نږه به شپه اخيسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي هم رښتیا نۀ خوښول سر تۀ یې امن غوښتو
د انسانیت پۀ قتلِ عام کښې یې حصه اخیسته
هلته د یوۀ خداي خدایي نۀ وه هرې خوا ته خداي وو
مونږ پۀ یواځې ځان به خدا یه ! ستا نامه اخیسته
ژوند ، د روښانه ژوندانۀ علامت مونږ به ګڼې
مونږ به شاهینه ! د تاودې سره سره اخیسته

د لوستلو نه پس د دمساز شاهین د غزل تقطیع بۀ پۀ دې ډول کېږي:

|۱ ۲ ۳ ۴ | ۵ ۶ ۷ ۸|۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ | ۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۶|

|څوم ره پا ګُل|وو چې پۀ خلۀ|کښې یې لم بُه|ا خیس ته ـ|
|ه غه س ړُې|د تا د شُون|ډو چې بو سُه|ا خیس ته ـ|
|د ل ته چې چا|را س ره وېش|د ور ځو شپو|ك ړے دے ـ|
|ورځ به د دُوي|پۀ بر خه وُه|مون ږه به شپُه|ا خیس ته ـ|
|دوي هم رښ تیا|نۀ خو ښ ول|سر تۀ یې اُ|من غوښ تو ـ|
|د ان سان یُت|پۀ قت لِ عام|کښې یې ح صُه|ا خیس ته ـ|
|هل ته د یوُۀ|خداي خدا یي نُۀ|وه ه رې خوا|ته خداي وو ـ|
|مون ږ پۀ یوا|ځې ځان به خدا|یه ! ستا نا مُه|ا خیس ته ـ|
|ژوند د رو ښا|نه ژون دا نُۀ|علا مت مُون ږ|به ګ ڼې ـ|
|مون ږ به شا هې|نه د تاو دُې|س ره س ړُه|ا خیس ته ـ|

۱ ــــــــــ ۲ ــــــــــ ۳ ــــــ نیمګړے رکن

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بحر پۀ پښتو شاعرۍ کښې ډېر زيات استعمال شوے دے او نن خو تر ټولو بحرونو زيات استعمال کېږي - د دې شهرت اوعمومي قبوليت لۀ مخې د مشق ا و تمرين دپاره د عبدالسلام بېتاب يو غزل وړاندې کوم ا و تقطيع يې لوستونکو ته پرېږدم - لوستونکي به دې ته هم پام وکړي چې د دې غزل هم قافيه مصرعې د بې قافيه مصرعو ځخه دکوم اصول لۀ مخې يوه ځپه کمې را ځي-

د چا ګل مخي مسيحا پۀ ا نتظار پروت دے
ميئن دې ګله موده وشوه چې بيمار پروت دے
پۀ دې نه لوي ثبوت د تا د مينې څۀ درکړمه ؟
پۀ مرګ مې هم پۀ سينه ستا د زلفو تار پروت دے
د زړګي درد به مې پۀ دې کښې هم لا ځريکه نۀ کړي
زما پۀ مخکښې زما لوټې لوټې ښار پروت دے
دا پۀ ارمان د سرو ګلونو شهيد شوے ښکا ري
دا چې د سرو ګلونو هار يې پۀ مزار پروت دے
وخت يې شو تېر خو ځي جنان لا پۀ نيولي قدم
لا يې پۀ ذهن کښې د کبر زوړ خمار پروت دے

OWNED BY 0300-9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴ - لو رم اوږد رکني بحر ( لورم اخ)

د د ې بحر تر ټولو لنډ ښاخ لومړے ښاخ دے چې مصرعه يې اووۀ (ے) سپلابه د ه ، دغسې اووۀ سپلابيزې دوې مصرعې چې يوه پۀ بلې پسې کړې شي نو پۀ دې څلورم ښاخ کښې راتلونکې يوه غبرګه مصرعه ترينه جوړه شي - پۀ دې څلورم ښاخ کښې څلورم اوږد رکن ۱ ۲ ۳ ۴ لومړے او دريم ځل پوره تکرار کېږي خو دويم او څلورم ځل نيمګړے تکرار کېږي نو د اتم او شپاړسم سپلاب ځايونه (کوم چې خجن هم دي)به خالي راځي - اوس د ارواښاد طاهر کلاچوي يوۀ غزل ،کوم چې د دې بحر پۀ دريم ښاخ کښې دے ، ته رجوع کوم او څو شعرونه ترينه را اخلم :

OWNED BY 0300 9792115

داسې پۀ خيال او پۀ ډار نيسم د خوبا نو لمن
لکه چې نيسي څوک غريب د بادشا هانو لمن
چې لۀ رخساره د شفق د ناوې وينې څا څي
پرې لګېدلې د ه د چا د سرو لبانو لمن
چې بې نقابه پۀ ډک زړه د يار د يد ن وکړمه
هله به ډکه شي زما د د عاګا نو لمن
د اژ د ها او د لړم نيونه نۀ ده ګرا نه
خو ډېره ګرانه د ه نيو نه د سيا لا نو لمن
خوشبويه ځکه دے طاهره ! ستا د فکر نسيم
پرې لګېدلې ده د حسن د ګلا نو لمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به پهٔ دې غزل کښې لږ ساعت د پاره داسې بدلون راولم چې د شلورم اوږد رکني بحر پهٔ دې شلورم ښاخ کښې ځاې شي ؛ یا به دا ووایم چې د دې بحر د لومړي ښاخ غبرګ شکل ترې جوړوم ؛

نیسم پهٔ خیال او پهٔ ډار ، زهٔ د خوبانو لمن
لکه چې نیسي غریب د باد شاهانو لمن
اوس د شفق د ناوې لهٔ رخسار وینې څاڅي
چا لګولې ده پرې د سرو لبانو لمن
چې بې نقاب پهٔ ډک زړهٔ د یار دیدن وکړمه
شي به مې هله ډکه د دعاګانو لمن
د اژدها ، د لړم نیونه نهٔ ده ګرانه
خوده نیونه ګرانه تل د سیالانو لمن

OWNED BY 0300 9792115

طاهره ! دے خوشبو یه د تا د فکر نسیم
پرې لګېده د حسن د خوګلانو لمن

اوس به یې د دې ښاخ پهٔ قالب کښې تقطیع وکړم :

| ۱ ۲ ۳ ۴ٌ | ۵ ۶ ۷ ۸ٌ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ٌ | ۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۶ٌ |

| ني سم پهٔ خیُال | او پهٔ ډار – | زهٔ د خو باُ | نو ل من – |

| ل که چې نُي | اسيِ غ ریب – | د باد شا هاُ | نو ل من – |

| اوس د ش فُق | د نا وې – | لهٔ رخ سار وُي | نې څا څي – |

| چا ل ګُ وُ | لې ده پرې – | د سرو ل بُا | نو ل من – |

| چې بې ن قُاب | پهٔ ډک زړهٔ – | د یار دي دُن | وک ړ مه – |

(c) ketabton.com: The Digital Library



ا‌شي به مې ه‌ُ ا‌ له ‌ ‌که - ا ا‌د د عا ګُا ا‌نو ل من - ا

ا‌د اژ د ‌هُا ا‌د ل ‌ر‌م - ا ا‌ني و نه نُۀ ا‌ده ګرا نه - ا

ا‌خو ده ني و‌ُ ا‌نه ګرا نه - ا ا‌تل د سيا لُا ا‌نو ل من - ا

ا‌طا ه ره دُ‌ے ا‌خوش بو يه - ا ا‌د تا د فُ ا‌کر ن سيم - ا

ا‌پرې ل‌ګې دهُا د ح سن - ا ا‌د ‌ثو ‌ګ‌ك لُا ا‌نو ل من - ا

ا------نيمګړے رکن ------۲----نيمګړے رکن

د دې ښاخ مصرعه څوارلس (۱۴) سپلابيزه غبرګه مصرعه ده - خجن سپلابونه يې صرف څلورم او دولسم دي - د هر نيمګړي رکن اخيري سپلاب د غورځېدو لۀ مخې د اتم او د شپاړسم سپلابونو پۀ ځاي کښې صرف- دا نخښنه لګولې شوې ده - د لومړي نيمګړي رکن (د اتم سپلاب د غورځېدو) لۀ مخې دلته پۀ وېنا کښې يوه فطري وقفه يا سکته راځي نو لوستو به پۀ اووم سپلاب لږ غونډې تم کېږي - د وېنا پۀ وخت به خجن سپلابونه څلورم او يولسم شي -

OWNED BY 0300 9702115

دلته يوه بله نکته هم د ښکاره کولو وړ ده ، چې که د دې بحر د دريم ښاخ پنځلس (۱۵) سپلابيزې مصرعې نه د مينځ اتم سپلاب لرے شي نو بيا هغه هم دې ښاخ ته راواوړي او دغه شان که د څلورم ښاخ غبرګې مصرعې ته د اتم سپلاب خانې پۀ ځاي يو بل سپلاب ور زيات کړے شي نو دا بيا د دريم ښاخ پۀ مصرعې کښې بدله شي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم اوږد رکني بحر

پۀ څلورم اوږد رکني بحر کښې هم څلورم اوږد رکن ا
۱ ۲ ۳ ۴ ا کارو شوے وو او پۀ دغې پنځم اوږد رکني بحر کښې
هم هغۀ څلورم اوږد رکن کارو شي نو پۀ دې وجه دا دواړه بحرونه
يوۀ بل ته سره نزدې دي - د دغو دواړو بحرونو فرق يواځې پۀ
وروستيني نيمګړي رکن کښې دے- د څلورم اوږد رکني بحر
نيمګړے رکن د درو سېلابونو وي او څلورم يې لوېد وي خو د
پنځم اوږد رکني بحر پۀ وروستيني رکن کښې درې سېلابونه
غورځېږي او نيمګړے رکن يې فقط د يوۀ سېلاب پا شي -

OWNED BY 0300 9792115

د ټپې لومړۍ مصرعه هم ددې پنځم اوږد رکني بحر پۀ
دويم ښاخ کښې او دويمه مصرعه يې پۀ دريم ښاخ کښې راځي - د
رکن د تکرار لۀ مخې دا بحر هم لکه د نورو بحرونو څلور ښاخونه
لري ، خو نن صبا د نوي غزل پۀ لړ کښې نوې نوې تجربې کېږي- لۀ
دغو تجربو څخه يوه دا هم ده چې د دې رکن تکرار د زياتولو سره
يې يو پنځم ښاخ هم مخې ته راځي ا و د دې پنځم ښاخ د مصرعې
اوږدوا شلو سېلابونو ته رسي - اګرچه داسې بېلګې ډېرې لږ دي
خو نن صبا دا رجحان پۀ زياتېدو دے -

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱ - پنځم اوږد رکني بحر (لومړی ډاخ)

پۀ دې ښاخ کښې هماغه څلورم اوږد رکن | ۱ ۲ ۳ ۴ ٬ | یو ځل پۀ پوره توګه او بل ځل د یوۀ سېلاب پۀ نیمګړي شکل کښې راځي معنا یې دا ده چې د پای رکن نه یې درې سېلابونه وغورځېږي - د دې ښاخ مصرعه پنځۀ (۵) سېلابه وي - خجن سیلاب یې څلورم وي اونوره پکښې سپک وي - د دې ښاخ مصرعه د پنځم بحر تر ټولو لنډه یا وړه مصرعه ده - د جاپاني اهنګ دوې هایکوګانې وړاندې کوم :

دعبدالسلام بېتاب هایکو : ۱ ګیله د چا نه

۲ مونږ همېشه ویشتي یو

۳ خپلو د شا نه

د دمساز شاهین هایکو : ۱ چې زړۀ و نۀ خوري

۲ نوره پۀ دې ګرانۍ کښې

۳ غریب به څۀ خوري

پۀ دې هایکو ګانو کښې درې درې مصرعې دي چې لومړۍ مصرعه یې پنځۀ (۵) ، دویمه یې اووۀ (۷)او دریمه یې بیا پنځۀ (۵) سېلابونه لري - د دې هایکوګانولومړۍ او دریمه مصرعه د پنځم اوږد رکني بحر پۀ دې لومړي ښاخ کښې راځي خو دویمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرعه يې د ځلورم اوږد رکني بحر پهٔ لومړي ښاخ کښې راځي - لوستونکي د دويمې مصرعې د تقطيع مشق د ځلورم اوږد رکني بحر پهٔ لومړي ښاخ کښې کولې شي- د لومړۍ او دريمې مصرعې تقطيع به پهٔ دې ډول کېږي :

| ۱ ۲ ۳ ۴ُ | ۵ ۶ ۷ ۸ُ |

اکي له د چُا ا نه - - - ا لومړۍ مصرعه

اخپ لو د شُا ا نه - - - ا دريمه مصرعه

ا------ نيمګړے رکن

| ۱ ۲ ۳ ۴ُ | ۵ ۶ ۷ ۸ُ |

اچې زړهٔ و نُهٔ اخوري - - - ا لومړۍ مصرعه

اغ ريب به خُهٔ اخوري - - - ا دويمه مصرعه

د تقطيع نه وروستو پهٔ عملي توګه دا ښکاره شوه چې د جاپاني اهنګ د هايکو لومړۍ او دريمه ، دواړې مصرعې ، پهٔ هم دې ښاخ کښې دي- د پاى پهٔ رکن کښې دا نخښې - - - درې غورځېدلي سپلابونه (يو سپلابيز نيمګړے رکن) ظاهروي - د دې ښاخ د پنځهٔ سپلابيزې مصرعې وزن پهٔ ځلورم خجن سپلاب باندې ولاړ دے - د دغې ځلورم خجن سپلاب پهٔ ځاي که سپک سپلاب راشي نو دا مصرعه به موزونه پاتې نهٔ شي ،خو که د سپکو سپلابونو پهٔ ځاي خجن سپلاب وي نو هيڅ فرق نهٔ غورځوي -

OWNED BY 0300-9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ - پنځم اوږد رکني بحر (دويم ماخ)

د دې ښاخ مصرعه د لومړي ښاخ د مصرعې نه ځلور ځپې زياته ده ولې چې ځلورم اوږد رکن |۱ ۲ ۳ ۴ | پهٔ پوره توګه پهٔ دې ښاخ کښې دوه ځله تکرار کېږي او د پاي نيمګړے رکن يې هماغه شان د يوهٔ سېلاب دے نو ځکه د دې ښاخ مصرعه نهٔ (۹) اوږده ده - دغه ښاخ زياتره پهٔ بدلو او سندرو کښې ليد شي - د ټپې دوا ړې مصرعې پهٔ پنځم اوږد رکني بحر کښې دي اوله (لنډه) نهٔ سېلابيزه مصرعه يې پهٔ دې دويم ښا خ کښې ده - د غازي سيال يو غزل ، چې پهٔ هم دې بحر کښې دے ، دلته ترېنه څو شعرونه پېش کوم :

OWNED BY 0300 9792115

چې زوروي ، چې ژړوي مې
را ته خپل زور د حسن ښايي
ستا د مزا ج غوندې نا زکه
د ا خلق پرخه ورته وايي
هغه پهٔ ځان کښې نهٔ ځائېږي
سيال پهٔ سندره کښې يې ستايي

د تقطيع دپاره د غه درې شعرونه د دې ښاخ پهٔ رکنونو کښې اچوم :

| ۱ ۲ ۳ ۴ | ۵ ۶ ۷ ۸ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| چې زو ر وُي | چې ژ ړ وُي | مې - - - |
| را ته خپل زُور | د ح سن ښُا | يي - - - |
| استا د م زُاج | غون دې نا | زُ که - - - |
| دا خ لق پُر | خه ور ته | واُ يي - - - |
| ه غه په څُان | کښې نهٔ څا ئُې | ږي - - - |
| سيال پهٔ سن دُ | ره کښې يې ستُا | يي - - - |

۱ ـــــــ۲ـــــــ نيمګړے رکن

مونږه وينو چې پهٔ دې تقطيع کښې د پاي رکن نه اخيريني درې (لسم ، يولسم او دولسم) سېلابونه غورځېدلي دي نو پهٔ دې وجه د پاي رکن نه يو سېلابيز نيمګړے رکن جوړ شو۔ د دې ښاخ مصرعه نهٔ (۹) سېلابه راغله او خجن سېلابونه پکښې خلورم او اتم دي۔

OWNED BY 0300 0702115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ - پنځم اوږد رکني بحر (دریم ماخ)

د دې ښاخ مصرعه د دویم ښاخ د مصرعې نه څلور ځپې زیاته ده ولې چې څلورم اوږد رکن |۱ ۲ ۳ ۴| پۀ پوره توګه پۀ دې ښاخ کښې درې ځله تکرار کېږي او د پاي نیمګړے رکن یې هماغه شان د یوۀ سېلاب دے نو ځکه د دې ښاخ مصرعه دیارلس (۱۳) اوږده ده - دغه ښاخ زیاتره پۀ بدلو او اولسې سندرو کښې لید شي - د ټپې دواړې مصرعې پۀ پنځم اوږد رکني بحر کښې دي، دویمه (اوږده) دیارلس سېلابیزه مصرعه یې پۀ دې دریم ښا خ کښې ده - د دروېش درا نې یو غزل ، چې پۀ هم دې ښاخ کښې دے ، دلته را اخلم :

OWNED BY 0300 9792115

د ګل ګرېوان دے ، د ظالم اغزي لاسونه
خاونده مات شۀ دي د دې سپرلي لاسونه
ما ستا د پاره مانۍ جوړه کړه لۀ ستورو
خپلې جونګړې لره ځم زخمي لاسونه
دا ازادي ده چې هر څوک دې ربېي ژبې
دا اجازه نۀ شته چې وکري لاسونه
دومره به یاد سا چې بل پۀ کا نو و
پر مخ د زمکې هر سړے لري لاسونه
لۀ ډېره وخته یو لۀ بله ګیله من دي
ز ما دروېش تشه لمن ، سخي لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تقطیع دپاره د غه غزل د دې بحر پۀ رکنونو کښې

اچوم :

| ۱ ۲ ۳ ۴ ′ | ۵ ۶ ۷ ۸ ′ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ ′ | ۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۶ ′ |

|د ګل ګرې وُان | دے د ظا لُم | اغ زي لا سُو | نه - - - |

|خا ون ده مُات | ښۀ دي د دُې | سپر لي لا سُو | نه - - - |

|ما ستا د پُا | ره ما نې جُو | ړه کړه لۀ ستُو | رو - - - |

|خپ لې جون ګُ | ړې ل ره خُم | زخ مي لا سُو | نه - - - |

|دا ا زا دُي | ده چې هر څُوك | دې رې بي ژُ | بې - - - |

|دا ا جا زه نُۀ | شته چې وكُ | ري لا سُو | نه - - - |

|دوم ره به يادُ | سا چې بُل | پۀ کا ښو وُ | - - - |

|پر مخ د زمُ | كې هر س ړُے | ل ري لا سُو | نه - - - |

| لۀ دې ره وُخ | ته يو لۀ بُ | له ګي له مُن | دي - - - |

| ز ما در وېُش | ت شه ل مُن | س خي لا سُو | نه - - - |

۱ - - - - - - - - ۲ - - - - - - - ۳ - - - - نیمګړے رکن

مونږه وينو چې پۀ دې تقطيع کښې د پاي رکن نه اخيريني درې (څوارلسم ، پنځلسم او شپاړسم) سپلابونه غورځېدلي دي نو پۀ دې وجه د پاي رکن نه يو سپلابيز نيمګړے رکن جوړ شو۔ د دې ښاخ مصرعه ديارلس (۱۳) سپلابه راغله او خجن سپلابونه پکښې څلورم ، اتم او دولسم دي۔

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ - پنځم اوږد رکني بحر ( لورم اخ) : د

پنځم اوږد رکني بحر تر ټولو وړه (لنډه) مصرعه د لومړي ښاخ پنځه (۵) سپلابیزه مصرعه ده ، دغسې دوې پنځه سپلابیزې مصرعې چې یوه پۀ بلې پسې کړې شي نو د دې څلورم ښاخ غبرګه لس (۱۰) سپلابیزه مصرعه ترینه جوړېږي -

څنګه چې د نورو ژبو شاعرانو د رباعي (څلوریزې) د پاره بحرونه ځانګړي کړي دي هم دغه رنګ زمونږ کلاسیکي شاعرانو پۀ پښتو کښې دغه بحر د رباعي دپاره ټاکلے دے خو د دې سره سره مونږ پۀ دې بحر کښې نظمونه او غزلې هم لرو -

OWNED BY 0300 9792115

د محمد نوازخان طائر د یوۀ نظم (طوفان را ) ، چې پۀ هم دغه بحر کښې دے، څخه لومړي پنځۀ شعرونه عرض کوم :

هله تا دي کړه ، ګوره باران دے
شابه مړدي کړه ،ګوره طوفان دے
لږ شان نظر کړه ، اسمان پړقېږي
دغه استازے ، د زول باران دے
بزد له پاسه ، اوس خو بیدار شه
د اسمان تندر ، ماتې تمبې کړې
قبلې ته ګوره ، تو رې وریځې
بیرغ پۀ لاس کښې ، دي را روانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ کړو وروځو ، کښې يې ورا دے

پکښې سېلاب دے، ترېنه امان دے

د دې ښاخ پهٔ قالب کښې اوس دغه شعرونه د تقطيع د پاره اچوم :

| ۱ ۲ ۳ ۴ | ۵ ۶ ۷ ۸ | ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ | ۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۶ |

| ه له تا دي | کړه - - - | کو ره با ران | دے - - - |

| شا به مړ دي | کړه - - - | کو ره طو فان | دے - - - |

| لړ شان ن ظر | کړه - - - | اس مان پر ق | ږي - - - |

| د غه اس تا | زے - - - | د زول با ران | دے - - - |

| بز د له پا | سه - - - | اوس خو بي دار | شه - - - |

| د اس مان تن | در - - - | ما تې تم بې | کړي - - - |

| قب لې ته ګو | اره - - - | تو رې ور يئ | ځې - - - |

| بې رغ پهٔ لا | س کښې - - - | دي را ر وا | نې - - - |

| پهٔ ک ړو ورو | ځو - - - | کښې يې ورا نړ | دے - - - |

| پ کښې سې لا | ب دے - - - | ترې نه ا مان | دے - - - |

۱ ــ نيمګړے رکن ــــــ ۲ ــــ نيمګړے رکن

پهٔ دې قالب کښې مونږ ګورو چې څلورم او دريم رکن اول او دريم ځل پهٔ پوره شکل کښې تکرار شوے دے خو پهٔ دويم او څلورم ځل پهٔ نيمګړي شکل کښې - لکه څنګه چې د تقطيع د قالب نه ښکاره ده 'دا مصرعه يوه غبرګه مصرعه ده - د وېنا پهٔ وخت به

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکي پۀ پنځم سپلاب لږ وقفه کوي بيا به مخکښې پاتې مصرعه وايي- داسې مصرعه پۀ روا نه وېنا کښې خپل ابلاغ نۀ شي کولې - پۀ قالب کښې يې خجن سپلابونه ځلورم او دولسم دي خو د وېنا پۀ وخت به يو خجن سپلاب ځلورم او بل نهم شي -

## ۵ - پنځم اوږد رکني بحر (پنځم ماخ)

د پنځم اوږد رکني بحر تر ټولو وړه (لنډه) مصرعه د لومړي ښاخ پنځۀ (۵) سپلابيزه مصرعه ده ، دغسې دوې پنځۀ سپلابيزې مصرعې چې يوه پۀ بلې پسې کړې شي نو د ځلورم ښاخ غبرګه لس (۱۰) سپلابيزه مصرعه ترېنه جوړېږي اوس چې داغبرګه لس (۱۰) سپلابيزه مصرعه يو ځل بيا غبرګه کړې شي نو د دې پنځم ښاخ شل (۲۰) سپلابيزه مصرعه ترېنه جوړېږي - نن صبا پۀ نوي کهول کښې ، د غزل پۀ لړ کښې د شل سپلابيزو مصرعو جوړولو رجحان پۀ زياتېدو دے -

OWNED BY 0300 9792115

اوس پۀ دې ښاخ کښې شوے د ادريس خان ادريس د غزل نه څو شعرونه وړاندې کوم :

(c) ketabton.com: The Digital Library



لۀ دې ماحوله لۀ دې رواجه ساه مې ډوبېږي د ژوند پۀ لارکښې

د ګل پشانې هر يو ارمان مې وينم رېژېږي د ژوند پۀ لارکښې

مينه پۀ لرے او نزدے نۀ ده څۀ که جدا شو مونږ يو تر بله

زړۀ کښې ساتم دې زړۀ کښې ساته مې وخت به تېرېږي د ژوند پۀ لارکښې

تا خو به وېل چې دا کېدے نۀ شي چې تا زۀ پرېږدم تنها جنانه

نن راته وايې پۀ نيمه لارکښې لارې دوې کېږي د ژوند پۀ لارکښې

جنانه راشه د خداې دپاره زړۀ مې درزېږي پۀ ځان يرېږم

هسې نه مړ يم چې تۀ رادرو حادثې کېږي د ژوند پۀ لارکښې

ادريسه ورشه جنان خبر کړه چې درومي دومره پۀ سفر لرے

بيا دې قسمت دے چې څۀ رادرومي څۀ را پېښېږي د ژوند پۀ لارکښې

## لاندې د ادريس د غزل تقطيع کوم ؛

OWNED BY 0300 9792115

|١ ٢ ٣ ۴ |۵| ۶ ٧ ٨ ٩ |١٠|| ١١ ١٢ ١٣ ١۴| ١۵ |١۶ ١٧ ١٨/١٩|٢٠|

الۀ دې ماحُوالها لۀ دې رواُاجها ا ساه مې ډوبُېا ږيا د ژوند پۀ لُاراکښېا

اد ګل پ شُا انې اهريوارمُان امې ا اوي نم رې ژُې اږي اد ژوند پۀ لُارا کښې ا

امي نه پۀ لُا رےاو نز دےنُۀا دها اڅۀ که ج دااشوامونږ يو تر بُ ا لها

ازړۀ کښې ساتُم ادې ازړۀ کښې ساتُه امې اوخت به تې رُې اږي ادژوند پۀ لُارا کښې ا

اتا خو به وُېل اچې اداکې دے نُۀاشي ا اچې تا زۀ پرېږُا دم اتن هاج نُانها

انن را ته وُاايې اپۀ ني مه لُاراکښې ا الا رې دوې کُې اږي اد ژوند پۀ لُاراکښې ا

اج نا نه رُا اشه ا د خداې دپُا رها ا زړۀ مې در زُې اږي اپۀ ځان ي رُې اږم ا

اه سې نه مُړ ايم اچې تۀ راد رُوا ا احا د ثې کُې اږي اد ژوند پۀ لُاراکښې ا

اادري سه ورُاشه اج نان خ بُرا کړها اچې درو مي دُوم ارها پۀ س فر لُا رے ا

ابيا دې قس مُت ادے اچې څۀ رادرُو امي ا اڅۀ را پې ښُې اږي ادژوند پۀ لُار کښې ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چونکه د دې ښاخ مصرعه اوږده ده نو پۀ قالب کښې مو د نیمګړي رکن د یوۀ سپلاب دپاره فقط یوه هندسه رکن جوړکړے دے لکه | ۵| ، | ۱۰| ،| ۱۵ | ، او | ۲۰ | - مونږ به د ځان سره دا خبره پۀ ذهن کښې یاده ساتو چې د یوې هندسې رکن نه درې سپلابونه غورځېدلي دي -

پۀ دې تقطیع کښې دا هم ښکاره شوه چې ځلورم اوږد رکن پۀ پوره توګه هم ځلور ځله تکرار شوے دے او هم دغه رکن بیا پۀ نیمګړي صورت کښې هم ځلور ځله تکرار شوے دے- د دې ښاخ مصرعه شل سپلابه راغله او خجن سپلابونه یې ځلور (ځلورم،نهم،څوارلسم ، ا و نولسم) دي- د دې بحر پۀ ځلورم ښاخ کښې خجن سپلابونه دوه وو -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډ رکني بحرونه

کوم بحرونه چې لۀ لنډو (درې سپلابيزو) رکنونو |ا ۲ ۳ |
څخه جوړېږي هغوي ته لنډ رکني بحرونه وايي - د دغو بحرونو هم شمېر کم دے او هم يې کارونه - د پښتو پۀ ټولې شاعرۍ کښې د دغو بحرونو کارونه پۀ اوږو کښې د مالګې برابره هم نۀ ده - د دغو رکنونو پۀ تکرار سره چې کوم "اهنګ" پيدا کېږي هغه لۀ ساده وېنا نه ډېر لرے دے نو ځکه پۀ دغو بحرونو ژبه اړول لږ ګران وي پۀ خلاف د اوږد رکني بحرونو چې پۀ هغوي باندې ژبه پۀ اسانه روانېږي -

بحرونو ته د نومونو ورکولو پۀ لړ کښې دې ته کتنه کېږي چې خجن سپلاب يې څويم دے او رکن پکښې کوم يو را دے - پۀ دې وجه پېل لۀ هغه بحره څخه کېږي چې لومړے سپلاب يې خجن وي - پۀ دغسې بحر کښې رکن هم لومړے راځي نو نوم هم د لومړي بحر ورکوو:

## لومړے لنډ رکني بحر

تر نزدې ماضي پورې لومړي لنډ رکن ته خالي رکن او بحر ته يې خالي بحر ويئل کېدل ولې چې دا رکن د عروضو د پوهانو تر نظره نۀ وو تېر شوے - هر علم د ارتقا تر مدارجو لۀ تېرېدو پس وده مومي يعني پوهه يا علم جمود نۀ قبلوي - د علم د دې ارتقا يې فطرت لۀ کبله د علمِ عروض پۀ لړ کښې نوے دريافت داهم دے چې اوس لومړے لنډ رکن او هم يې بحر موند شوے دے -

OWNED BY 0300.9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بحر د لومړي لنډ رکن |ا ۲ ۳| چې لومړے سپلاب یې خجن دے د تکرار څخه جوړېږي - د دې رکن دویم او دریم سپلابونه سپک وي - د رکن د تکرار پۀ لحاظ د دې بحر دري ښاخونه دي او هر یو ښاخ یې د یوۀ سپلاب نیمګړے رکن هم غواړي-

ا - ~~لومړے لنډ رکنې بحر (لومړے ښاخ)~~ : پۀ دې ښاخ کښې لومړے لنډ رکن |ا ۲ ۳| پۀ پوره توګه دوه ځله تکرار کېږي او پۀ اخیر کښې د یوۀ سپلاب نیمګړے رکن هم غواړي - مصرعه یې اووۀ (۷) سپلابونه لري او خجن سپلابونه پکښې لومړے ، څلورم او اووم وي-

OWNED BY 0300 9792115

د بېلګې پۀ طور پۀ دې رکن جوړ شوي د محمد نور څلور شعرونه پېش کوم :

خوند کوي چین پۀ جبین د نګار
سوال نۀ جواب وي نۀ دار و مدار
وران به کړي واړه پۀ جل جل جل
زلفې لري ا لول- و ل- و ل
ماه د فلك دے که جن که ملك
لمر که قمر که سما که سمك
پا تې به شي یو ځل ځل ځل
زلفې لري- ا لو ل- و ل -و ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د باندینیو شعرونو څخه دوه شعرونه ( دویم او څلورم) د لړ بدلون سره لیکم چې هره مصرعه یې اووۀ سېلابه اوږده وي او د قاعدې تر مخه پۀ دې لومړي ښاخ کښې ځلي شي:

وران به کړي واره پۀ جل

زلفې لري الو ول

پاتې به شي پۀ یو ځل

زلفې لري الو ول

مونږه ګورو چې دا مصرعې پۀ لومړي خجن سېلاب شروع شوې دي ، اووۀ اووۀ سېلابونه لري ، هر دریم سېلاب (لومړے ، څلورم او اووم) یې خجن دے او هره مصرعه اووۀ (۷) سېلابونه لري - اوس دغه شعرونه د عروضوپۀ قالب کښې اچوم :

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ورُان | به | کړي | وُا | ړه | پۀ | جُل | - | - |
| زُل | فې | ل | رُي | ا | لو | وُل | - | - |
| پُا | تې | به | شُي | پۀ | یو | ځُل | - | - |
| زُل | فې | ل | رُي | ا | لو | وُل | - | - |

۱ ۲

نیمګړے رکن

OWNED BY 0300-9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ - ~~لومړے لنډ رکني بحر (دويم ښاخ)~~ : په دې ښاخ کښې لومړے لنډ رکن | ۱ُ ۲ ۳ | په پوره توګه درې ځله تکرار کېږي او په اخير کښې د يوۀ سِپلاب نيمګړے رکن هم غواړي - مصرعه يې لس (۱۰) سِپلابونه لري او خجن سِپلابونه پکښې لومړے ، څلورم ، اووم او لسم وي -

اوس د لومړي لنډ رکني بحر په شروع کښې ليکلې شوو د محمد نور څلورو شعرونو څخه دوه شعرونه (لومړے او دريم) يو ځل بيا دلته وړاندې کوم ، کوم چې په هم دغې دويم ښاخ کښې دي :

خوند کوي چين په جبين د نګار
سوال نۀ جواب وي، نۀ دار و مدار
ماه د فلک دے که جن که ملک
لمر که قمر که سما که سمک

د لوستلو نه پس دا شعرونه د دې ښاخ په عروضي پيمانه ګزوم :

| ۱ُ ۲ ۳ | ۴ُ ۵ ۶ | ۷ُ ۸ ۹ | ۱۰ُ ۱۱ ۱۲ |
| خوُند ک وي | چِين په ج | بِين د ن | ګار – – |
| سوُال نۀ ج | وُاب وي نۀ | دُا رو م | دُار – – |
| مُاه د ف | لُک دے که | جُن که م | لُک – – |
| لمُر که ق | مُر که س | مُا که س | مُک – – |

۱ ۲ ۳نيمګړے رکن

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باندیني بحث په رڼا کښې د تقطیع دې تجربې ته که په غور سره وګورو نو دا شعرونه د دغې ښاخ په معیار پوره پرېوځي -

۳ - ~~لومړے لنډ رکنې بحر (دریم ښاخ)~~: په دې ښاخ کښې لومړے لنډ رکن | ۱ ۲ ۳ | په پوره توګه څلور ځله تکرار کېږي او په اخیر کښې د یوۀ سپلاب نیمګړے رکن هم غواړي - مصرعه یې دیارلس (۱۳) سپلابونه لري او خجن سپلابونه پکښې لومړے ، څلورم ، اووم ، لسم او دیارلسم دي -

اوس د محمد نور په پورتنیو دوو (لومړے او دریم) شعرونو کښې لږ داسې بدلون راولم چې مصرعې یې تر دیارلس سیلابونو پورې اوږدې شي :

OWNED BY 0300 9792115

خوند کوي چین په جبین د نګار همېشه
سوال نۀ جواب وي نۀ دار و مدار همېشه
ماه د فلک دے که جن که ملک دے جنان
لمر که قمر که سما که سمک دے جنان

اوس د دې ښاخ په رکنونو کښې د دغو شعرونو تقطیع کول دي -

|۱ ۲ ۳|۴ ۵ ۶|۷ ۸ ۹|۱۰ ۱۱ ۱۲|۱۳ ۱۴ ۱۵||

|خونـ د ک وي|چین په ج|بین د ن|ګار ه مې|شه - -|

|سوال نۀ ج|واب وي نۀ|دار و م|دار ه مې|شه - -|

(c) ketabton.com: The Digital Library



ا ماه د ف ا لُک دے که ا جُن که م ا لُک دے ج اُنان - - ا

ا لمُر که ق ا مُر که س ا مُا که س ا مُک دے ج ا نُان - - ا

ا ۲ ۳ ۴ نیمګړے رکن

پهٔ دې تقطیع کښې دا صفا لیدے شي چې هره مصرعه دیارلس (۱۳) سپږلابونه لري - خج یې د لومړي سپږلاب نه شروع کېږي او بیا یې هر دریم سپږلاب خجن دےپهٔ هره مصرعه کښې لومړے لنډ رکن پهٔ پوره توګه څلور ځله تکرار شوے دے او پهٔ اخیر کښې د یوهٔ سیلاب پهٔ نیمګړي صورت کښې را دے-

OWNED BY 0300 9792115

## دویم لنډ رکني بحر

دا بحر د دویم لنډ رکن ا ا ۲ ۳ ا چې دویم سپږلاب یې خجن دے ، د تکرار څخه جوړېږي- د دې رکن لومړے او دریم سپږلابونه سپک وي - د رکن د تکرار پهٔ لحاظ د دې بحر درې ښاخونه دي- دا دویم لنډ رکن چې څو ځله هم پهٔ مصرعه کښې تکرار کېږي نو پهٔ پوره توګه تکرار کېږي او نیمګړے رکن نهٔ غواړي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ - دويم لنډ رکني بحر ( لومړے ښاخ): په دې ښاخ کښې

دويم لنډ رکن په پوره توګه دوه ځله تکرار کېږي او نيمګړے رکن

هم نۀ غواړي د دې ښاخ مصرعه شپږ (۶) سېلابه وي خو پنځۀ (۵)

سېلابه هم کېدې شي- خجن سېلابونه يې دويم او پنځم دي - اوس

په دې ښاخ کښې شوے يو خپل غزل وړاندې کوم :

هغه نۀ څۀ کار کړي

نۀ کار نه انکار کړي

هر کار نه اسان دے

تنقيد چې بسيار کړي

د غم استقبال کښې

خوشي کله بار کړي

اغيارنه به څوک کړي

ګيله يار لۀ يار کړي

سالک بيړندے دے

خو وار ته به وار کړي

OWNED BY 0300 9792115

د لوستلو نه وروستودا غزل د تقطيع د پاره د دې ښاخ په

رکنونو کښې اچوم ؛

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |

| ه غُه نۀ | څۀ کُار کړي |

| نۀ کُار نه | ان کُار کړي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| هر کُار نه | ا سُان دے |
| تن قیُد چې | بس یُار کړي |
| د غُم اس | تق بُال کښې |
| خو شُي ك | ډه بُار کړي |

| اغ يُار نه | به څُوك کړي |
| کي لُه يار | لهٔ يُار کړي |
| سا لكُ بيُ | ړن دُے دے |
| خو وُار ته | به وُار کړي |

ا-------۲

OWNED BY 0300 9792115

۲ - دويم لنډ رکني بحر ( دويم ښاخ): پهٔ دې ښاخ کښې دويم لنډ رکن پهٔ پوره توګه درې ځله تکرار کېږي او نيمګړے رکن هم نهٔ غواړي - ددې ښاخ مصرعه نهٔ (۹) سېلابه وي خو اتهٔ (۸) سېلابه هم کېدې شي - خجن سېلابونه يې دويم ، پنځم او اتم دي - پهٔ دې ښاخ کښې شوے خپل يو غزل وړاندې کوم ، پس لهٔ لوستلو به يې د دې ښاخ پهٔ رکنونو کښې تقطيع کوم:

يو ځل چې را ضي شي جنان بيا
د قرب مساوي شي هجرا ن بيا
چې غم شي د زغم نه با هر نو
ضرور سو د ا يي شي ا نسان بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ذوق او اخلاص را پیدا شي
په عشق کښې کافي شي سامان بیا
چمن مې لهٔ تند ې و چېړ ي
مګر که ساقي شي ا سمان بیا
سالک د زرهٔ ملک جوګه نهٔ دے
پکښې چې جاري شي بحران بیا

اوس یې د دې بناخ په رکنونو کښې ځایوم ؛
| ۱ ٬ ۲ ٬ ۳ | ۴ ٬ ۵ ٬ ۶ | ۷ ٬ ۸ ٬ ۹ |

| یو ځُل چې | را ضُي شي | ج نُان بیا |
| د قُرب م | سا وُي شي | هج رُان بیا |
| چې غُم شي | د زغُم نهٔ | با هُر نو |
| ض رُور سوا | دا یُي شي | ا ن سُان بیا |
| چې ذُوق او | اخ لُاص را | پي دُا شي |
| په عُشق کښې | کا فُي شي | سا مُان بیا |
| چ مُن مې | لهٔ تُن دې | و چُې ړي |
| م ګُر که | سا قُي شي | ا س مُان بیا |
| سا لُک د | زرهٔ مُلک | جوا ګه نهٔ دے |
| پ کُښې چې | جا رُي شي | بح رُان بیا |
۱ــــــــــــ۲ــــــــــــ۳

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - ~~دویم لنډ رکني بحر ( دریم ښاخ)~~ : په دې ښاخ کښې دویم لنډ رکن په پوره توګه څلور ځله تکرار کېږي او نیمګړے رکن هم نهٔ غواړي - ددې ښاخ مصرعه دولس (۱۲) سېلابه وي خو یولس (۱۱) سېلابه هم کېدې شي- خجن سېلابونه یې دویم ، پنځم ، اتم اویولسم دي - اوس په دې ښاخ کښې د امر دین شاعر لهٔ یوې اولسي سندرې څخه پنځهٔ مصرعې دلته را اخلم :

غریب ا مر دینه یغبا ل دي کوټه شو
چې یار نازنین اوس لهٔ تا بېګا نه شو
ساقي رخصت راکړ چې څه مېخانې ته
مطرب حوا له کړم سارنګ و طبلې ته
بلبل ر و انه کړمه با غ و باغچې ته

OWNED BY 0300 9792115

اوس یې د عروضو په رکنونو کښې اچوم ؛

| ۱ ۲ ۳ | ۴ ۵ ۶ | ۷ ۸ ۹ | ۱۰ ۱۱ ۱۲ |

|غ ریب ا | مر دي نه | یغ بال دي | کو ټه شو |
|چې یار نا | ز نین اوس | لهٔ تا بې | ګا نه شو |
|سا قي رخ | صت را کړ | چې څه مې | خا نې ته |
|مط رب ح | وا له کړم | سا رنګ و | طب لې ته |
|بل بل ر | وا نه کړ | مه باغ و | باغ چې ته |

۱-------۲-------۳-------۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم لنډ رکني بحر

دا بحر د دریم لنډ (درې سپلابیز) رکن | ۱ ۲ ۳ُ | چې دریم سپلاب یې خجن وي ، د تکرار څخه جوړېږي - د اخیر رکن نه یې دوه سپلابونه غورځېږي نو نیمګړے رکن یې تش د یوۀ سپلاب پا شي -

کله چې مونږ د یوۀ بحر تر ټولو لنډ یا لومړے ښاخ معلومول غواړو نو د هغۀ بحر د یوۀ پوره رکن او بل د نیمګړي رکن سپلابونه سره جمع کوو - د دغې اصول لۀ مخې اوس چې د دریم لنډ رکني بحر تر ټولو لنډ یا لومړے ښاخ جوړوو نو چې د یوۀ پوره رکن (درې سپلابیز) او بل د یوۀ سپلاب نیمګړي رکن سپلابونه سره جمع کړو نو څلور سپلابونه لاس ته راځي او هغه هم پۀ دې ډول چې پۀ دې څلورو سپلابونو کښې دریم سپلاب خجن وي اوس ستونځه دا ده چې د دریم اوږد رکني بحر د لومړي ښاخ جوړښت هم داسې دے چې پۀ څلور سپلابه مصرعه کښې یې دریم سپلاب خجن وي - د دغو دواړو جلا جلا بحرونو د مصرعو عروضي جوړښت به پۀ یوۀ شان داسې وي :

| ۱ ۲ ۳ُ ۴ |

اوس به دا ابهام پیدا کېږي چې یوه خاصه مصرعه مونږ د کوم بحر وشمارو ؟

د دې ستونځې د هوارولو د پاره دا اصول وضع کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوے دے چې د دريم لنډ رکني بحر د لومړي ښاخ پۀ جوړولو کښې به دريم لنډ رکن دوه ځله پۀ پوره توګه او يو ځل پۀ يوۀ سيلابيز د نيمګړي شکل پۀ توګه تکرار کېږي نو بيا به د دې ښاخ مصرعه اووۀ (۷) سېلابه راشي او د دريم اوږد رکني بحر سره به يې توپير (فرق) ښکاره شي -

ا - ~~دريم لنډ رکني بحر (لومړے ښاخ)~~: د پورتني بحث پۀ رڼا کښې د دې ښاخ مصرعه د دريم لنډ رکن |ا ۲ ۳| چې دريم سېلاب يې خجن وي ، د تکرار څخه جوړېږي - دا ذکر شوے رکن دوه ځله پۀ پوره ډول او يو ځل پۀ يوۀ سېلابيز نيمګړي ډول تکرار کېږي - مصرعه يې اووۀ (۷) سېلابه اوږده وي او خجن سېلابونه

OWNED BY 0300 9792115

پکښې دريم او شپږم وي- پۀ دې ښاخ کښې شوے يو خپل غزل د لوستلو دپاره پېش کوم :

د اقا ستا مقام دے
د زما د غلام دے
چې مريد د مراد شم
د طلب مې انجام دے
ګناه ګار مقتدي يم
محبت مې امام دے
اوس توبه شوه راياده
دځواني چې مابنام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالکٓ يارته اشعارکښېږي
ور لېږي سلام دے

د لوستلو نه پس يې اوس د دې ښاخ په عروضي سانچه
کښې اچوم :

|١ ٢ ٣ُ | ۴ ۵ ٦ُ |٧ ٨ ٩ُ |

|د ا قاُ |ستا م قاُم |دے - - |

|د ز مٰاُ |د غ لاُم |دے - - |

|چې م رېُد |د م راُد |شم - - |

|د ط لبُ |مې ان جاُم |دے - - |

|ګ ناه ګاُر |مق ت دي |يم - - |

|م حب بتُ |مې ا ماُم |دے - - |

|اوس تو بهُ |شوه را يُا |ده - - |

|د ځوا نيُ |چې ما ښاُم |دے - - |

|سا لک ياُر |ته اش عاُر |کښېږي - - |

|ور لې ږُ |س لاُم |دے - - |

ا-------٢------نيمګړے رکن

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ - ~~دریم لنډ رکني بحر ( دویم ښاخ)~~

بحرِ خفیف د عربي عروضو د مرکب بحرونو څخه یو مشهور بحر دے - دا بحر د وعظ او اخلاقي مضمونونو د پاره زیات مشهور دے-د بحرِ خفیف سالم وزن داسې دے:

فاعلاتن مستفعلن فاعلاتن

د دې بحر سالم وزن کم او زحافات یې زیات استعمال کېږي - د دې بحر یولس وزنونه دي -

دا بحر د مسدس (یوه مصرعه کښې درې او دوو مصرعو کښې شپږ رکنونه) په صورت کښې زیات کارو کېږي - د عروضو د تصور نه مخکښې د پښتو کوم شعرونه چې په بحرِ خفیف کښې لیکلي شوي وو هغه نن د پښتو خپلو عروضو د " دریم لنډ رکني بحر" په دویم ښاخ کښې راځي لکه د دولت لواڼي له یوه غزل نه اخیستې شوې دا مصرعه :

دا جهان دے په مثل بهار

د دې ښاخ مصرعه د دریم لنډ رکن |۱ ۲ ۳ُ | چې دریم سېلاب یې خجن وي ، د تکرار څخه جوړېږي - دا ذکر شوے رکن درې ځله په پوره ډول او یو ځل په یوه سېلابیز نیمګړي ډول تکرار کېږي، مصرعه یې لس (۱۰) سېلابه اوږده وي او خجن سېلابونه یکښې دریم ، شپږم او نهم وي- په دې ښاخ کښې اولسي سندرې هم ویئلې شوي دي- دلته د نمونې په حېث د حاجي استرانه بلوچستاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سندرۍ څخه لوم ړۍ نيمه برخه را اخلم :

بلبلان نن پر لور د بوستان ځي
د بهار موسم را خزان ځي
بورا ګان نن د ګل کړي سپلونه
عندليب پهٔ باغچې کښې خندان ځي
طبيبان د عا لم سو بې خوند ه
لهٔ علاج يې واپس بيما ران ځي
د ترکانو پر ملک لوي خطر دے
نن عراق ځي کابل ځي اېران ځي
پهٔ دنيا کښې هر خوا خرخشې دي
ټول قومونه د جنګ پر ميدان ځي

OWNED BY 0300-9792115

د سندرۍ دا برخه د دې ښاخ پهٔ عروضي ساخت کښې ګورم :

| ١ ٢ ٣ ٗ | ٤ ٥ ٦ ٗ | ٧ ٨ ٩ ٗ | ١٠ ١١ ١٢ ٗ |

| بل ب لُان | نن پر لُور | د بوس تُان | ځي - - |
| د ب هُار | مو سم رُا | خ زُان | ځي - - |
| بو را ګُان | نن د ګُل | کړي سپ لُو | نه - - |
| عن د ليُب | پهٔ باغ چُې | کښې خن دُان | ځي - - |
| ط بي بُان | د عا لُم | سو بې خوُن | د ه - - |
| لهٔ ع لُاج | يې وا پُس | بي ما رُان | ځي - - |
| د تر کُا | نو پر مُلک | لوي خ طُر | دے - - |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| نن ع رُاق | ځي کا بُل | ځي اې رُان | ځي - - |
| پۀ دن يُا | کښې هر خوا | خر خ شپُ | دي - - |
| ټول قو مُوا نه د جُنګ | پر مي دُان | ځي - - |
| ۱ــــــــــــــــــ۲ـــــــــــ۳ـــــ نيمګړے رکن

۳ - ~~دريم لنډ رکني بحر ( دريم ښاخ)~~ : د دې ښاخ مصرعه د دريم لنډ رکن |۱ ۲ ُ ۳ | چې دريم سپِلاب يې خجن وي ، د تکرار څخه جوړېږي - دا ذکر شوے رکن څلور ځله پۀ پوره ډول او يو ځل پۀ يوۀ سپِلابيز نيمګړي ډول تکرار کېږي، مصرعه يې ديارلس (۱۳) سپِلابه اوږده وي او خجن سپِلابونه پکښې دريم ، شپږم، نهم او دولسم وي- پۀ دې ښاخ کښې غزل هم شتون لري او نظم هم - پۀ دې ښاخ کښې لکلې شوې د درويش دراني د يوې سندرې څخه سر بيت او دوه بندونه را اخلم :

تۀ مې ګل زۀ بلبل، ستا د مخ صفت وايم
تۀ د بل شوے جنانه خو زۀ به تل ستا ،يم
ستا دلارې اغزي پۀ خپل زړۀ کښې رانغاړم
چې وي ستا پر نامه ، پۀ هر هغه درد وياړم
د ملا ل پۀ دا حا ل سرو کال زۀ رضا يم
دا خبره تر لمر هم رو ښانه د ه ما ته
چې غوږ نۀ تۀ زما شور او غوغا ته

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو درویش به همېش بیا هم داسې لګیا یم
ته د بل شوې جنانه خو زهٔ به تل ستا، یم
اوس به دا سندره د دې ښاخ پهٔ عروضي چوکاټ کښې د
ځایولو کوشش هم وکړم :

|۱ ۲ ۳ُ|۴ ۵ ۶ُ|۷ ۸ ۹ُ|۱۰ ۱۱ ۱۲ُ|۱۳ ۱۴ ۱۵ُ |

|تهٔ مې ګُل|زهٔ بل بُل|ستا د مُخ|ص فت واُ|یم - - |
|تهٔ د بُل|شوې ج نُا|نه خو زهُٔ|به تل ستُا|یم - - |
|ستا د لُا|رې اغ زُي|پهٔ خپل زرُهٔ|کښې ران غُا|ړم - - |
|چې وي ستُا|پر نا مُه|پهٔ هر هُ|غه درد وېُا|ړم - - |
|د م لُال|پهٔ دا حُال|س رو کُال|زهٔ ر ضُا|یم - - |
|دا خ بُ|ره تر لمُر|هم رو ښُا|نه د ه مُا|ته - - |
|چې غوږ نُهٔ|ني تهُٔ|ز ما شُور|او غو غُا|ته - - |
|خو در وېُش|به ه مېُش|بیا هم دُا|سې لګ یُا|یم - - |
|تهٔ د بُل|شوې ج نُا|نه خو زهُٔ|به تل ستُا|یم - - |
۱-------۲-------۳------۴-----نیمګړې رکن

ناویئلي دې پا نهٔ وي چې د ټپې دویمه مصرعه هم
دیارلس (۱۳) سېلابونه لري او دا لنډ رکني دریم ښاخ هم ؛ خو د ټپې
دویمه مصرعه پهٔ دې ښاخ کښې ځکه نهٔ ځائیږي چې د هغې خجن
سېلابونه بېل دي ا و د دې ښاخ بېل دي -

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخذ لیک یاکتابیات (Bibliography)

۱ -عروض و بدیع ، ډاکټر صابر کلوروي (شعبۂ اردو پېښور یونیورسټي) ۲۰۰۱ ء علمي کتابخانه اردو بازار لاهور-

۲ -اصنافِ ادب ، رفیع الدین هاشمي ، سنگ میل پبلیکېشنز لاهور-

۳ - جوهرِعروض (اردو)، ۱۹۶۷ ء اغا صادق حسین،کوټه-

۴ _ پښتو عروض ، درویش دراني ، ۲۰۰۷ ء ، صحاف نشراتي مؤسسه کراچي-

۵- پښتو بدلمېچ ، دویم چاپ ۲۰۱۰ ء ، دوکتور مجاوراحمد زیار ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور-

۶- د پښتو ژبې او ادب تاریخ ۲۰۰۶ ء (ایم اې پښتو او سي ایس ایس لپاره) ، پروفیسر حنیف خلیل، یونیورسټي پبلیشرز قصه خوانی پېښور-

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library




۷- علم و ادب ، ۲۰۱۲ ء ، مقدر شاه مقدر، نیوز اېجنسي جمرود نیو مارکیټ -

۸- چاربېته (pdf file) ، شیرین یار یوسفزے ، ناچاپ نثر ۲۰۱۱ ء،
www.pukhto.net/ebook-journal.php%3Fmain-ebook-id%3D1

۹- د پښتو املاء (څوارلس حرفونه دوه ویشت اوازونه) ، منتظر بېټنے ، پرمختګ بنو ۲۰۱۲ ء-

۱۰- پښتو قاعده (د اول ادنٰی د پاره)،خیبر پښتونخوا ټېکسټ بک بورډ پېښور، پښتوقومي نصاب ۲۰۰۹ ء-

۱۱- د پښتو عروض ، میاشرف ، پښتوټولنه کابل، ۱۳۴۴ل -

۱۲ - مخزن ، اخوند دروېزه باباؒ ، دویم اېډیشن ، پښتو اکېډمي پېښور ۱۹۸۷ ء
-

۱۳ - د خوشال خان خټک کلیات


OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



،دانش خپرندویه ټولنه ۲۰۱۰ ء /۱۳۹۱
ل -
۱۴- دیوانِ عبدالرحمان بابا مومند ، تاج
محل کمپني محله جنګي قصه خوانی
، پېښور
۱۵- رنګونه بهارونه ، ۲۰۰۷ ء ، غازي
سیال ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور -
۱۶ - اکسفورډ اېډوانسډ لرنرز ډکشنري
،څلورم اېډيشن ۱۹۸۹ ء ، اکسفورډ
یونیورسټي پرېس -
۱۷ - شعري غورچاڼ ، انتخاب ،
۲۰۰۷ ء ، خورو عمردراز مروت،
دانش خپرندویه ټولنه -
۱۸ - وفا ، پروفېسر رحمت الله درد ،
۲۰۱۰ ء، دانش خپرندویه ټولنه پېښور -
۱۹ - غزو ، امیرحمزه خان شینواري ،
حمزه اکېډمي ، څوارلسم اېډيشن
۲۰۱۰ ء، جدون پرنټنګ پرېس پېښور -
۲۰ - سرچینه ، جاوېد احساس ، اول

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل ۲۰۱۰ ء ، المیزان پبلشرز لاهور-

۲۱ - بنګالی سندرې ، د قاضي نذرالاسلام نظمونه پهٔ پښتو ژبه ، ۱۹۶۴ ء، محمد نواز خان طائر، پښتو اکېډمي ، خیبر مېل پرېس پېښور -

۲۲- د مینې غېږ،طاهر کلاچوي ،الجمعیه اکېډمي محله جنګي پېښور ،۱۹۹۷ ء، منظور عام پرېس پېښور-

۲۳ - ژغږغږۀ ، مؤلف بېتاب عادلوي ، ۲۰۰۶ ء، خورو تنقیدي ټولنه بنو ،العمران پرنټرز بنو -

۲۴ - مثالونه مشالونه ، شېخ نور علي نور ، ۲۰۱۳ ء، دي پرنټ مېن پرنټرز پېښور، محکمه ثقافت خیبر پښتونخوا -

۲۵ - ناچاپ شعري اثر ، عبدالسلام بېتاب

۲۶ - ناچاپ شعري اثر ، دمساز شاهین -

۲۷ - ناچاپ شعري اثر ، نقیب الله

OWNED BY 0300 9792115

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالکؔ -



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**